شپږ میاشتنۍ خپرونه

۵۵مه گڼه
تله
۱۳۹۸

په افغانستان کې د نړیوال بانک ګروپ

«د افغانستان د کلیوالي لار جوړونې پروګرام په مرسته د هېواد په کلیو او باندو کې د سړکونو په جوړولو سره د ژوند اړینو خدماتو ته خلکو لاسرسۍ آسانه شوې ده.»

۲۴ مخ

۴مخ
په افغانستان کې د نړیوال بانک ګروپ مرستې

۶ مخ
روان فعالیتونه

۳۴ مخ
د نړیوالې مالي اداري د مشورتي خدمتونو پروژه

۳۸ مخ
د افغانستان د بیارغونې صندوق

ليکلړ

په افغانستان کې د نړیوال بانک ګروپ مرستې
۴-۵ مخونه

۴ مخ
د نړیوال بانک پروژې او پروګرامونه
نړیواله مالي اداره
د ځواړخیزه پانګونو د تضمین اداره

۵ مخ
د افغانستان د بیارغونې صندوق
د جاپان د ټولنیزې پراختیا صندوق

روان فعالیتونه
۶-۳۳ مخونه

۶ مخ
معارف

۹ مخ
مالي سکتور

۱۶ مخ
روغتیا

۱۸ مخ
زیربنا

۲۴ مخ
د کلیو پراختیا

۳۲ مخ
د خدماتو وړاندې کول

۳۴ مخ
ښاري پراختیا

د نړیوالې مالي ادارې د مشورتي خدمتونو پروژه
۳۶-۳۷ مخونه

۳۷ مخ
روانې مشورتي پروژې

پاڼې ۴۰
د افغانستان په شمال کې د اصلاح

د افغانستان د بیارغونې صندوق
۳۸-۵۴ مخونه

۴۲ مخ
روانې پروژې

۲۲ پاڼې
د هوا د هر ډول حالاتو پر وړاندې

۲۸ پاڼې
کلیوالي غذایي بانکونه د بېوزلو خلکو

۴۶ پاڼې
نوی معلوماتی مرکز د تلیفون له لارې

د مالي مرستو نوې ټولګه چې ډیجیټلي تادیات، د ځمکو اداري سیستم او پالیسي جوړونه پیاوړې کوي

نوې وړیا مالي مرستې به د لاندې پروژو ملاتړ کوي:

د افغانستان د خپلسرو تادیاتو او معاشاتو د ادغام پروژې لپاره د ۴۵ میلیونه ډالر ورتیا مالي مرستې موخه د افغانستان په دولتي ادارو کې د مالي تادیاتو لپاره د یوې باوړې او شفافې زېربنا جوړول او د هغو مهمو دولتي ادارو، چې د دولتي تادیاتو مسوولیت لري، تقویه کول دي. پدې وړیا مالي مرسته کې ۱۰ میلیونه ډالر د پراختیا نړیوالې اداري او ۳۵ ملیونه ډالر د افغانستان د بیارغونې صندوق لخوا برابرېږي.

د افغانستان د ځمکو د اداري سیستم پروژې ته ۳۵ میلیونه ډالر وړیا مالي مرسته به د افغانستان د ځمکو د اداري سیستم په جوړولو کې مرسته وکړي او په ځانګړو ساحو کې به خلکو ته د ځمکو ثبتولو غوره خدمات برابر کړي. پدې مالي مرستو کې ۲۵ میلیونه ډالر د پراختیا نړیوالې اداري او ۱۰ میلیونه نور د افغانستان د بیارغونې صندوق لخوا ورکول کېږي.

د پراختیایي پالیسیو د ۲۰۱۹ تشویقي پروګرام لپاره د ۴۰۰ میلیونه ډالرو وړیا مرستې موخه د دولت د اغیزمنتوب، خصوصي پانګونې او ټولنیز شمولیت د پیاوړتیا او د عامه مالي منابعو د مدیریت لپاره د پالیسیو او بنسټیز چوکاټ تقویه کول دي.

خبرونه

مالي خدمتونو ته د لاسرسي نوي مالي ستراتیژي به د تولیداتو د کچې او کاري فرصتونو په لوړولو کې مرسته وکړي

د افغانستان بانک په وروستیو کې په هېواد کې مالي خدمتونو ته د لاسرسي یوه نوې ستراتیژي اعلان کړه. د دې ستراتیژۍ له مخې به کورنۍ او تشبثونه، چې په کلیدي برخو لکه کرنه کې په کار بوخت دي، مالي منابعو ته لاسرسی وموميي، چې له دې سره به د تولید کچه لوړه شي، کاري زمینې به رامنځته شي او عمومي اقتصاد به وده وموميي.

په افغانستان کې د نړیوال بانک دفتر په تېرو ۱۸ میاشتو کې له افغانستان بانک سره په ګډه پر مالي بنسټونو یوه ژوره څېړنه تر سره کړه چې په مرسته یې دا ستراتیژي ترتیب شوه.

د دې څېړنې له مخې، د افغانستان ۴۴ سلنه کاري ځواک په کرنې او مالداري سکتور کې په کار بوخت دی. دا سکتور د ناخالص کورنۍ تولید څلورمه برخه جوړوي، خو مالی منابعو ته د لاسرسي له مخې دا سکتور ډېخې له پامه غورځېدلی. د بانکي پورونو یوازې څلور سلنه د کرنې او مالدارۍ سکتور ته ورکړل شوې ده.

د کرنې برخې تر ټولو ډېر پورونه د کوچنیو مالي ادارو لخوا ورکول کېږي او رسمي بانکونه د کرنیز سکتور یوازې یوې محدودې برخې ته خدمات برابروي. د بانکونو په ګډون ډېرې مالي بنسټونه د کرنې سکتور په اړه کافی معلومات نلري او د دې ورتیا هم نلري چې داسې مالي بستې طرح کړي چې د کرنیزو سوداګرو لپاره مناسبې وي. ډېر کوچني، کوچني اومنځني تشبثونه، چې ډېرې یې په کرنه کې کار کوي، د ودې لپاره ستر فرصت لري ځکه همدا اوس دا سکتور ۴.۷ میلیاردو ډالرو مالي منابعو ته اړتیا لري. په نوې ستراتیژي کې د دې ستونزو ډېرو هغو ته حل لارې په نښه شوي. د دې ستراتیژي په مرسته به مالي منابعو ته په مهمو اقتصادي برخو کې لاسرسی لور شي، او د کورنیو او خصوصي سکتور لپاره به د ډیجیټلي تادیاتو او خدمتونو په ګډون رسمي مالي خدمات وده وموميي. په پالیسیو او مقرراتو کې اصلاحات هم د دې ستراتیژۍ برخه ده چې په مرسته به یې کرنیز کاروبارونه د دې جوګه شي چې په مناسبو شرایطو ارزانو مالي منابعو ته لاسرسی وموميي.

د افغانستان په کلیوالي سیمو کې ډېرو کوچنیو، کوچنیو او منځنیو تشبثونو ته د مناسبو مالي منابعو په وړاندې کولو به دوی د دې ورتیا وموميي چې کلیوالي خلکو ته کاري زمینې برابرې کړي او باوري کړي چې کرنیز توکي به په منظم ډول بازارونو ته رسېږي.

راپور له دې خایه ترلاسه کولای شئ: ***http://wrld.bg/ybTs30o1C1d***

د نړیوال بانک ګروپ مرستې

د نړیوال بانک پروژې او پروګرامونه

د نړیوال بانک د نړیوالې پراختیا ادارې له ۲۰۰۲ زېږدیز کال راپدېخوا د پراختیایي او بېرنۍ بېارغونې د پروژو او د مالي بودیجې د ملاتړ د ۶ پروګرامونو د ټمویل په موخه د له ۴.۴۸ میلیارده ډالرومرستې ژمنه کړې ده. په دې مرسته کې ۴.۱۴ میلیارده ډالر وړیا مرسته او ۴۳۶.۴ میلیونه ډالره بې سوده پور شامل دي. نړیوال بانک اوسمهال د ۹۰۸ میلیونه ډالرو په ارزښت د نړیوالې پراختیا ادارې لخوا ټمویلېدونکي ۱۰ فعالې پروژې او د افغانستان له بېارغونې صندوق سره په ګډه ټمویلېدونکي ۱۴ پروژې، چې مجموعي مالي ژمنې يې له ۲.۳ میلیارده ډالرو اوړي، لري.

د افغانستان د سولې او پراختیا مالي چوکاټ له تصویب وروسته، نړیوال بانک په دې هیواد کې په پراختیایي فعالیتونو کې پراخه ونډه اخیستې او مرسته يې کړې ده. د پالیسي او پانګونې په برخو کې د اړینو مشورو برابرول؛ چې په مهمو او بنسټیزو کلسټرونو متمرکز دي او هغه عبارت دي له: د لویو مالیاتو او ادارې جوړښتونو مدیریت، د اقتصادي ودې او کاري زمینې برابرولو په موخه له خصوصي پانګوالو څخه ملاتړ او هغوی ته د آسانتیاوو برابرول، حکومتوالي او له اداري فساد سره مبارزه، د بشري ځواک پرمختک او د خدمتونو وړاندې کول، د خلکو ګډون او جنسیتي انډول، په شاروني کې د ژوند کولو لپاره هڅونه او د بنسټونو او لویو لارو جوړولو چارې رانغاړي.

نړیوال بانک دافغانستان د دولت بودجې د ملاتړ له لارې دبنسټیزو اصلاحاتو په تطبیق کې، په ځانګړې توګه په عامه مالي او اداري چارو کې په فعاله توګه مرسته کړې ده. دکادرونو دظرفیتونو دودې ، د دولت مشروعیت، او له افغان دولت سره ټمویلوونکو هیوادو د جلب و جذب دملاتړ له لارې دا یقیني کوي چې پانکه اچونه له مالي لومړیتوبونو سره همغږې ده.نړیوال بانک تراوسه پورې له نورو ټمویلوونکو سره په ګډه له یو شمیر هغو سکټورونو سره، چې پرې د دولت مالکیت او دمرستو همغږي کول لازم دي، فعالیت کړی دی.

د بشپړوشیو پروژو په اړه د زیاتو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره د پروژو او پروګرامونو لاندې پاڼې ته مراجعه وکړئ: www.worldbank.org.af

نړیواله مالي اداره

نړیواله مالي اداره، چې د نړیوال بانک ګروپ د خصوصي سکتور د پراختیا ځانګه ده، خصوصي سکتور (په ځانګړې ډول د زیربنا، مالي، کرنیزې سوداګرۍ او خدماتو سکتورونو) ته د پانګونې د خدماتو برابرولو له لارې په افغانستان کې اقتصادي پراختیا حمایه کوي.

د پانګونې پروګرام د مشورتي خدماتو په مرسته حمایه کېږي. په مشورتي خدماتو کې مالي خدماتو ته لاسرسی، د خصوصي سکتور د حکومتوالي ښه والی، د عرضې د زنځیر پراختیا، د خوراکي توکو مصئونیت، د مالي سیستم مدیریت، چاپېریالي او ټولنیز مدیریت، د مېوو د صادراتو تقویه کول او په عامه او خصوصي سکتور کې د پانګونې په چارو کې اصلاحات چې ورسره د خصوصي سکتور د پانګونې چاپېریال تقویه شي او خصوصي سکتور وده وموميِ.

نړیوالې مالي ادارې د مالي ژمنو او پانګونو ټولټال اوسنۍ کچه څه باندې ۲۳۸ میلیونه ډالر ده، او په ورته وخت کې، د مشورتي خدماتو په برخه کې د دغې ادارې ژمنه ۱۱.۵ میلیونه ډالر ده. د یادونې وړ ده، چې د دغې ادارې پانګونو کې د مخابراتو، د کرنیزو محصولاتو سوداګرۍ او مالي بازارونو د پراختیا لپاره مالي ژمنې شاملې دي. د پانګونې لړۍ هیله بښونکې ده او په کې د انرژۍ او پوهنې پر سکتور پانګونې شاملې دي.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره ۳۴ مخ وګورئ.

د څوارځیزه پانګونو د تضمین اداره

د څو ارخیزې پانګونې د تضمین اداره په افغانستان کې د دریو پروژو لپاره ۱۵۴ ډالر د ناخالصې سرمایې په توګه لري. د ایم ټي ان مخابراتي شرکت د هیواد په حساس مخابراتي سکتور کې له نړیوال مالی اداري سره یوه ګډه هڅه ده. پاتې نورې دوه پروژې د لبنیاتو او کشمیري توکو د تولید په برخه کې مرسته کوي.

د څو ارخیزو پانګونو د تضمین اداري په لومړیتوبونو کې، د ۲۰۱۸ - ۲۰۲۱ کلونو لپاره د بهرنیو پانګوالو څخه مستقیم ملاتړ شامل دی، چې دا پانګونه باید په جګړه ځپلو او هغه هېوادونو کې، چې ماتېدونکی سیاسي وضعیت لري؛ پر ټولنیز - اقتصادي وضعیت پر ودې او ښه کولو باندې پراختیایي اغیزې وارد کړي.

په ۲۰۱۳ میلادي کال کې دې اداري د شخړو او کمزورو

د هېوادنې ګډون چوکاټ، له ۲۰۱۷ څخه تر ۲۰۲۰ م پورې

دهیوادنې ګډون چوکاټ د ۲۰۱۷ څخه تر ۲۰۲۰ میلادي کال پورې له افغانستان څخه دملاتړ په منظور دنړیوال بانک ګروپ دستراتیژۍ تنظیمونکی دی، چې دافغانستان د پرمختیا او سولې مالي چوکاټ سره په سمون او همغږۍ کې تدوین او ترتیب شوی دی.

ددې ستراتیژۍ موخه او هدف په دې لاندې برخو کې دافغانستان له دولت سره مرسته او ملاتړ دی:

- **دځواکمنو اوځواب ویونکو بنسټونو رامینځته کول،** دملت جوړونې دموخو دتطبیق او خلکو ته لومړنیو خدمتونو وړاندې کولو په لار کې ددولت ځواکمنول او دځصوصي سکتور د ودې له پاره دیو سالم چاپېریال رامینځته کولو په منظور.
- **له هر ارخیزې اقتصادي ودې څخه ملاتړ،** چې ټمرکز يې په وروسته پاتې سیمو ، ښاري غیر پلانې استوګنې او له کورنۍ نا امنۍ څخه په رامینځته شوې بې ځایه کیدنې باندې وی.
- **د ټـول شموله ټولنې رامینځته کول** دمعیاري ښوونې او روزنې لارو چارو ته دخلکو دلاس رسۍ او دټولنې دبیوزله او غریبو وګړو، چې پکې داخلې بې ځایه شوي او راستانه شوي کډوال او مهاجرین شامل دي، ترمینځ دزیان مننې دعواملو کمولو له لارې.

اقتصادونو له پاره ، دمرسته کوونکو همکارانو له ژمنو څخه په استفاده اوهمدارنګه په سختو شرایطو کې دځوارځیزه پانګه اچونو دادارې په تضمینونو دپانګه اچونو دپروژو د ډډ او لومړنیو زیانونو څخه دپوښښ برابرولو په موخه خپلې اغیزناکې اسانتیاوې وړاندې کړې.

د افغانستان د بیارغونې صندوق

د افغانستان د بیارغونې صندوق د افغان دولت او نړیوالې ټولنې ترمنځ یوه ګډه همکاري ده، چې د بیارغونې د پروګرامونو اغیزمني لوړوي. د ۲۰۱۹ کال د مې میاشتې تر ۲۱ پورې څه باندې ۳۴ مرسته کوونکو، د افغانستان د بیارغونې له صندوق سره د شاوخوا ۱۱.۴ میلیارده ډالرو مرسته ژمنه کړې، څو دا د افغانستان د مالي بودجې د ستر ملاتړ کوونکي په توګه په دې وتوانیږي، د افغانستان دولت د عملیاتي او پراختیایي پروګرامونو مالي ارتباوې ځواب کړي.

د مالي لومړیتوب لرونکو برنامو، د دولت د عادي بودجې او د پالیسیو د اصلاحاتو اجندا نه د افغانستان د بیارغونې صندوق ملاتړ به د افغانستان د مالي پراختیا ستراتیژۍ له موخو سره مرسته کوي. تر اوسه د افغانستان له دولت سره څه باندې ۵ میلیارده ډالره د عادي بودجې د لګښتونو، لکه د ملکي کارکونکو د تنخواو لپاره ورکړل شوي، او په ورته حال کې څه باندې نور۵.۵ میلیارده ډالره د بشپړ شویو پراختیایي پروژو او د کار لاندې پروژو لپاره ورکړل شوي دي. د ۲۰۱۹ کال د اګست میاشتې تر ۲۰ پورې د ۶۴۴ میلیونه ډالرو په ارزښت د افغانستان د بیارغونې صندوق لخوا ټمویلېدونکې اته پرژې فعالې وې، او د ۱.۹۹ ملیارده ډالرو په ارزښت ۱۴ نورې فعالې پروژې (مجموعي مالي ژمنه يې ۲.۶ میلیارده ډالر ده)، چې د نړیوالې پراختیا ادارې لخوا ټمویلېږي، د پلي کېدو په حال کې وې.

د لازیاتو معلوماتو لپاره ۳۸ مخ وګورئ.

د جاپان د ټولنیزې پراختیا صندوق

دجاپان دټولنیزې پراختیا صندوق، چې په ۲۰۰۰میلادي کال دجاپان دولت له خوا تاسیس شو، د هغو فعالتونو دمرستې او ملاتړ یوازینۍ وسیله ده،چې مستقیماً يې د غریبواو زیانمنو وګړو ارتیاووته ځواب ویلای، دهغوی ظرفیتونه او ورتیاوې يې لوړې کړې او په پراختیایي چارو او بهیر کې يې ګډون پیاوړی کوی. دغه صندوق دنړیوال بانک له خوا اداره کېږي.

د جاپان دولت او نړیوال بانک دې ته ژمن دي چې د جاپان دټولنیزې پراختیا صندوق په داخل کې دهیواد د بیارغونې او سیاسي، اقتصادي او ټولنیز ثبات لپاره اوړد مهاله پروګرامونو د ملاتړ په منظور یوه ځانګړې کړکۍ تاسیس کړي. د ۲۰۱۹ کال د جنوري تر ۲۰ پورې د جاپان د ټولنیزې پراختیا صندوق ټوله مرسته ۸۵ میلیونه ډالرو ته رسېږي. تراوسه پورې ددې صندوق له خوا یو شمیرټمویل شوې پروژې بشپړې شوې دي.

د نورو معلوماتو لپاره لاندې وېبسایټ ته مراجعه وکړئ: http://go.worldbank.org/U5OQZVF2O0

روان فعالیتونه

/ معارف

دافغانستان دمهارتونو او وړتیاوو دپرمختیا دویم پروګرام

دنړیوال بانک ۵۵ میلیونه وړیا مرسته

دا پروژه د افغانستان دولت سره د اقتصادي او پراختیايي ودې په موخه د حرفوي او مسلکي مهارتونو د ستراتیژۍ په جوړولو کې، چې د بازار له اړتیاوو سره برابر وي؛ مرسته کوي. د افغانستان د مهارتونو د پراختیا د مخکیني برنامې څخه د ملاتړ پر دوام، دا پروژه هم د حرفوي او مسلکي زده کړو د اداري جوړښتونو د پیاوړتیا، د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ښوونځیو او انستیتونو پراختیا او په پای کې د سیالیزې وړتیاوو د پراختیا د ملاتړ په موخه هڅه کوي.

د دغې برنامې په جوړښت کې بدلون د ۲۰۱۷ کال د جولای په میاشت کې رامنځته او تایید شو، چې پر بنسټ یې د مسلکي او تخنیکي زده کړو د ښه والي د استادانو د ظرفیت ارتقاء او د یو شمېر مشخصو سوداګریزو سکتورونو د درسي نصاب د معیاري کولو لپاره پر پراختیايي هدف باندې ټینګار شوی.

د پروګرام په جوړښت کې د بدلون موخه د مهمو نویو مهارتونو په پیاوړي کولو کې د اصلاحاتو رامنځته کول دي.

په دغو اصلاحاتو کې دا لاندې موارد شامل دي: (الف) دحرفوي او مسلکي زده کړو د سکتور نوی تنظیمول د مارکیټ اړتیاوو ته په پاملرنه په اتو لومړیتوب ورکړل شویو شاخصونو کې، چې په هغې کې دښځینه کار ګرو د ځواکمنتیا او توانایي دښه کولو ساحې هم شاملې دي. (ب) د شرایطو لرونکو د حرفوي او تخنیکي زده کړو د ټولو استادانو ارزیابي (ج) د شرایطو لرونکو له پاره له هیواد څخه د باندې د زده کړو د دوام وړاندیز، (د) د استادانو له ارزیابۍ او زده کړې څخه د ملاتړ له پاره د ځلورو مخکښو انستیتونو تنظیمول/ په ځلورو لومړیتوب ورکړل شویو شاخصونو کې (هـ) د درسي نصاب معیاري کول او لوړول په ټولو معاملو او لومړیتوب ورکړل شویو شاخصونو کې د وړتیا داصل پرنسټ او (و) د استادانو په استخدام، مدیریت او زده کړه کې داصلاحاتو او سمونونو په منظور دپالیسۍ دیو چوکاټ تطبیقول.

د مسلکي او تخنیکي زده کړو لپاره د اداري جوړښتونو پیاوړتیا او ملاتړ، د مسلکي او تخنیکي ښوونځیو او انستیټوتونو د اغیزمنتیا او پرمختګ او همدا رنګه د سیالیزو وړتیاوو د ښه والي په موخه، د افغانستان دولت د ۲۰۱۸ کال د اپریل په ۲۱مه د جمهوري ریاست د لخوا د یولسم فرمان په ترڅ کې اعلام وکړ، څو د مسلکي او تخنیکي زده کړو خپلواکه اداره (TVETA) دې رامنځته شي. په دې توګه، د مسلکي او تخنیکي زده کړو جواز او صلاحیت د ښوني او روزنې وزارت او د نومورې وزارت د مسلکي او تخنیکي معینیت څخه د افغانستان د مسلکي او تخنیکي زده کړو خپلواکې اداري ته انتقال شوی. د مسلکي او تخنیکي زده کړو خپلواکه اداره په هیواد کې د مسلکي او تخنیکي پالیسۍ د تطبیق او همغږۍ په برخه کې څارونکی مسوولیت لري.

په ۲۰۱۸ کال کې د پروژې په جوړښت کې دوهمه پلا بدلون په دې موخه راغی چې د حکومت ستراتیژیکو لومړیتوبونو، د تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنې په برخه کې اداري بدلونونو، او د پایلو په چوکاټ کې په لګښتونو پورې تړلیو ځینو نښه شویو اهدافو ته ځواب ووایي.

د مسلکي او تخنیکي زده کړو د خپلواکې اداري د غوښتنې پر بنسټ، د دغه روزنیز مرکز د اغیزمنتیا د ښه والي او د ستونزو د پېژندنې په هدف د دغې اداري د وړتیاوو او تشکیلاتي جوړښتونو ارزونه د نړیوال بانک لخوا ترسره شوه. د حرفوي او مسلکي زدکړو د خپلواکې اداري (TVETA) د ظرفیت جوړونې په موخه یو هراړخیز عملیاتي پلان او د خانګړو فعالیتونو یو تفصیلي فهرست تر کار لاندې دی.

دا پروژه به په هرات، کابل او ننګرهار کې د ټاکلو مخکښو ښوونیزو بنسټونه د ملاتړ او ظرفیت جوړونې په طرحه هم کار کوي. دا ښوونیز بنسټونه به د ښوونکو د روزنې او نصاب جوړونې د مرکزونو په توګه فعالیت کوي. دا پروژه د داخل خدمت ښوونکو روزنې له یوه تخنیکي انستیټوت سره هم مرسته کوي.

د دغو ښوونیزو بنسټونو د ۲۰۱۹ کال تر پایه د هندوستان په ریوا پوهنتون (۲۶ استادان) او سام هېګینګبوټم د کرنې، تکنالوژی او ساینسي علومو پوهنتون (۵۴ استادان) کې په لومړیتوب لرونکو برخو کې د ښوونکو روزنې یو کلن پرګرامونه پیل کړي.

سربیره پردې دحرفوي او مسلکي زده کړو له ښوونځیو څخه (۵۲۲) تنو ممتازو فارغانو دیو سند لرونکي پروګرام له لارې دزده کړې له بورسونو څخه استفاده کړې ده، چې دا له هغوی سره دلوړو او زیاتو مسلکي زده کړو په برخه کې مرسته کوي.

اقراء

د نړیوالې پراختیا اداري ۱۰۰ میلیونه ډالر وړتیا مالي مرسته

د افغانستان د بیارغونې صندوق ۱۰۰ میلیونه ډالر وړتیا مالي مرسته

د پوهنې د نړیوال مشارکت ۹۸ میلیونه ډالر مرسته

اقراء به په پنځو کلونو کې، له ۲۰۱۸ څخه تر ۲۰۲۳ کال پورې، پلې شي. د پروژې هدف په ټاکلو وروسته پاتو ولایتونو کې لومړنیو او ثانوي تعلیماتو ته، په ځانګړې ډول د نجونو، اندول لاسرسی لوړول او په افغانستان کې د زده کړو شرایط پیاوړي کول دي.

د عمومي تعلیماتو زده کوونکي، په وروسته پاتو ولایتونو کې له ښوونځي د باندې کوچنیان (چې ښوونځی پې پرېښې یا هېڅکله شامل شوې نه دي)، ښوونکي، د ښوونځي مدیران او د پوهنې وزارت کارکوونکي به د دې پروژې لومړني ګټه اخیستونکي وي. په اداره کې د سیستم په کچه بدلونونه به ټولو شاملو زده کوونکو او له ښوونځي د باندې کوچنیانو (چې ښوونځي ته به راوستل شي) ته ګټه ورسوي. ټمه ده چې شاوخوا ۷ میلیونه کوچنیان به چې په منظم ډول ښوونځي ته ځي پنځه کاله د دې پروژې له مستقیمو مرستو برخمن شي.

د پروژې لومړۍ برخه به چې پوهنې ته لاسرسی لوړوی په ۱۷ غوره شویو ولایتونو (بادغیس،بلخ، فاریاب، غزني، هلمند، هرات، کابل، کندهار، خوست، کندز، لوګر، ننګرهار، نورستان، پکتیا، اروزګان، وردک او زابل) کې پلې شي.

دا پروژه به هغه خندونه چې ښوونځي ته د تګ مخه نیسي، لکه خرابېدونکی امنیتي وضعیت، محلي قواعد چې پوهنه بې ارزښته بولي، ښوونځي ته تلو لګښت، له ښوونځي واټن، د هلکانو او جونو لپاره د بېلو تشنابونو نه شتون او د ښځینه استادانو کموالی د یو لړ کلیدي مداخلو په مرسته لرې کړي. پدې مداخلو کې ۱) د ښوونځیو د زېرېنا پیاوړي کول چې د کلیو پراختیا او بیارغونې وزارت لخوا به ترسره شي، ۲) ښوونځیو ته مالي مرستې برابرول، او ۳) د زده کړو محلي ټولګې رامنځته کول شامل دي.

د زده کړې د شرایطو ښه کولو په موخه به دا پروژه د درېو لومړیتوب لرونکو مهارتونو (معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ، حسابداری او د کاروبار مدیریت) نصابونه بیاځلي جوړ شوي دي. د ساختمان، موټر جوړولو او کرنې د نصابونو پر بیا جوړولو او سمولو کار روان دی.

د مهارتونو پیاوړي کولو دویمه پروژه په هندوستان کې له پونې پوهنتون سره د یوه علمي مشارکت مالي ملاتړ کوي. د مدیریت او اداري ملي انستیتیوت او د تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنې د نورو بنسټونو ۲۰ استادان په یاد پوهنتون کې په معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ، سوداګرۍ او د کاروبار په اداره کې د ماسټرۍ پروګرامونه تعقیبوي.

د افغانستان د مهارتونو او وړتیاوو د پرمختیا د دویم پروګرام فعالیتونه د مسلکي او حرفوي زده کړو د پیاوړي کولو، د استادانو ظرفیت لوړولو، او د یو شمېر مهمو کسبونو، لکه موټر جوړولو، د ښوونیز نصاب په جوړولو کې د پلي کېدو په حال کې دي. ټمه ده چې د دې پروژې په ملاتړ د بازار اړتیا ته په کتو په اتو لومړیتوب لرونکو کسبونو کې، د هغو برخو په شمول چې په کاري قوه کې د ښځو ګډون ښه کوي، پراخ بدلونونه رامنځته شي.

ټه ده چې د اقراء پروژه به د پلې کېدو په بهیر کې ۷ میلیونه کوچنیانو ته ګټه ورسوي. دا پروژه به زده کړو ته، په خانګړي ډول د نجونو، عادلانه لاسرسی زیات کړي. په وروسته پاتو ولایتونو کې به له ښوونځي د باندې کوچنیان د دې پروژې له مرستو برخمن شي.

نوي نصاب په اساس د درسي کتابونو په ترتیبولو، درسي موادو وېشلو او تدریسي کیفیت لوړولو کې د عملي روزنې او مشخصو روزنیزو پروګرامونو له لارې مرسته وکړي.

اقراء هڅه کوي په پوهنې وزارت (مرکز او ولایتونو) کې شفافیت او مدیریتي ظرفیت له دې لارو لوړ بوي: د پوهنې د معلوماتو مدیریتي سیستم او شمېرو راغونډولو لارې چارې تقویه کول، د ښوونکو د ګومارنې او بشړي سرچینو مدیرت ښه کول، د بودیجې پلانول، پر اصولو برابر فعالیتونه ترسره کول او د حفظ او مراقبت لپاره بودیجه ډېلول.

د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا ملي پروګرام

د جاپان د ټولنیزې پراختیا صندوق ۲،۷ میلیون ډالر وړیا مالي مرسته

د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا ملي پروګرام یوه دریځ کلنه آزمایښتي پروژه ده، چې د افغانستان آغا خان بنسټ لخوا د کار او ټولنیزو چارو وزارت سره په نږدې همغږۍ سره تطبیق کېږي. د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا ملي پروګرام د دولت د غوښتنې پر بنسټ د ښځو لپاره د پرمختیا لپاره د تګلارو، وسایلو، د تجربو د تبادلې او د هغوی د پوهاوي د کچې د لوړولو لپاره طرح او په فعالیت پې لاس پورې کړی . (۲۷ مخ وګورئ.)

د دغې پروژې اصلي ګټه اخیستونکي د هېواد په کلیوالو سیمو کې ښوزله ،غریبه او زیانمنونکي ښځې بلل کېږي. د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا ملي پروګرام په کلیوالو سیمو کې د سپما ګروپونه له جوړښت، پراختیا او ورتیاوو څخه ملاتړ ترسره کوي او د دغو ګروپونو د غړو لپاره د کوچني کسب او کار او ځایي سوداګرۍ په برخو، د تجارت د پراختیا خدمتونو او مالي سرچینو ته د لاسرسي په برخو کې روزنیز پروګرامونه جوړوي. یوه ابتدایي سروې د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر په میاشت کې پای ته ورسیده او د پلي کولو کار به یې د ۲۰۱۸ کال په نومبر کې پیل شي.

د ۲۰۱۸ کال له ډسمبر راهیسې، په ځلورو ولایتونو کې ۴۵ کلسترونه جوړ شوي، د کلسترونو ۲۹۰ ناستې تر سره شوې، او فرعي کمېټې ترتیب شوي دي. د کلسترونو غړي تر روزنې لاندې دي او ټه ده چې دوی په راتلونکې ربعه کې پورونه ترلاسه کړي.

/ مالي سکټور

مالي خدماتو ته د لاسرسي پروژه

د نړیوال بانک ۵۰ میلیونه ډالره وړیا مرسته

د مالي خدمتونو دلاس رسۍ دپروژې موخه او هدف ددولت دادارې او نهادي ظرفیت رامینځته کول دي، چې ددېرو کوچنیو او منځنیو خصوصي تشبثانو دپورونو په لاس رسۍ کې ښه والی راځرګندشي.په دې پروژه کې درې برخې شاملې دي:

لومړۍ برخه: مالي خدماتو ته د کوچنیو تشبثاتو د لاسرسي پیاورتیا: د پروژې د دې برخې موخه داده چې د افغانستان د کوچنیو پانګونو د ملاتړ ادارې له لارې د کوچنیو پورونو سکټور ته دوامداره مرستې چمتو شي او همدارنګه له دې ادارې سره مرسته وشي، چې له ستراتیژیک پلان سره سم د هڅوونکو پروګرامونو د غځولو له لارې مالي خدماتو ته لاسرسی لوړ کړي او له دې خدماتو څخه د بازار د ټیټو پوړیو (په ځانګړې توګه کوچنیو او انفرادي تشبثاتو) استفاده زیاته کړي. خو په دې ټکي باید ټینګار وشي چې د افغانستان د کوچنیو پانګونو د ملاتړ ادارې اصلي دنده د بازارموندنې اسانول دي، نه د یوه تخنیکي بنسټ په څېر د مرستو چمتول کول.

په لومړۍ برخه کې، میسفا شپږو ولایتونو (بلخ، کابل، کندهار، کونړ، لغمان او تخار) ته له ډېرو ښوزلو خلکو سره د مرستې پروګرام د غځولو په ګډون یو لړ فعالیتونه پیل کړي دي. پدې ولایتونو کې دا پروګرام د د ډېرو ښوزلو ګټه اخیستونکی په ژوند کې د مطلوبو پرمختګونو په نښه کولو او پیلولو کې تر دې دمه بریالی دی.

د دې پروګرام د اغېز ارزونه، چې د پراختیایي اغېزمنتیا له ارزونې سره یو ځای ترسره شوه، په بلخ ولایت کې بشپړه شوه. پدې ارزونه کې ګټمنې کورنۍ د پروګرام له پیله نیولې د پروګرام بشپړېدو تر یوه کال وروسته پورې وڅارل شوې. د پروګرام تر پیل وراندې سروې وښوولې چې د ډېرو ښوزلو خلکو سره د مرستې پروګرام د غوراوي پروسه د ښوزلو کورنیو په پېژندنه کې اغېزمنه وه. د دې پروګرام لپاره غوره شوې کورنۍ په سیمه کې د منځنۍ اقتصاد لرونکو کورنیو په پرتله ډېرې ښوزلې وې، او د نورو په پرتله د مرستو لپاره ډېرې مستحقې وې.

د اغېزمنتیا د ارزونې پایلې چې د ۲۰۱۹ کال په جون کې خپرې شوې ښیي چې د ډېرو ښوزلو خلکو سره د مرستې پروګرام په بلخ ولایت کې په شدیده ښوزلۍ کې د پام وړ ټیټوالي راوستی، د مصرف کچه یې لوړه بوولې او د ګټمنو، چې ۹۰ یې ښځې وې، غذایي مصوؤنیت لوړ کړی.

په بلخ کې د ګټمنو کورنیو پنځمه برخه د ښوزلۍ له مالي کرښې پورته شوې دي. د دوی د لګښت ورتیا نږدې ډېرش سلنه پورته تللې ده. په روانې روغتیا، کاري ساعتونو، مالي منابعو ته لاسرسي او د ښځو ځواکمنتیا کچه کې لوړوالی راغلی.

د پروګرام د بریالیتوب له کبله به له ډېرو ښوزلو خلکو سره د مرستې پروګرام دوو نورو ولایتونو (پروان او ننګرهار) ته هم وغځول شي او ټه ده چې دا پروګرام پدغو ولایتونو کې د ۲۰۲۱ کال د جون تر پایه بشپړ شي.

دوهمه برخه: مالي خدمتونو ته د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو لاسرسی اسانول. د افغانستان د پورونو د تضمین ادارې د فعالیتونو غځولو او مالي ادارو ته د تخنیکي مرستو له لارې چې کوچنیو او منځنیو کاروبارونو ته د پور وکړې ظرفیت لوړ کړي، دا برخه غوارې چې کوچنیو او منځنیو کاروبارونو ته د سوداګریزو بانکونو او کوچنیو مالي بنسټونو لخوا د پورونو کچه لوړه کړي او پدې توګه مالي خدمتونو ته د دوی لاسرسی اسان کړي. دویمه برخه د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د پور د تضمینونو ملاتړ کوي.

د پروژې د دوهمې برخې تطبیق د ۲۰۱۷ میلادي کال د جون په میاشت کې د ګډون د هغه هوکړه لیک (موافقتنامې) له ترسره کیدو وروسته ، چې د مالیې وزارت او د افغانستان د پورونو د تضمین بنسټ ترمینځ لاسلیک شوی و، پیل شو. د دې پروژې دوهمه برخه د کوچنیو او منځنیو متشبثینو له پاره د اعتباري تضمینانو د تدارک مرسته او ملاتړ کوي.

د ۲۰۱۹ کال د جون په پای کې د درېو شریکو مالي بنسټونو لخوا د تضمین شویو کوچنیو او منځنیو کاروبارونو مجموعي پورونه ۲۱.۸ میلیونه ډالر و چې د ټېرې ربعې په پرتله پکې، چې ۲۵.۷ میلیونه ډالر و، کموالی راغلی. دا په عملیاتي چاپېریال پورې، چې د پانګونې تصمیمونه او د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو لخوا د پورونو تقاضا اغېزمنوي، او هم پدې پورې چې مالي اداره د ځومره ګواښ منلو ته حاضره دي، اړه لري.

د دې پروژې د پای ته رسېدو نوې نېټه د ۲۰۲۱ کال د جون ۳۰ مه ده.

دمالي سکټورر دحالت سېه والي لپاره دچټک ځواب پروژه

دنړیوال بانک۴۵.۷ میلیونه ډالره وړیا مرسته

دغه پروژه له افغانستان بانک سره درنښو تادیاتو او اغیزمنو معاملو د سرته رسولو لپاره د یوه عصري سیستم په تطبیق او د بانکي څارنو د سېه والي له پاره دیو لړ کاري پروګرامونو رامنځته کولو په چارو کې مرسته او ملاتړ کوي.

په ځانګړې توګه دغه پروژه دافغانستان بانک لپاره دمالي تفتیش له لارې،چې دنړیوالو معیارونو له مخې ترسره کېږي، دلسو سوداګریزو بانکونو دمالي حالت د ارزونې شرایط او لارې چارې تقویه کوي.ددې مالي تفتیش او پلټنې پایلې ددې لامل ګرځي چې دهغو نیمګړتیاوو او کمزورتیاوو دلرې کولو لپاره، چې دافغانستان بانک دنظارت اوڅارنې په بهیر کې پیژندل کېږي، عملي پلانونه طرحه او پلي کړي. د ۱۰ سوداګریزو بانکونو تفتیش د ۲۰۱۲ کال په جون کې بشپړ شو.

همدارنګه دتادیاتو دسیستم نوي کول، البته په نقدي بنه دمعاملو درترسره کېدو دکمښت په موخه، چې اوس په افغانستان کې دراکړې ورکړې ستره وسیله ګڼل کېږي، دکارت یا موبایل له لارې دتادیاتو پر الکترونیکي سیستم دهغې بدلون، ددې پروژې له نورو موخو او هدفونو شمېرل کېږي.

دا پروژه همدارنګه دبانکداري سکټور مهارتونو ته دلاسرسي په منظور دافغانستان له مالي او بانکداري انستیتیوت سره د دغه انستیتیوت د فعالیتونو د پیاوړي کولو په برخه کې مرسته او ملاتړ کوي. د افغانستان مالي او بانکداري انستیتیوت د سوداګریزو بانکونو له ۷۸۰۰ زیات مسلکي کارکوونکي (د پروژې هدف د ۶۰۰۰ مسلکي کارکوونکو روزل و) په ټېلېټلو برخو کې روزلي دي.

د پروژې په جوړښت کې تر بدلون وروسته، د دې پروژې لپاره ۶.۷ میلیونه ډالر لومړنۍ اضافي مالي مرسته منظوره شوه. دا اضافي مرسته د ځانګړو تخنیکي فعالیتونو، چې پخوا د مالي سکتور د پیاوړتیا پروژې (چې د ۲۰۱۴ کال په جون کې پاې ته ورسېده) لخوا حمایه کېدل، ملاتړ کوي. دا اضافي مالي مرسته د ځانګړو فعالیتونو له لارې د افغانستان بانک ظرفیتونه لوړوي او د عامه پورونو د ثبت اداره رامنځته کوي.

په بلخ ولایت کې له ډېرو پېژلو کورنیو سره د مرستې پروژې د اغیزو ارزونې پایلې وښوولې چې دې پروګرام په ژوره بېوزلۍ کې د پام وړ ټیټوالی راوستی. د خلکو ترمنځ پې د مصرف کچه لوړه کړې، او د کتنه اخیستونکو، چې ۹۰ فیصده یې ښځې وې، غذایي مصوونیت پیاوړی ګڼی دی.

د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم، چې د ۲۰۱۳ کال په فبروري کې رامنځته شو، او د عامه پورونو د ثبت سیستم، چې د ۲۰۱۳ کال په ډسمبر کې د افغانستان بانک په اداري جوړښت کې پرانیستل شوو، د افغانستان په مالي سیستم کې د تر ټولو پیاوړي بنسټیز اداري جوړښتونو په توګه ګڼل کیږي. د دې دوو سیستمونو په جوړیدو او فعالیدو سره د کوچنیو او منځنیو سوداګرو او متشبثینو لپاره د بانکي پورونو ترلاسه کولو او د بانکونو ملاتړ په برخه کې زیاتې اسانتیاوې برابرې شوي دي.

د ۲۰۱۶ کال په اکتوبر کې د (۲۰ میلیونه ډالرو) په ارزښت دویم مالي مرسته منظور او ومنل شوه. دا ملاتړیزه اضافي بودجه د پرمختللي او سمبال بانکي سیستم جوړولو کې به ولګول شي، چې پر بنسټ به یې د افغانستان بانک وتوانیږي، چې د سکتوري خطرونو مدیریت په سېه ډول ترسره کړي او خپل ځانیز رول پیاوړی کړي.

سرېره پر دې، ډیر ټمرکز به د افغانستان بانک د کارکونکو د ظرفیت لوړولو باندې به پانګونه وشي، څو د هغوی ځانګړتیا ورتیا پیاوړې شي. په همدې موخه د ۲۰۱۸ کال په فبروري کې د افغانستان بانک د مهارتونو جوړولو پروګرام پیل شو او په کابل کې یې د واجد شرایطو کارکوونکو لپاره د لیسانس او ماسټرۍ ۱۳۶ سکالرشیپونه (بورسیې) ټمویل کړل. د افغانستان بانک ۷۰۰ کارکوونکو ته د پوهنتوني او مسلکي پروګرامونو د تعقیب زمینه برابره شوې، چې په دوی کې ۲۲۰ هغوی د ماسټرۍ یا لسانس په پروګرامونه کې داخل شوي او یا یې دا پرګرامونه بشپړ کړي.

د افغانستان بانک یو پلاوي د ۲۰۱۸ کال په فبروري کې د بنګلادیش د مرکزي بانک لیدنه هم وکړه چې د عصري بانکي سیستمونو د تطبیق په برخه کې تجربې تبادله کړي.

د کارت او موبایل له لارې د پیسو ورکړې اسانتیا د افغانستان د تادیاتو سیستم لخوا بشپړه شوه او د افغانستان بانک د رییس لخوا د ۲۰۱۶ د اپرېل په ۲۶ پرانیستل شوه. د اتومات انتقال سیستم د جوړولو قرارداد د ۲۰۱۶ په اپرېل کې تر سره شو. د اتومات انتقال سیستم بع د ملي تادیاتو سیستم عصري کړي چې ورسره به د پیسو ورکړې معاملې اغېرمنې او شفافې شي. د افغانستان د تادیاتو سیستم له اجرایي کېدو او د اتومات انتقال سیستم له نېردې نهایي بنې سره د تادیاتو زېربنا عصري شوې او د دې ورتیا یې موندلې چې مالي منځګړتوب لوړ کړي، او په مالي سیستم کې مصوونیت او موثریت رامنځته کړي.

د مالي سیستم د چټک ځواب پروژه د ۲۰۱۹ د اکتوبر په ۳۱ مه پای ته رسېږي، او پاتې فعالیتونه به چې د تادیاتو زېربنا تقویه کړي، د افغانستان بانک لخوا د پور د یوې نوې پروژې په مرسته، چې په ۲۰۲۰ کال کې منظورېږي، پر مخ وړل کېږي.

د افغانستان د پراختیایي پالیسۍ د مالي ملاتړ د هڅونې پروګرام

د نړیوال بانک ۱۰۰ میلیون ډالره وړیا مالي مرسته

د افغانستان د بیا رغونې صندوق ۳۰۰ میلیون ډالره وړیا مالي مرسته

د پراختیایي پالیسۍ د مالي ملاتړ لپاره د افغانستان د هڅونې پروګرام فعالیتونه د افغانستان د سولې او پراختیا د ملي چوکاټ له لارې د مهمو اصلاحاتو له بهیره ملاتړ کوي. په دې برخه کې د فعالیتونو د ترسره کولو لپاره نړیواله ټولنه د بنسټیزو خدماتو د برابرولو، اداري اصلاحاتو او د ملي لومړیتوب څخه برخمنو تګلارو او پالېسیو د انسجام په موخه، د افغانستان له عادي بودیجې سره د ۴۰۰ ملیونه امریکایي ډالرو وړیا مالي مرسته کوي.

دا د درېو پلان شویو فعالیتونو دوهم هغه دی چې د پالیسۍ د اصلاحاتو په برخه کې د دولت له اوسني درې کلن پلان سره همغږی دی. د دغې پروژې تر ملاتړ لاندې اصلاحات په دوو برخو کې تنظیم شوي: (الف) د دولتي

کارونو د اغیزمنتیا، خصوصي پانکوني او د ټولنیز مشارکت پیاورتیا، (ب) د دولت د مالي مدیریت په چارو کې د ښه والي په موخه د پالیسی او اداري جوړښتونو اصلاحا

د لومړۍ برخې اصلاحات دا برخې حمایه کوي: د الکترونیکي او د مبایل له لارې تادیات، د ملکي خدماتو اصلاحات، مالي خماتو ته لاسرۍ، د انرژۍ سکتور اصلاحات، د ځمکې د اسنادو په تصفیه او د اوبو موثر تولید. همدارنګه په دویمه برخه کې پلان شوي اصلاحات د دولت د مالي مدیریت د سیستم پر ودې، د مالیاتو پر ښه مدیریت او په دولتي مالي چارو کې د حساب ورکونې په ښه والي تمرکز کوی.

افغانستان: د دولتي او خصوصي سکتور له مشارکت څخه د ملاتړ برنامه او د عامه پانګه اچونې په برخه کې مشورې

د نړیوال بانک ۲۰ میلیون ډالره مالي مرسته

د افغانستان د بیا رغونې صندوق ۳۰ میلیون ډالره مالي مرسته

د دولتي اوخصوصي سکتور له مشارکت څخه د ملاتړ برنامه د افغانستان له دولت سره، په تیره بیا د مالیې وزارت د خصوصي او دولتي سکتور د مشارکت له مرکزي اداري سره مرسته کوي، تر څو د خصوصي او دولتي پروژو د مشارکت لپاره د پلي کیدو وړ لارښودونه جوړ کړي.

دا پروژه چې د ۲۰۱۸ کال په جولای کې پیل شوه د فعالیتونو او پانګه اچونې محور یې پر دریو متممو برخو تمرکز لري:

- د اړوند اداره د تخنیکي او اداري برخو پیاوړي کول او همدارنګه د عامه پانګه اچونې د مدیریت لپاره د یوه چوکاټ د پراختیا څخه ملاتړ کول.
- د دولتي او خصوصي سکتور د مشارکت د مرکزي اداري له تاسیس او جوړښت څخه ملاتړ، د سوداګریز پلان تدوین او پراختیا او همدا رنګه د دغې اداري د دندو او مسئولیتونو د لایحې جوړول، او
- د پروژې مدیریت

د مالي چارو د ښه والي د ملاتړ پروژه

د نړیوالې پرمختیا د اداري ۲۵میلیونه ډالره وړیا مرسته

د افغانستان د بیارغونې صندوق ۷۵ میلیونه ډالره وړیا مرسته

د افغانستان د دولت ۱۰۰ میلیونه ډالر

د مالي چارو د ښه والي د ملاتړ پروژه د یو شمیر کلیدي وزارتونو او ادارو، لکه د مالیې وزارت، د مالي تدارکاتو اداره او د تفتیش عالي ریاست د ظرفیت جوړونې له لارې د دولت د مالي چارو د مدیریت د تقویې په موخه طرحه شوې ده. دغه پروژه د افغانستان له دولت سره د مالي چارو د پرمختګ پلان د پلي کولو په برخه کې د مالي مرستو د تامین او پانګه اچونې له لارې ملاتړ کوي.

د دې پروژې موخه دا ده چې د کورنیو عوایدو راټولونه او د دولتي لګښتونو مدیریت تقویه کړي او په مالیې وزارت کې د اجراآتو د پایلو پر بنسټ د مدیریت فرهنګ ته وده ورکړي.

د مالي چارو د ملاتړ د ښه والي پرژه، چې د ۲۰۱۸ کال په جنوري کې پیل شوه، د افغانستان د پراختیا په یوه حساسه مرحله کې ستراتیژکه مرسته وړاندې کوي. پرمختللی عامه مالي مدیریت او د عوایدو راټولول د دولت پرځان د تکیه کېدو کړنلارې اساسي برخه ده.

د مالي چارو د ملاتړ د ښه والي پروژه پر څلورو کلیدي ساحو تمرکز کوي: (الف) په افغانستان کې د پراختیایي بودیجې د تطبیق د کچې پرمختک، (ب) د کورنیو ناخالصو تولیداتو په سلنه کې د کورنیو عوایدو د سهم ډیرونه؛ (ج) د تفتیش او څار د توصیو پر اساس د مالي چارو د سمونې د میزان ډېرونه؛ او (د) د اداري ظرفیتونو وده چې ورسره د اوږدمهاله تخنیکي سلاکارانو شمېر را کم شي.

تر دې دمه د دې پروژې کلیدي پرمختګونه په لاندې په لاندې ډول دي:

الف. د بودیجې پروسې؛ مالي پالیسي؛ او پراختیایي پالیسي: د مالیې وزارت د پانګونې پروژه په ترتیبولو او تقویه کولو کې تدریجي خو پام وړ پرمختک کړی. په وروستیو کې مالیې وزارت د پروژه د طرحې لپاره یو معیاري چوکاټ رامنځته کړی او هم په ۲۰۱۹ کال د بودیجې ترتیبولو په بهیر کې د پروژه لپاره ستراتیژیک شرایط ټاکلي دي، چې دا له مالي پراختیایي لومړیتوبونو سره د نوو عامه پروژو همغږي کولو په برخه کې لومړی ګام دی.

د مالیې وزارت ۱۷۵ پروژې بیاکتنې ته سپارلې. دا وزارت به د ۲۰۲۰ کال بودیجې جوړولو لپاره معلوماتي پاڼې وویشي. پدې پاڼو کې به د مالي، اقتصادي او جندر برخو د شننې لپاره مفصلې لارښوونې موجودې وي، او د دې تر څنګ به دا هم په کې ذکر وي چې هغه پروژې چې ارزښت یې له ۷.۵ میلیونو ډالرو لور وي، د پروژې له ارزونې پرته د پلي کېدو لپاره نه منظورېږي. د ۲۰۲۰ کال د بودیجې په جوړولو کې به نوي اجرایوي او د حفظ او مراقبت قواعد او لارښوونې هم په نظر کې نیول کېږي.

د مالي پلټنې او حقوقي چارو د ملاتړ تر څنګ، د ارزښت لوړېدونکي مالیې پر پلي کولو هم تمرکز کېږي. همدار راز، د افغانستان د عوایدو لوی ریاست د خپلو سیستمونو په عصري کولو بوخت دی، چې په مرسته به یې د دوی په فعالیتونو کې پایداري رامنځته شي.

ج. د ګمرکونو اداره: د ګمرکونو د ارقامونو لپاره اتومات سیستمونه (اسیکودا) په غځېدو دي او تر اوسه ۱۸ ګمرکونه له دې سیستمونو سره نښتي. د اسیکودا د پلي کولو لپاره د ملګرو ملتونو د سوداګرۍ او پراختیا ادارې د قرارداد له مخې به د ۲۰۱۹ کال تر پایه د هسپانیې په ولانسیا کې له ناورین سره د مبارزې یو مرکز په کار پیل وکړي. د افغانستان د ګمرکونو په عمومي ریاست کې د قوماندې او کنترول یو مرکز جوړ شوی. د لومړنیو ګومارنو لپاره به مالي امکانات د لنډ وخت لپاره د مالي چارو د پیاوړي کولو پروژې لخوا برابرېږي.

د واحدې ملي کړکۍ (داسې یو سیستم چې ګمرکې حسابونه په یوه ځای کې تصفیه شي) رامنځته کولو د امکانیت څېړنه بشپړه شوې او اوسمهال تر بیاکتنې لاندې ده چې تر دې وروسته به یې پر پلي کېدو لاس پورې شي.

د. تدارکاتي اصلاحات: د ملي تدارکاتو ادارې د برېښنایي دولتي تدارکاتو ازمونه او پرانیستي تدارکات لوړې کچې ته بوولي، چې د تدارکاتو په پروسو کې شفافیت او حساب ورکونه پیاوړې کړي. په دې برخه کې د ټبر کال په اوږدو کې تدریجي پرمختګ شوی چې له ۱۸ پلان شویو ماجیولونو څلور یې ترتیت شوي او په پاتو ماجیولونو د قراردادي سوفتویر جوړونکو او معلوماتي تکنالوژۍ د داخلې زېرېنا په مرسته کار روان دی. د برېښنایي داوطلبي سیستم، چې د برېښنایي حکومتولۍ کلیدي ماجیول دی، پر جوړولو کار روان دی او تمه ده چې دا سیستم به د ۲۰۲۰ کال تر نیمایي په کار پیل وکړي.

ه. اداري ظرفیت او د کاري وړتیا مدیریت: د مالي چارو د پیاوړي کولو پروژې له مالیې وزارت سره د کارکوونکو په ظرفیت لوړونه او د سیستمونو په جوړولو کې مرسته کړې. سره له دې چې امکانات محدود دي، د تخنیکي ځانګو لخوا د مالي پالیسۍ او تطبیقي پلان د پلي کېدو لپاره اجرایي ظرفیت موجود دی. ظرفیتي امکانات د عامه مالي مدیریت د پایلو لاسته راوړلو لپاره کلیدي اهمیت لري.



د ټداراکاتو د یو برېښنایي سیستم په پلي کېدو او د ناسمو معلوماتو او اداري فساد د کوانټونو په راکمولو د دولت تدارکاتي سیستم تر پخوا ساده او شفاف شوی دی. د مالي سکتور د پیاوړتیا پروژې په ملاتړ د برېښنایي تدارکاتو دا سیستم د مالي تدارکاتو اداري لخوا پدې موخه پیل شو چې په خدمتونو رسولو، شفافیت او لګښتونو کمولو کې مرسته وکړي.

د مالیې وزارت د اداري معین دفتر په مالیې وزارت کې هڅه کړې چې په وزارت کې د مدیریت او تخنیکي مرستو پایداري پیاوړې کړي. پدې هڅو کې د نړیوالو کارپوهانو لپاره د لاسته راوړنو په اساس د یوه لارښود او اجوري تعینولو طرحه او د داخلي تخنیکي کارپوهانو یوه ستراتېژیکه ارزونه شامل دي. د دې هڅو په نتیجه کې او دا چې د ملکي ماموریتو معاشونه د یوې نوې پالیسۍ په اساس ترتیب شوي، په مالیې وزارت کې پر تخنیکي کارپوهانو تکیه ۶۰ سلنه راکمه شوې ده (شمېر یې له ۷۸۰ څخه ۴۵۴ ته راټیټ شوی) او د دې پوستونو ۱۲ سلنه د وزارت په تشکیل کې شامل شوي دي.

د مالیې وزارت د اداري معین دفتر د داخلي اداري پروسو په ساده کولو او لا ښه کارې چاپېرل او غوره اسانتیاو په رامنځته کولو هم کار کوي. پدې اسانتیاوو کې د مخابراتي او معلوماتي تکنالوژۍ پیاوړې زېربنا او د معلوماتو د مدیریت د همغږو سیستمونه رامنځته کول شامل دي، چې د وزارت کارکوونکو ته دا وړتیا وربښي چې په اسانۍ خپل کارونه پر مخ بوزي.

په پام کې ده چې د ۲۰۱۹ کال تر پایه د مالیې وزارت د اداري معین دفتر د معاشونو د لېږد داخلي سیستم نور هم پیاوړی کړي، داسې چې د معاشونو د لېږد انټرنیټي سیستم له ربښنایي حاضرۍ او بشري منابعو له ډېټابېس سره ونښلوي.

د دولتي بانکونو د مډرنیزه کولو پروژه

د نړیوال بانک ۴۰ میلیون مالي مرسته

د دغې پروژې موخه د افغانستان په اقتصادي نظام کې د دولتي بانکونو د اداري او حقوقي جوړښتونو تقویه کول او همدارنګه په عملیاتي برخه کې د دولتي بانکونو د اجرائیوی ظرفیت زیاتول او اغېزمنه کول بلل کېږي. دغه پروژه چې د مالیې وزارت له لوري پلې کېږي، ټاکل شوې، چې خپل فعالیتونه د افغانستان په دریو بانکونو- نوي کابل بانک، افغان ملی بانک او پشتنۍ بانک کې د نوې رغونې، روښتیا او اغېزمنتیا پر محور متمرکز کړي. د دې پروژې له لارې به د معلوماتي تکنالوژۍ زېربنا عصري شي او د هر ډرخیزې ودې لپاره به پایدار سوداګریز موډلونه رامنځه شي.

دې پروژې، چې د ۲۰۱۸ کال په اپرېل کې پیل شوې، د دولتي بانکونو د حکومتولۍ په چوکاټ کې یې د پام وړ اصلاحات راوستي. مالیې وزارت د دې پروژې په مرسته د مالکیت یوه پالیسي جوړه کړې، د مالکیت یوه څانګه یې پرانیستې او د ۲۰۱۸ کال په ډسمبر کې د ولسمشر د یوه صادر شوي فرمان په اساس یې د نظارتي پلاوو کاري لایحې جوړې کړې دي.

نړیوال بانک له مالیې وزارت او دولتي بانکونو سره له نږدې کار کوي چې د بانکونو په حکومتولۍ کې اصلاحات راولي او د معلوماتي تکنالوژۍ خدمات لوړې کچې ته بوزي، چې ورسره د دولتي بانکونو اجرایوي اغېرمنتوب پیاوړی شي.

د افغانستان د تادیاتو او معاشاتو د ادغام پروژه (پیسه)

د پراختیا نړیوالې ادارې ۱۰ میلیونه ډالر وړیا مالي مرسته د افغانستان د بیارغونې صندوق ۳۵ میلیونه ډالر وړیا مالي مرسته

د دې پروژې هدف دا دی چې د داسې یوه سیستم په رامنځته کولو کې مرسته وکړي چې له دولته خلکو ته برېښنایي تادیات تر سره کړي. مالیې وزارت، د افغانستان بانک او نورو ګټمنو ادارو ته د قانوني او مقرراتي چوکاټونو او اجرایوي پروسو په برخه کې سلامشورې به د معلوماتي ټکنالوژۍ پر فزیکي زېربنا پانګونه او هم هغه هڅوونکي ګامونه، چې خصوصي سکتور مالي خدمتونو رسولو ته تشویقوي، بشپړ کړي.

دا پروژه څلور برخې لري:۱) د ملکي کارکوونکو او متقاعدینو لپاره د بایومیتریکي پېژندنې د یوه سیستم په جوړولو کې مرسته؛ ۲) د پېژندنې، تصدیقونې او تادیاتو سیستمونو همغږي کول؛ ۳) د ډیجټلي پیسو اخیستلو لپاره د مالي خدمتونو او پیسو ویستلو د موقعیتونو زیاتول او د غیر نقدي تادیاتو پراخول؛ ۴) او د پروژې مدیریت.

دا پروژه د نړیوال بانک د رییسه هیئت یا بورډ لخوا د ۲۰۱۹ کال د اپرېل په ۲۵ مه منظوره شوه او ټه ده چې د ۲۰۱۹ کال د اکتوبر تر نیمایي په عملي کار پیل وکړي.

د افغانستان د خپلسرو تادیاتو او معاشاتو د ادغام پروژه به د ملکي کارکوونکو او متقاعدینو د بایومتریکي پېژندنې سیستم ته نوره هم وده ورکړي. چې له دې سره به له دولته خلکو ته د پیسو انتقال ډېر اغېزمن او شفاف شي.

/ روغتیا

د افغانستان د صحتمندي پروګرام

د نړیوال بانک ۱۴۰ میلیون ډالره وړیا مالي مرسته
د افغانستان د بیا رغونې صندوق ۴۲۵ میلیون ډالره وړیا مالي مرسته
د ماشومانو او مېندو د روغتیا لپاره د نړیوالې پانګونې صندوق ۳۵ میلیون مالي مرسته

د دغې پروژې موخه په ټول افغانستان کې روغتیایي خدماتو ته د لاسرسۍ او د هغو د کیفیت ښه والی، غوره تغذي او د کورنۍ د تنظیم د خدماتو ډیریدنه او پراخیدو بلل کېږي.

دغه پروژه دری برخې لري:

لومړۍ برخه: د روغتیایي خدماتو د ښه والي په موخه، د پروژې دغه برخه، د روغتیایي خدماتو د وړاندې کوونکو سازمانونو یو شمېر قراردادونه او په روغتونونو کې د ضروري خدماتو د وړاندې کولو لپاره له وړاندیزونو څخه په ټول هېواد کې مالي ملاتړ کوي.

دویمه برخه: په ښه کیفیت سره د روغتیایي خدماتو د وړاندې کولو او د روغتیایي سیستم د پیاوړي کولو لپاره، د پروژې دغه برخه د روغتیایي فعالیتونو د مدیریت او ارزوني لپاره په عامې روغتیا وزارت او همکارو ادارو کې د ځارنې او ارزونې د یو فرهنګ او تګلارې له ترویج کولو څخه ملاتړ ترسره کوي.

دریمه برخه: روغتیایي غوښتنه ته د ځواب ویلو د پراخیدو په خاطر او همدارنګه د خدماتو د ځرنګوالي په هکله د روغتونونو او روغتیایي مرکزونو د حساب ورکونې په موخه، ټاکل شوي چې د پروژې دریمه برخه ځنې ډاسې فعالیتونه ټمویل کړي چې په هغې کې خلکو ته د هغوی د روغتیایي حقوقو په هکله د معلوماتو او عامه پوهاوي کمپاینونه په لاره واچول شي او د روغتیایي منسوبینو ، روغتونونو او روغتیایي ادارو په هکله د خلکو نظریات واخیستل شي چې د هغې په پایله کې به د عامې روغتیا وزارت وکولای شي، چې د خلکو د اړتیاو سره سم روغتیایي خدمات او آسانتیاوې برابرې کړي.

په تیرو لسو کلونو کې په افغانستان کې روغتیایي سیستم د لیدنې وړ پرمختګونه کړي دي، چې په هغه کې د دولت قوي رهبري، د عامه روغتیا مناسبې پالیسۍ، د نویو خدمتونو وړاندې کول،د پروګرامونو دقیق ارزونه او ځارنه او انکشافي مرستې څخه باید ستاینه او یادونه وشي. د کورنیو په سر د شمیر (د ۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۱۸ پورې) څخه ښکاري، چې د مېندو او ماشومانو په مړینو کې لړوالی راغلی دی.

په دې برسیره بیا هم په روغتیایي خدمتونو کې د کیفیت او اندازې په ښه والي برسیره د مېندو او د نویو زیږیدلو او د پنځوکلونو لاندې عمر ماشومانو مړینو کچه له هغې منځنۍ اندازې څخه ټیټه ده، چې د ټیټو عوایدو درلودونکو هیوادونو له پاره په پام کې نیول شوي دي، چې دا ښځوته ارتیاوړ خدمتونو ته دلاس رسۍ په لاره کې د څنډونو بیانونکی دي . افغانستان همدارنګه په نړۍ کې د خوار ځواکې د لوړې اندازې او کچې درلودونکی دی. شاوخوا ۳۶.۶ سلنه ماشومان ،چې له پنځوکلونو ښکته عمر لري، د خوار ځواکې څخه ځوریږي. ډیر ماشومان او مېندې د ویټامینونو او منرالونو له کموالی سره مخامخ دي.

دلنګون او زیږون پروخت په افغانستان کې دمېندو دمړینې شمیر او اندازه په هرو سلو زرو ژوندي زیږونو کې ۱۶۰۰ مړینې په ۲۰۰۲ میلادي کال کې ، په بې ساري ډول راکمه شوې ده. دافغانستان دنفوس روغتیایي سروې په رپوټ کې، چې پر ۲۰۱۵ میلادي کال دمرکزي احصائیې ادارې له خوا او د امریکا متحده ایالتونو دپرمختیایي ادارې په مالي مرسته ترسره شوی ده، په هر ۱۰۰ زره ژوندي زیږونې او ولادت کې دمېندو دمړینې ۱۲۹۰ مړینې یادونه شوې ده. په دې ترتیب، په دې سروې کې خرڅندیږي، چې دمړینې اندازه به لوړه اټکل شوې وي. د ملګرو ملتونو نړیواله کاري ډله د مېندو د مړینې د ارزونې په هکله له شته ارقامو څخه ګټه اخلي، تر څو په نړۍ کې ممکن وخت کې په افغانستان کې د مېندو د مړینې د پیښو اټکل وشي کړی.

د افغانستان دنفوس دروغتیا سروې اوسني اټکلونه دېریالیو زیږونو او ولادتونو دپیښو تر پوښښ لاندې راوستلو له کراف سره پوره توپیر لري (۵۰،۵ سلنه زیاتوالی نسبت ۲۰۰۳ میلادي کال کې ۱۵،۶ سلنې ته لیدل کیږي). لکه څنګه چې دروغتیایي ساتنو او ځارنو دکیفیت ښه والی په بیلابیلو روغتیایي نظرسنجولو کې، روغتیایي خدمتونو ته فزیکي لاس رسي (د ۲۰۰۲ میلادي کال په پرتله روغتیایي اسانتیاوو ته دلاس رسی ځلور برابره زیاتوالی) او داغیز کولو په نورو شاخصونو کې پرمختک (دمثال په ډول: تر پنځو کلونو دراښکته عمرلرونکو ماشومانو مړینه، په هرو ۱۰۰۰ زیږونو کې ۵۰ مړینه) راڅرګند شوی دی. نورې اړوندې سروې ګانې هم دمېندو دمړینې شمیره له ۱۲۹۰ څخه لږه اټکل کړې ده.

د کندهار په یوه ولسوالۍ کې دې محلي کلینیک د صحتمندي پروژې په مرسته پر نوو وسایلو او امکاناتو تر سنبالېدو وروسته خلکو ته باکیفیته روغتیایي خدمتونه وړاندې کړي. په سیمه کې د کلي یو اوسېدونکی وایي، "که دا کلینیک دلته نه وای، مور مجبور و په کندهار ښار کې کوم خصوصي کلینیک یا روغتون ته ورشو. مور ته دلته دوا، واکسینونه او تقویتي غذایي مواد راکول کېږي."

د روغتیا برخه کې پرمختګونه

له پنځو کلونو ښکته عمر لرونکو ماشومانو د مړینې اندازه له ۲۰۰۳ میلادي کال څخه تر ۲۰۱۸میلادي پورې په هر ۱۰۰۰ ژوندیو زیږونونو کې له ۲۵۷ څخه ۵۰ پیښو ته کمښت موندلی دی.

د نویو زیږیدلو ماشومانو د مړینې اندازه له ۲۰۰۳ میلادي کال څخه تر ۲۰۱۸میلادي کال پورې له ۵۳ څخه ۲۳ ته په هرو ۱۰۰۰ ژوندیو زیږونو کې راتیټه شوې ده.

د فعالو روغتیایي مرکزونو شمیر په ۲۰۰۲ کال کې له ۴۹۶ څخه۲۸۰۰ ته په ۲۰۱۸ کال کې پورته شو او په همدې حال کې د ښځینه کارکوونکو شمیر په دې تاسیساتو کې زیات شوی دی.

د تجربه لرونکو روغتیایي کارکوونکو په شتون سره په ټیټ عاید لرونکي قشرکې د زیږیدنې اندازې له ۱۵،۶ سلنې ۵۹ سلنې ته زیاتوالی موندلی دی.

دروغتیایي خوندیتوب پوښښ، چې د (PENTA3) یا (دپنځو واکسینونو مجموعه: دیفتري، توره توخله، تیتانوس او هیپاتیټس B) په نوم یادیږي، له دوه برابرو څخه زیاته، یعنې له ۲۹ سلنې څخه ۶۱ سلنې ته د لږ عاید لرونکی قشر په ماشومانو کې، چې عمرونه یې له ۱۲ څخه تر ۲۳ میاشتو پورې دي، زیاتوالی موندلی دی.

د امیدواری ضد ګولیو (تابلیتونو) څخه داستفادې عمومیت (له هرې نوې لارې څخه استفاده) په سلو کې له ۱۰ څخه په سلوکې ۱۹،۸ ته زیاتوالی موندلی دی.

/ زیر بناء

دافغانستان د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ د ودې پروژه

د نړیوال بانک ۵۱ میلیون ډالره وړیا مالي مرسته

د دغې پروژه هدف د ښه کیفیت لرونکو انټرنټي خدماتو ته لاسرسۍ، په دغه سکټور کې د خصوصي پانګه اچونې جذب او همدارنګه د دولتي ادارو د ورټیا ښه والی بلل کېږي، تر څو ټولې دولتي اداري وکولای شي د یوې واحدې دیجیټلي زیربنا د جوړولو له لارې د دیجیټلي ټکنالوژۍ په واسطه خپل خدمات خلکو ته وراندې کړي او د دې سکټور د ودې لپاره مناسب چاپېریال برابر کړي. د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت د دغې پروژې د پلي کولو مسئولیت پر غاړه لري.

د افغانستان د غله جاتو د ستراتیژیکو زیرمو پروژه

۲۰۳ میلیون ډالره وړیا مرسته د نړیوال بانک لخوا

۹۰۷ میلیون ډالره وړیا مرسته د جاپان د ټولنیزې پراختیا د صندوق لخوا

دغه پروژه د کرنې، اوبه لګونې او مالدارۍ له وزارت سره مرسته کوي، څو د افغانستان زیامنونکو او مستحقو کورنیو لپاره د غله جاتو، بالخصوص د غنمو، ستراتیژیکې زیرمې جوړې کړي. دا به له دوي سره مرسته وکړي، چې کله د اضطراري اړتیاو په وخت کې غذایي توکو ته د دوي لاسرسی کمیږي، له دې ډیرمو څخه ګټه واخلي او همدارنګه هیله ده، چې دغه پروژه د غله جاتو د ډیرمو پر اغېزمنتیا او ښه والي هم خپل مثبت تاثیر ولري.

دغه پروژه د یو نیمه خپلواک دولتي شرکت درامینځته کیدلو، چې د هیواد دغلو دانو د زیرمو د مدیریت مسوولیت پر غاړه ولري او خپل فعالیتونه له دولتي ادارو او ټموېلوونکو سره همغږي کړي، مرسته او ملاتړ کوي.

دغه پروژه له مخکې څخه د موجودو دو ګودامونو امکاناتو ته لاوړتیا بخښلی ده او څلور نور لوی کودامونه یې د غنمو د زیرمه کولو له پاره جوړ کړي دي، سربیره پردې د دې اسانتیاوو د فعالیت په منظور به د نړیوالو معیارونو په رعایت کولو سره د بشري منابعو ملي ظرفیت رامینځته کړي. اټکل کیږي، چې د دغې پنځه کلنې پروژې له پای ته رسیدو وروسته به دهغو غنمو د زیرمه کولو له پاره مجموعي ظرفیت ۲۰۰۰۰۰ متریک ټنو ته زیاتوالی وموميږ، چې د دوو میلیونو افغانانو د شپږ میاشتو لګښت له پاره کفایت او بسنه کوي.

دا پروژه د غلې ګدامونو ودانولو په پیچلې تدارکاتی پروسې سربېره پر مخ روانه ده. د کابل د غلې د اوسپنز ګدام (سیلو) له داوطلبۍ وراندې ناسته بشپړه شوېده او ټمه ده چې د دوو نورو ګدامونو د تدارکاتو پروسه په نږدې وخت کې پیل شي.

د غلې زېرمو د مدیریت منشور جوړ شوی او د عدلیې وزارت په تقنیني پلان کې شامل شوی. د درېو اجرایوي لارښودونو لومړنۍ مسوده بشپړه شوې. دا پروژه د ملګرو ملتونو د خوړو نړیوال پروګرام له تخنیکي مرستې، په ځانګړې ډول د ودانولو او فزیکي زېرېنا په برخو کې، ګټه پورته کوي.

د منځنی اسیا څخه جنوبي اسیا ته د بریښنا د لیږد پروژه (کاسا - ۱۰۰۰)

۵۲۶.۵ میلیونه ډالره وړیا/ یا بې ګټې پور د افغانستان له پاره

د ۳۱۶.۵ میلیونه ډالره وړیا مرستې په ګډون

دغه دبریښنا دانتقال زیربنایي پروژه به سودا ګریز او جوړښتي ترتیبات په افغانستان، قرغیزستان، پاکستان او تاجکستان هیوادونکي او همدارنګه دپایښت لرونکې ۱۳۰۰ میګاواټه سوداګریزې بریښنا له پاره دارټیاور زیر بناوې هم ترلاس لاندې ونیسي.

د دې پروژې مجموعي بودجه ۱،۱۷ میلیارد ډالر وراندوینه شوې، چې له هغې جملې څخه ۵۲۶.۵ میلیونه ډالر نړیوال بانک دپورونو او وړیا مرستې په ډول څلورو هیوادونو ته تخصیص ورکړی دی. د اسلامي پرمختیا بانک او د اروپایي اتحادیې د پرمختیا او بیا رغونې بانک، دامریکا دمتحده ایالتونو دولت، د بریتانیا د شاهي دولت د نړیوالې پرمختیا اداره، او د امریکا د متحده ایالتونو د نړیوالې پرمختیا ادارې په ګډون نورو پرمختیایي همکارانو د دې پروژې د ټموېل ژمنه کړې ده.

د (کاسا- ۱۰۰۰) پروژه د ۱۲۰۰ کیلومترو څخه زیاته د بریښنا د لیږد پروژه ، دبریښنا انرژي د تاجکستان او قرغیزستان د بریښنا د تولید سټیشنونو څخه د پاکستان او افغانستان کې سب سټیشنونو ته بریښنا لیږدوي، رامینځته کوي. دا پروژه د مهندسۍ طرح ، د لیږد د شبکو جوړول او تر سره کول او دوه تبدیلونکي سټیشنونه هم ټموېلوي. د تولید سټیشنونه چې د لیږدیدونکی انرژي د (کاسا- ۱۰۰۰) له لارې برابروي، ځینې سټیشنونه، لکه د توکتوګول سټیشن د قرغیزستان په جمهوریت کې او د نوریک سټیشن په تاجکستان کې د پخوا څخه فعال دي. د ټرون لیک د محتوا پر بنسټ، په کاسا ۱۰۰۰- پروژه کې یو لږ مهم فعالیتونه لکه: د انجنیرۍ ډیزاین، ودانیزه چارې او د لوړ ولټاژ لرونکې برېښنا انرژۍ عملي لیږد او په قرغیزستان

د هرات پر برېښنا پروژې کار روان دی.
د دې پروژې له لارې به د هرات ولایت
په غوره شوبو ساحو کې ۲۳۰۰۰۰ خلکو
او ۱۶۰۰ دفترونو او کرنیزو کاروبارونو ته
برېښنا وغځول ځي.

او تاجکستان کې د هغې اړوند فرعي ټمځایونو جوړښت، له تاجکستان څخه پاکستان ته د افغانستان له لارې د لوړ ولټاژ انرژۍ د مخامخ لیکې لیږد، او په تاجکستان، پاکستان او افغانستان کې د لوړ ولټاژ لرونکې انرژۍ د متناوب بهیر د بدلون د درې مرکزونو جوړښت بلل کیږي. په ورته مهال، په ۲۰۱۶ کال کې د دغې پروژې ځلورو غړو هیوادونو د دغه ټرون لیک مندرجاتو ته بیا کتنه وکړه او پر بنسټ یې په کابل کې د هغې دستګاه له جوړښت څخه لاس واخیستل شو، کوم چې د دې سې برېښنا بدلون یې په ای سې باندې ممکن کولای شو.

د دې پروژې له مجموعي بودجې څخه افغانستان ۳۱۶.۵ میلیونه ډالره وړیا مرسته، ترلاسه کړې ده، چې هغه د نړیوال بانک د نړیوالې پرمختیا ادارې له خوا برابره شوې وه، دغه مبلغ به ۵۶۰ کیلومتره د لوړولټاژ د شبکې لیږدونې مزې د تاجکستان د سنګتودې له تبدیلونکي سټیشن څخه دپاکستان د نوشهرې تبدیلونکی سټیشن پورې ټمویل کړي. سربیره پردې افغانستان له منځنۍ آسیا څخه ترجنوبي آسیا پورې د برېښنا د انتقال د سیمه ییزې پروژې د مرستې او ملاتړ له پاره دافغانستان دبیارغونې صندوق ۴۰ میلیونه ډالره وړیا مرسته ترلاسه کړې ده. (۴۴مخ وګورئ.)

داسې هیله او توقع کیږي، چې افغانستان ۳۰۰میګاواټه برېښنا د موجودو ۲۲۰ کیلو ولټه لاینونو له لارې له تاجکستان او قرغزستان له جمهوریتونو څخه د سنګتوده تبدیلونکي سب سټیشن څخه او د پلخمرۍ له لارې په کابل کې د چمتلې تر سب سټیشن پورې وارد کړي. د افغانستان بریښنا شرکت د جوړولو او عملیاتو پراوونو امنیت د تامین په شمول د افغانستان د برخې د تطبیق مسوولیت په غاړه لري.

د کاسا۱۰۰۰- پروژې عملي کار د ۲۰۱۸ کال په جنوري کې پیل شو. په افغانستان کې د لوړ ولټاژ برېښنا د لاین

لېږدولو درې قراردادونه د ۲۰۱۷ کال په ډسمبر کې لاسلیک شول. د سروې او ډیزاین کارونه په اخري مرحله کې دي. د قرارداد د مهالویش له مخې تمه ده چې د لاین غزولو کار د ۲۰۱۹ کال په درېیمه ربعه کې پیل شي.

په هېواد پورې د تړلو چاپېریالي او ټولنیزو اغېزو ارزونې د ترتیبولو قراردادونه او د لوړ ولټاژ لاین غځولو لپاره د معاوضو ورکولو کاري پلان تر پلي کېدو لاندې دی. د لوړ ولټاژ لاین غځولو پروژې د انجنیر قرارد د ۲۰۱۸ کال په نومبر کې ورکړل شو.

د کاسا ۱۰۰۰ د اساسي برخو د زیربناو د تدارکاتو پروسه په دریو نورو ملکونو کې، په ګډون د تاجکستان او پاکستان چې هلته د انرژۍ د تبدیل د دوه استیشنونو د تدارکاتي چارې بشپړې شوې او د هغې قرارداد د ۲۰۱۸ زیږدیز کال د سپتمبر په ۲۱ باندې لاسلیک شوی دی.

د هرات د بریښنا پروژه

د نړیوال بانک ۶۰ میلیونه دالرو وړیا مرسته

د دې پروژه موخه د هرات ولایت په یو شمېر ځانګړو سیمو کې له ۲۳۰۰۰۰ زیاتو خلکو او شاوخوا ۱۶۰۰ دولتي ادارو او خصوصي شرکتونو لپاره د بریښنا انرژۍ د رسولو په موخه د افغانستان له بریښنا شرکت سره مرسته بلل کیږي. ټاکل شوې، چې دا پروژه به د هرات ولایت د بریښنا انرژۍ په لاندې برخو کې له پانګوني ځخه ملاتړ وکړي: (الف) دکروخ په ولسوالی کې ۱۱۰ کیلو واټه انرژۍ د لیږدونې د لیکې او خط رامینځته کول او د کروخ، پښتون زرغون، اوبی او چشت شریف سب سټیشنونه او ۱۱۰/۲۰ کیلو واټه فرعي دستګاه او د هرات ولایت په ځلورو ناحیو کې د کوچنیو او منځنیو ولتاژونو د ویش شبکې. (ب) د هرات ولایت په بیلابیلو سیمو کې د بریښنا رسولو د شته شبکو پراختیا، پیاوړتیا او بیارغول، څو هغه له نویو جوړ شویو شبکو سره ونښلول شي. او (ج) د راتلونکو ۵ کلونو ځخه په کمه موده کې په کلیو کې د لمریزې بریښنا د تولید د شبکو او د ترکیبي بریښنا د تولید د کوچنیو شبکو جوړول.

د ۱۱۰ کیلوولټه برېښنا د انتقالي لاین غځولو، د ځلورو ۱۱۰/۲۰ کیلوولټه سب سټېشنونو او ځلورو ولسوالیو ته د برېښنا رسولو قراردادونه ورکړل شوي. کړځ ولسوالۍ ته د ۱۱۰ کیلوولټه انتقالي لاین غځولو لپاره مهم وسایل کاري ساحې ته لېږدول شوي او د برېښنا د پایو پر تهدابونو کار روان دی. د کنترول خونو او احاطوي دیوالونو ودانیز کار بشپړ شوی او د برېښنایي سویچونو د انګړ په تهداب جوړولو کار روان دی. ځلورو ولسوالیو ته د برېښنا غځولو لپاره وسایل د کار ساحې ته رسېدلي او د نصبولو کار پې جریان لري.

دا پروژه به همدا راز د شتونو معیارونو او لارو چارو د ارزوني بهیر او د نړیوالو معیارونو سره سم د افغانستان د انرژۍ سیستم لپاره د یو واحد لارښود جوړولو د چمتو والي له بهیر څخه ملاتړ کوي. د انرژۍ د شبکې د یاد لارښود د جوړولو لپاره د مشورتي خدماتو تدارکاتي قرارداد لاسلیک شوی او تمه ده چې دا لارښود به د ۲۰۲۰ کال تر اپریل میاشتې بشپړ شي.

داوبو لګولو سیستم درغونې او پراختیا پروژه

د نړیوال بانک۹۷.۶ میلیونه ډالره وړیا مرسته

دافغانستان دبیارغونې صندوق۱۱۸.۴ میلیونه ډالره وړیا مرسته

د دولت۳.۵ میلیونه ډالر مالي ملاتړ

دغه پروژه دافغانستان داوبو لګولو دسیستم رغونې او پراختیا په منظور، چې په بشپړه توګه دنړیوال بانک له خوا ټمویلېدله او د ۲۰۱۱ میلادي کال په ډسمبر کې بشپړه شوه، تطبیقیږي.

ددې پروژې له نوې جوړښت او ۲۰۱۶ میلادي کال دجولای په میاشت کې ددې پروګرام دفعالیتونو د دوام له پاره دپیاوړې کوونکي مالي وجهې پرتامین باندې له موافقې وروسته، په ۲۱۵ زره هکټاره ځمکه کې داوبو لګولو سیستم او لږ شمیر داوبو کوچني بندونه جوړ او بیارغول شوي دي، له دې سره یو ځای دغه پروګرام دهوا پیژندنې ، اوبو خدمتونو داسانتاوو د سیستمونو په تاسیسولو توانیدلی دي.

داوبو لګولوسرچینو په برخه کې په مجموعي ډول ۱۹۲ داوبو لګولو دشبکې طرحې رامینځته شوي، چې له هغو څخه داوبو لګولو دسرچینو په اړوندو سیمو کې ۲۰۳۰۰۰ هکټاره ځمکه (د پروژې د پای هدف د ۲۱۶۵۰۰ هکټاره ځمکې خړوبول او ۴۰۲۰۰۰ کروندګرو کورنیو ته کټه رسول دي) تر خپل پوښښ لاندې نیسي. تر دې مهاله، د ۱۶ کیلومترو مهمو سیندنې کاسو (د پروژې د پای هدف ۲۶.۳ کیلومتره دی) د تخریب د مخنیوي چارې د هېواد په بېلابېلو برخو کې بشپړې شوې دي.

د اوبو د کوچني بند په برخه کې، د ۲۲ کوچنیو بندونو د لومړنی ارزونې په ترڅ کې د سیند په شمالي کاسه کې د شپرو غوره بندونو لومړنی مطالعه تر سره شوه. د مالیې وزارت په یوه رسمي مکتوب کې ټولنیزه او چاپېریالي مطالعه له پروژې حذفه شوې، ځکه چې دولت به د هغو شپرو مهمو بندونو، چې د امکان سنجونې په څېړنه کې عالي ارزول شوي، تفصیلي ډیزاین او ودانول پخپله ټمویلوي.

د اوبو لګوني د دې سیستم بیارغوني
د ننګرهار ولایت په درېو کلیو کې د
کروندګرو حاصلات او عواید لوړ کړي.
دا ویاله ۳۳۰ هکتاره ځمکه خړوبوي او
۱۱۰۰۰ خلکو ته کټه رسوي. د اوبو لګوني
سیستم د رغونې او پراختیا پروژې لخوا
د دې ویالې په کډون ۱۹۲ د اوبولګوني
سیستمونه بیارغول شوي دي.

همدارنګه، د کابل د قرغې او د جلال اباد د درونټې بندونو پر کوچنیو ترمیماتو کار جریان لري. د افغانستان د اوبو بندونو د خوندیتوب لارښودونه جوړ شوي او دې پروژې په مرسته به بشپړ شي.

د هایدرو میټرولوژۍ په برخه کې د ۱۲۷ هایدرولوژیکې او ۵۶ میټرولوژیک او د واورو د اندازه ګیرۍ د اډو د درولو کار په پنځو دریابي حوزو کې چې د هیواد په بیلابیلو سیمو کې دي، بشپړ شوی او په ټولو مراکزو کې د هایدرولوژیکي مرکزونو د پالنې او ساتنې د مالي ټیم کار جریان لري. سربیره پردې د کیبلي تګلورو ۴۰ مرکزونه دسیندونو د پاسه جوړیږي ، د اوبو د جریان د اندازه کولو په منظور په انتخاب شویو مرکزونو کې هایدرولوژي نصب شوې او د ۳۰ نورو کیبلي تګلورو کار روان دی. یوملي عملیاتي او د ځارنې او ساتنې ټیم د ټولو هایدرولوژیکي

د هوا د هر ډول حالاتو پر وړاندې مقاوم سړک

د کابل په یوه ولسوالۍ کې پرمختګ رامنځته کړي

- د کابل په یوه ولسوالی کی کلیوالو ډپر کلونه د خامو او خرابو سړکونو له امله په ستونزمنو محیطي شرایطو کي ژوند کاوه او په ۶ کیلومتری کي یې لومړنیو خدمتونو ته لاسرسی محدود و.
- وروسته تر هغې چې د افغانستان د کلیوالي سړکونو پروژې په مرسته د دې ولسوالی عمومي سړک قیر شو، د دې سیمې اوسېدونکو ښوونځیو، روغتیایي خدمتونو او بازارونو ته لاسرسی وموند، او په خپلو کلو کي لا نورو پرمختګونو ته سترګې په لار دي.
- په کابل ولایت کي له ۱۵۰ زرو زیات اوسېدونکي د دې پروژې له را منځته شوو اسانتیاوو برخمن شوي دي او د ژوند لومړنیو خدمتونو ته د خلکو لاسرسی ښه شوی دی.

شپږ

ویشت کلن زر کریم، چې له خپلې موټرسایکلې ریکشې د ټکسي په توګه کټه اخلي، په صنوبر کلي کي د پاخه سړک خنګ ته په دې هیله ولاړ دی چې خپل بل مشتري بازار ته یوسي.

زر کریم له خو کلونو را هیسې یوه وسیله په خپل واړه موټرسایکل پسې ترلې چې په کي د میر بچه کوټ ولسوالۍ مرکز ته کلیوال وړي. پخوا چې دا سړک په بد حالت کي و او هوار نه و، ډېرو نقلیه وسایطو په دې سړک د مسافرینو له ورلو ډډه کوله. کریم چې له ټپرو ځلورو کلو په دې ولسوالۍ کې موټر چلوي وایي: "د سړک خرابولی د دې لامل شوی و چې زما موټرسایکلي ریکشه د وخت په تېرېدو ډېره زیانمنه شوه."

د سړک تر پخېدو وروسته، کریم خوښ ښکاري او له کلي څخه بازار ته په تک راتګ او مالونو وړو راوړو کې له اسانیا راضي دی. د کابل ولایت د دې ولسوالۍ عمومي سړک په ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ کلونو کې د افغانستان د کلیوالي سړکونو پروژې لخوا قیر شو چې ورسره د دې ولسوالۍ په شاوخوا ۱۰ کلیو کې د خلکو په تګ را تګ کې اسانتیاوې را منځته شوې. زر کریم د خپلو خبرو په یوه بله برخه کې وایي: "زه او د دې سیمې نور موټر چلوونکي، چې پر دې سړک هر ورځ چټک تګ را تګ کوو، رښتیا هم خوښ یو. پته دې نه وي چې زه اوس د پخوا په پرتله ډېر عاید لرم ځکه اوس هره ورځ له کلي بهار ته د مسافرو او د هغو د مالونو ځلور پېرې کوم. خو پخوا مجبور وم د سړک د خرابوالي لکه کبله پر دې لار وړو لار شم، چې د ورځې به مې یوازې یوه پېره کوله. ځینې وخت مجبورم وم د سړک ځینې برخې د لارې په اوږدو کې پخپله جوړې کړم او بیا پرې تېر شم."

دا ۳.۱ کیلومټره پوخ شوی سړک د کابل ولایت میر بچه کوټ ولسوالۍ ۸۷۰۰ اوسېدونکي په شپږ کیلومټرۍ کې له لومړنیو خدمتونو سره نښلوي، او هم یې له هغو سړکونو سره تړلې چې نورو کلیو او کابل بهار ته تللي دي.

په پرمختګ کې ونډه اخیستل

په کابل ولایت کې د افغانستان د کلیوالي سړکونو پروژې مسول مدیر ۳۶ کلن احمد حامد سیرت وایي چې د افغانستان د کلیوالي سړکونو پروژې د دې ولسوالۍ پر وده مثبت اغېز لرلی. هغه زیاتوي: "پخو سړکونو د خلکو په ژوند کې پرمختګ ته لار هواره کړې—ښوونځیو، روغتونونو او نورو کلیو او بهارونو ته اسانه لاسرسی د مېرېچه کوټ د ودې لپاره اړین دی." سیرت وایي: "زمونږ خلک د خپل وضعیت په شا کولو کې مرستې ته اړتیا لري، او هوار سړکونو د دوی سره د مرستې په برخه کې لومړنی ګام دی."

د افغانستان د کلیوالي سړکونو پروژه د ترانسپورت وزارت او کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت لخوا د مالیې وزارت په همغږۍ پلي کېږي. تر اوسه د افغانستان د کلیوالي سړکونو پروژې لخوا په کابل ولایت کې ۱۹ د بیارغونې پروژې بشپړې شوې دي او د کابل بهار او شاوخوا سیمو څه باندې ۱۵۰ زره اوسېدونکي د دې پروژې له خدمتونو ګټمن شوي دي. په شپږو نورو پروژه کار روان دی چې تر بشپړېدو وروسته به ۴۰ زرو خلکو ته کټه ورسوي.

د هوا د هر ډول حالاتو پر وړاندې د مقاومو سړکونو اساسي رغولو د کلیوالو سیمو اوسېدونکو ته د خوندي او معیاري ترانسپورتي اسانتیاوو زمینه برابره کړي او د میر بچه کوټ ولسوالۍ د اوسېدونکي په منځ کې یې د ټولنیز مشارکت روحیه پیاوړې کړې. د سیاب چرمګر کلي یو کروندګر ۶۵ کلن حاجي نظام الدین وایي: "وروسته تر هغې چې دا سړک په اساسي توګه قیر شو، زمونږ ټولې ترانسپورتي ستونزې حل شوې دي. اوس موټر ان زمونږ د کور وره ته نږدې را تلی شي. زه او زما د کورنۍ غړي په ډېرې اسانۍ هر چېرته سفر کولای شو."

> "وروسته تر هغې چې دا سړک په اساسي توګه قیر شو، زمونږ ټولې ټرانسپورتي ستونزې حل شوې. اوس موټر ان زمونږ د کور تر وره راتلای شي. زه او د کورنۍ غړي مې په اسانۍ هر چېرته سفر کولای شو."
>
> –**حاجي نظام الدین**، د کابل ولایت د میر بچه کوټ ولسوالۍ د سیاب چرمګر کلي یو کروندګر

مرکزونو د حفظ او مراقبت د عملیاتو په منظور رامینځته شوی دی.

په دې برخه کې د اوسنیو پرمختګونو لنډیز داسې دی: د پنج- آمو دریایي حوزې ماستر پلان تصویب شوی، د پولو پالیسۍ کابینې ته وړاندې شوې، ټول نظریات او وړاندیزونه پکې شامل او توحید شوی او د بشپړیدو په درشل کې دي. د اوه ښارونو (فراه، هرات، جلال آباد، کابل، کندهار، مزارشریف او زرنج) لپاره د ژورو ځاګانو دکیندنې او د هغې جیوفزیکي سروې لپاره د دندو لایحه بشپړه شوې او کومه کمپنۍ چې په کابل کې د پروژې مسئولیت پرغاړه اخلي، د هغې د ګمارنې پروسه جریان لري. د ځمکې لاندې اوبو لپاره مقدماتي هایدرولوژیکي نقشې په ملي کچه جوړې شوې چې په هغې کې د ځاګانو د ژوروالي، د ځمکې لاندې د اوبو کچه او د اوبو د کیفیت د نقشو معلومات شامل دي.

/ د کلیو پراختیا

د افغانستان د کلیوالي سړکونو جوړولو پروګرام

د نړیوال بانک ۱۲۵ میلیونه ډالره وړیا مرسته

د افغانستان د بیارغونې د صندوق ۳۱۲ میلیونه ډالره وړیا مرسته

دافغانستان دکلیوالي لارو او سړکونو جوړولو پروګرام دکلیوالو استوګنو دځواکمنولو لپاره، چې ددغو لارو او سړکونو په وسیله په هر ډول جوي حالاتو کې اساسي خدمتونو او اسانتیاوو ته لاس رسی موندلای شي، په ټول افغانستان کې مرسته کوي. دغه پروژه په پام کې لري چې یو شمیر هغه استوګن، چې له هغو کلیوالي سړکونو څخه ددوه کیلومترو په واټن استوګنه لري، چې د کال په اوږدو کې ورځنۍ استفاده کېږي، زیات کېږي او ضروري خدمتونو ته دلاسرسي لپاره د تګ وخت راکم کړي، او د کلیوالو استوګنو لاسرسی ضروري خدمتونو ته اسانه کړي.

د ۲۰۱۹ کال د جولای تر ۳۱ پورې د دې پروژې له لارې په ۶۷۰ کیلومتره دویمه درجه سړک کریر اچول شوی، ۲۶۰ کیلومتره دویمه درجه سړک قیر شوی،۱۵۰۰ کیلو متره دریمه درجه سړک بشپړ شوی دی. سربیره په دې د ۱۴۸۰ مترو په اوږدوالی دویمه درجه او ۱۹۸۰ مترو په اوږدوالي دریمه درجه پلونه هم جوړ شوي دي.

په عین وخت له ۶۰۰ کیلومتره دویمه درجه سړک منظمه ځارنه او ساتنه ترلاس لاندې نیول شوي ده او د ۳۵۰۰ کیلومتره دریمه درجه سړک منظمه ساتنه او ځارنه هم بشپړه شوې ده.

د هیواد په سطحه د کلیوالی سړکونو او لارو لومړنۍ موجودې او سروې (ارزیابي) بشپړه شوی او همدارنګه په سلو کې ۹۰ د دویمې درجې او له هغې څخه دلوړو سړکونو موجودي دهیواد د ۳۴ولایتونو له جملې څخه په ۳۲ ولایتونو کې تراوسه بشپړه شوې ده.

د افغانستان ولسي ټرون پروګرام

د نړیوال بانک ۲۲۷.۷ میلیونه ډالره وړیا مرسته

د افغانستان د بیارغونې د صندوق ۴۴۴.۳ میلیونه ډالره وړیا مرسته (د نړیوال بانک د ۱۳۷.۷ میلیونه ډالره پیاوړی کوونکي وړیا مرسته او د افغانستان د بیاغونې د صندوق ۴۴.۳ میلیونه ډالره وړیا مرستې په ګډون، چې د سیمه ییزو بې ځایه شویو له پاره بې د بیرنۍ ځواب ویلو په منظور د ولسي ټرون پروګرام له پاره ورکړې دي.

۱۲۸z میلیونه ډالر دافغانستان د دولت له سرچینو څخه

د ولسي ټرون پروګرام د ملي پیوستون د دیر بریالي پروګرام ځای ناستی دی، چې په تیرو ۱۴ کلونو کې بې دزیربناوو ټولنمحوره پرمختیا او د خدمتونو وړاندې کول کلیو او باندو ته معرفي کړل او د هغو ټلنه یې ۳۵۰۰۰ کلیو ته خوره او پراخه کړه. داسې هیله کیږي، چې دغه پروګرام په راتلونکو څلورو کلونو کې تطبیق او په عمل کې پلی شي.

دا پروژه به د افغان دولت د ۱۰ کلن ولسي ټرون ملي پروګرام د لومړنۍ مرحلې ملاتړ وکړي او د هېواد درېیمه برخه به تر پوښښ لاندې راولي. ټه ده چې د دې پروګرام لومړنۍ څلور کلنه مرحله به په ۲۰۲۰ کال کې بشپړه شي.

د ولسي ټرون د پروګرام موخه او هدف ګډون کوونکو سیمو او خاپونو ته دسیمه ییزو پرمختیایي شوراګانو د پیاوړتیا له لارې د اساسي زیربنایي خدمتونو او عامه خدمتونو د وړاندې کولو سَبه والی دی. په دغو خدمتونو کې لږ تر لږه هغه معیاري خدمتونه شامل دي، چې د افغانستان دولت بې دهیواد اتباعو ته په وړاندې کولو مکلف دی.

د ولسي ټرون پروګرام یو بین الوزارتي پروګرام دی ، چې د اساسي خدمتونو د بستې د وړاندې کولو له پاره رامینځته شوی او په څلورو برخو کې تنظیم شوی دی:

لومړۍ برخه: د معیاري خدمتونو وړیا مرسته، دغه برخه د سیمې او محل پرمختیایي شوراګانو ته دوه ډوله وړیا مرستې برابروي:

(الف) کلیوالی معیاري خدمتونو وړیا مرستې ، د کلیو د پرمختیا او بیارغونې وزارت د دغو وړیا مرستو د هر اړخیز تطبیق مسوولیت په غاړه لري. دغه فرعي جز لږ تر لږه معیاري زیربنایي خدمتونه تر خپل پوښښ لاندې کلیو ته وړاندې کوي. د هرې ټولنې له پاره تخصیص به د لومړنیو اړتیاوو د ارزیابۍ په اساس د لږ تر لږه اړتیاوو په وړاندې دخدمتونو د معیارونو پربنسټ وټاکل شي. په پانکه اچونو کې به د اوبو رسول او د یوې پروژې انتخاب له هغې جملې څخه لومړنیو سړکونو ته دلاس رسۍ، بریښنا او یا د اوبو لګولو کوچنۍ پروژې شاملې دي.

(ب) په ښارې ساحو کې نغدي وړیا مرستې. د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره ، د ولسي ټرون تطبیقوونکی برخه. دغه ارګان په کوچنیو زیربنایي پروژو کې د وړیا مرستو د هر اړخیز تطبیق دنده او مسوولیت پرغاړه لري، چې د ۶۰۰محلي ښارې شوراګانو او ۱۲۰ د ګذر شوراګانو له لارې

د هغو کلیوالي پراختیایي شوراګانو، چې د ولسي ټرون پروژې لخوا جوړې شوې، شاوخوا نیمایي غړې ښځې دي. دا ښیي چې د ټاکنو نوی سیستم او د شورا د حکومتولۍ نوي قواعد اوس تر پخوا ډېر اغیزمن دي.

د ولسي ټرون د لومړي پراو له تطبیق څخه ټمه کیږي، چې لاندې پایلې ترلاسه شي:

- د ولسي ټرون د لومړي پراو د تطبیق په ترڅ کې د ۱۰ میلیون تنو وګړو د دې خدمتونو څخه برخمن کیدل
- صحي اوبو ته د هیواد ۳.۴ میلیون وګړوته لاس رسۍ
- د روغتیا، معارف ، سړکونو او بریښنا انرژی په برخه کې سَبه والۍ
- په دولت باندې د خلکو رضایت او اعتبار زیاتیدل
- په زیربنایي پرژو کې له پانکه اچونې څخه، د ۳۵ سلنه کتې ترلاسه کول

په څلورو سترو ښارونو (هرات، مزارشریف، کندهار او جلال آباد) کې تطبیقیږي. د غوراوي او انتخاب په لیک لږ کې د سړکونو، پارکونو، پلیو لارو د ځراغونو د نصبولو، دځښلو داوبو برابرولو ، د جامدو کثافاتو مدیریت ترتیبات او د ښځو اقتصادي فعالیتونو سَبه والی شامل دی. دغه فرعي جز د خدمتونو وړاندې کول او دسیمه ییزو (محلي) پرمختیایي شوراګانو کلستر/ ګذر ، دښارونو د ناحیې او ښاروالی تر مینځ د اړیکو رامینځته کول تر خپل پوښښ لاندې راولي.

۲ برخه: د بنسټونو تاسیس او د رامینځته کیدل، دغه برخه د ظرفیت د لوړولو فعالیتونه ، تخنیکي مرستې او د ټولنیزو خدمتونو اسانتیاوې ترخپل پوښښ لاندې راولي. د کلیو د رغونې او پراختیا وزارت په کلیو او باندو کې له ۱۴ تسهیل کوونکو بنسټونو سره یو ځای، چې ولایتي او د ولسوالیو کارکوونکو ته د ځارنې د پروژې د پرمختیا راپور ورکولو، ټولنیزو کارکوونکو له پاره د ظرفیت لوړولو د زده کړو او په ۳۴ ولایتونو کې دانجینرۍ او تخنیکي مرستو د برابولو مسوولیت په غاړه لري، کارکوي.

په ښاري ساحو کې د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره د ملګرو ملتونو دهبیتات له پروګرام سره ، چې د ځارونکی مشاور او سلاکار په توګه او همدارنګه د ځلور محلي تسهیل کوونکو بنسټونو سره د ظرفیت د لوړولو د ځارنې او د پروژې د پرمختیا د راپور ورکولو په برخه کې د ښاروالی د کار کوونکو د زده کړې په برخه کې کارکوي.

۳ برخه: ځارنه او د پوهې زده کړه. په دغه برخه کې قوي ځارنه او دزده کړې فعالیتونه دکلیو له سطحې ځخه ترملي سطحې پورې، دسیمو اومحلونو یا ټولنو ترمینځ لیدنې کتنې، په ځانګړې توګه د ښځو له پاره، موضوعي مطالعات او ارزیابۍ شاملې دي. دغه برخه د ځارنې او د کډې ارزیابۍ د اسبابونو یا ابزارو یو طیف لري، د هر اتباع او وګړی دامتیازي کارتونو د رامینځته کولو په شمول، چې باید د محلي یا سیمه ییزو پرمختیایي شوراګانو او ټولنیزو تنظیموونکو په واسطه د حد اقل خدمتونو د معیارونو د راپور ورکولو له له پاره باید تکمیل شي.

۴ برخه: (نوې برخه او د پیاوړی کوونکي بودجې ترتامین لاندې): د پروژې تطبیق او مدیریت دغه جز د پروژې مدیریت او ځارنه په ملي، ولایتي او ولسوالیو په سطحو په کلیوالو ساحو او د زونونو په ځلورو مرکزي ښارونو کې د ښاري مدیریتونو په واحدونو کې ترخپل پوښښ لاندې راوړي، چې پکې ځینې برخې، لکه: د پالیسۍ او علمیاتي پلان جوړونې، د ظرفیت د لوړولو، د معلوماتي مدیریتونو سیستمونه، شکایتونو ته د رسیدنې میکانیزمونه، د بشري منابعو مدیریت، ارتباطات، له ساحې سره د ټمویلوونکی همغږي اوهماهنګي، د مالي سرچینو (منابعو) او تدارکاتي فعالیتونو مدیریت او د امنیتي چارو ځارنې برخې شاملې دي.

۵ برخه (نوې برخه او د پیاوړی کوونکي بودجې تر تامین لاندې): د ټولنیز مشارکت اوګډون له پاره وړیا مرستې، د جوړولو له پاره ساتنه او ځارنه، دغه جز د ټول کټو او عام المنفعه او د انساني ځواک په واسطه تطبیق کیدونکو پروژو له لارې د لنډ مهاله او عاجلو بیرنیو کاري فرصتونو برابرونکی دی.

همدارنګه له ډله ییزو فعالیتونو ځخه مرسته او ملاتړ، د عامه ګټو له چوکاټ ځخه د باندې، چې موخه او هدف یې د زیات ټولنیز ګډون او مشارکت رامینځته کیدل او له ډیرو بیوزلو، غریبو او زیاتمن شویو وګړو سره مرسته په دې برخه کې شامله ده.

دوه فرعي برخې:

(۱) د ټولنیز مشارکت او ګډون وړیا مرستې او په تطابقي بنه ډله ییز فعالیتونه د ۲۰۰۰ ډالرو په ارزښت د هر محل یا اجتماع له پاره د انګیزې ورکولو او ټولنیزو د خیر شیکټې فعالیتونو د هڅونې له پاره تخصیص ورکول کیږي. دتطابقی وړیا مرستو او ټولنیزو مرستو یو ځای کول، په لومړیو کې په کلیو او یا پام وړ ټولنو کې د ډیرو غریبو او بیوزلو وګړو له پاره د غذایي موادو/ غنمو یو بانک رامینځته کول به تر استفادې لاندې ونیول شي. داسې هیله او توقع کیږي، د بې وزلو ا وغریبو وګړو له پاره د خوړو (غذاوو) دویش او لګښت ځخه وروسته دغه غدایي بانک باید په دوراني بنه دټولنیزو مرستو په واسطه دوه ځله ډک شي.

(۲) د ساختمان او جوړښت د ځارنې او ساتنې په خاطر وړیا نغدي مرستې: د ډیرو غریبو او زیاتمن شویو کورنیو او د سیمې او محل کارکوونکو کورنیو له پاره د کار په مقابل کې په نغدي بنه اجوره ورکول، په کلیو کې د عام المنفعه پروژو د جوړولو چارو د ساتنې او ځارنې په منظور په بیرنۍ او عاجله توګه ورکول کیږي. دغه کارګره طبقه او زیاتمن شوې کورنۍ، چې د ټولنیزې پرمختیا دیوې طریقې او روش په اساس یې پیژندنه او مدیریت کیږي، له دغو نغدي وړیا مرستو ځخه ګټه اخلي. د پیسو په مقابل کې کار برخه کې به ترمیمونه، بیارغوني، پاک کاری، توسعه او ودانیز (ساختماني) کارونه شامل وی. د خدمتونوپه مقابل کې نغدي وړیا مرستې به دیرو غریبو او بیوزلو کورنیو ته، چې نشې کولې په عامه کارونو کې ونډه واخلي، تر خپل پوښښ لاندې راولي.

د کوچیانو د ودې فرعي پروګرام د ولسي ټرون پروژې یو فرعي پروګرام دی. دا فرعي پروګرام د ۲۰۱۹ کال په اپریل کې پیل شو او موخه یې دا ده چې په افغانستان کې د کوچیانو له نیمه ګرځنده او پوره ګرځنده ټولنو سره مرسته وکړي. دا پروګرام د برابرۍ، شمولیت، ګډون، حساب ورکونې او شفافیت اصولو پلي کولو ته ژمن دی. د کوچیانو د ودې فرعي پروګرام به د ولسي ټرون پروژې له لارښوونو سره سم پلی کېږي.

د کوچیانو د ودې فرعي پروګرام به د کوچیانو ټولنو ته د روغتیا، پوهنې، سړک جوړونې، ځښاک اوبو رسونې، بریښنا او چټلو اوبو ویستنې په برخو کې د پراختیایي خدمتونو په رسولو کې مرسته وکړي. د کوچیانو د فرعي پروګرام په سکتوري لست د کوچي ټولنو لپاره ځانګړې خدمتونه، لکه لمرینه بریښنا، د بایوګاز سیستمونه او د اوبو عصري ذخیرې، په نظر کې نیول شوي.

تر دې دمه لاندې کارونه ترسره شوي:

په کلیوالي سیمو کې: له ۱۱۶۰۰ زیات کلیوالي پروفایلونه بشپړ شوي؛ شاوخوا ۱۱۵۰۰ نوې کلیوالي پراختیایي شوراګانې رامنځته شوي؛ له ۱۱۲۰۰ ډېر کلیوالي پراختیایي پلانونه بشپړ شوي؛ او د فرعي پروژو له ۱۰۹۰۰ زیات پروپوزلونه چمتو شوي.

په ښاري سیمو کې: له ۸۴۰۰ زیاتو محلو (ټولنو) کې پروژې پلي شوي. ټولټال ۸۳۶ محلي پروفایلونه بشپړ شوي؛ ۸۳۶ محلي پراختیایي شوراګاني جوړې شوي؛ ۸۱۳ محلي پراختیایي پلانونه بشپړ شوي؛ او د فرعي پروژو ۸۳۴ پروپوزلونه منظور شوي.

په مجموع کې د مخه دسیمه ییزو پرمختیایي شوراګانو ۹۲ سلنه غړیتوب، د ملي پیوستون د پروګرام تر پوښښ لاندې ساحو کې د نویو غړیو په ګډون (دمثال په توګه: هغوی چې هیڅ وخت کې په سیمه ییزو پرمختیایي شوراګانو کې فعالیت نه درلود) او نیمایي ته نږدې (په مجموع کې ۵۰ سلنه او ۴۹ سلنه د دفتر کارکوونکي) ښځې تشکیلولي.دغه

په هرات کې د دغو غالۍ اوبدونکو په ځبر بیوزلو ښځو ټولنیزه او اقتصادي ځواکمنتیا به د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا— کلیوالي پراختیا پروګرام له لارې پیاوړې شي. د چتک ټولنیز خوځښت پر مټ د پروژې د یوازې ځو میاشتو په بهیر کې د هېواد په ګوټ ګوټ کې د ښځو لپاره د سپما ۴۰۰۰ ډلې جوړې شوي. د سپما ډلو په ځلورو کې نږدې درې برخې غړي د کلیو له غریبو کورنیو دي.

نښې نښانې ځرګندوي، چې د ټاکنو نوی سیستم او د سیمه ییزوپرمختیایي شوراګانو اداړې نورمونه ډیرې قوي اغیزې لري.

د ښځو اقتصادي پیاوړتیا— د کلیوالي پراختیا پروګرام

د نړیوال بانک ۲۵ میلیونه ډالره وړیا مرسته

د افغانستان دبیارغونې صندوق ۷۵ میلیونه ډالره وړیا مرسته

د ښځو اقتصادي پیاوړتیا— د کلیوالي پراختیا پروګرام هدف په ټاکلو ځایونو کې د بهوزلو کلیوالو ښځو د اقتصادي او ټولنیزې ځواکمنتیا لوړول دي. د ښځو اقتصادي ځواکمنتیا لپاره د کلیوالي پراختیا پروګرام د ښځو ځواکمنتیا د ملي لومړیتوب لرونکي پروګرام غټه برخه برخه ده (۵۴ مخ وګورئ) او د افغانستان د کلیوالي صنایعو د ودې پروژې په ادامه رامنځته شوی دی.

کلیوالي غذایي بانکونه د بېوزلو خلکو خوراکي اړتیاوې پوره کوي

- د کابل ولایت په یوه ولسوالۍ کې بې وزله کورنۍ د غذایي بانکونو له مرستو برخمن کیږي. دا بانکونه د هېواد په ګوټ ګوټ کې رامنځته کیږي.
- د دې ولسوالۍ شاوخوا ۶۰ سلنه اوسېدونکو د غذایي بانکونو له مرستو ګټه پورته کړې. د خوراکي موادو له دې محلي زېرمو په سختو موسمي شرایطو کې د بېوزلو خلکو غذایي اړتیاوې پوره کیږي.
- تر اوسه د ولسي ټرون پروګرام لخوا د افغانستان په ګوټ ګوټ کې له ۴۰۰۰ زیات غذایي بانکونه جوړ شوي دي.

وزیر ګل، ۴۳ کلن کروندګر او د کابل ولایت د ګلدړې ولسوالۍ اوسېدونکی، د خپل بڼ زیاڼمنو شویو تاکونو ته ګوري. د وزیر ګل د بڼ یو شمېر تاکونه په پسرلي کې ږلۍ وهلي او بیا په اوړي کې وچکالۍ خپلي. هغه اندېښمن دی چې سړ کال به د انګورو د لړو حاصلاتو له خرڅولو کافی عاید، چې د خپلې کورنۍ لومړنۍ اړتیاوې پرې پوره پوره کړي، لاسته راوړي که نه.

پر دې ټولو ستونزو سربېره وزیر ګل نهیلی نه دی، ځکه پوهېږي چې د اړتیا په وخت کې ورسره د کلي غذایي بانک مرسته کوي. دا غذایي بانک څه موده وړاندې د افغانستان د ولسي ټرون پروګرام لخوا د دوی په کلي کې جوړ شو، او د وزیر ګل د کورنۍ په ځېر نورو اړو کورنیو ته خوراکي توکي او نورې لومړنۍ اړتیاوې برابروي.

وزیر ګل د غذایي توکو د دغو بانکونو د ارزښت په اړه وایي: "کله چې یوه شوم چې د غذایي بانک د مرستو په لست کې زما د کورنۍ نوم هم شته، ډېر زیات خوشحاله شوم، ځکه دې بانک مورِ ته خوراکي توکي راکړل او ما پر هغو پیسو چې راسره وې خپلې ناروغې مېرمنې ته درمل واخیستل."

هغه کروندګر چې د وزیر ګل په ځېر د کښت لپاره لږه ځمکه لري، په طبیعي پېښو کې ډېر تر ګواښ لاندې راځي. د ولسي ټرون پروګرام د زیاڼمنونکو ډلو د برخې امر صالح محمد صامت وایي: "یوه ډېره کوچنۍ طبیعي پېښه د کلیوالي کورنیو د ژوند شرایط ویجاړولای شي. د خوراکي توکو بانکونه په دې موخه جوړ شوي چې د بېوزلو کورنیو د ژوند لومړنۍ اړتیاوې پوره کړي."

له موسمي لوړې سره مبارزه

د کلیوالي پراختیایي شوراګانو لخوا د ولسي ټرون پروګرام په مرسته د افغانستان په ګوټ ګوټ کې غذایي بانکونه جوړ شوي چې موخه یې له کلیوالو زیاڼمنونکو او بې وزلو کورنیو، او ببرته راستنېدونکو سره په سختو موسمونو کې غذایي مرسته ده. کلیوالي پراختیایي شوراګانې د کلیو په کچه زیاڼمنونکې او بېوزله کورنۍ په نښه کوي.

د افغانستان د ولسي ټرون پروګرام د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت لخوا په کلیوالو سیمو کې پلی کېږي. د ولسي ټرون پروګرام د نوښتونو یوه برخه په کلیوالو سیمو کې د غذایي بانکونو، چې په ببرنیو حالاتو کې د کډو ټولنیزو فعالیتونو په مرسته د زیاڼمنونکو او ډېرو غریبو کورنیو غذایي اړتیاوې پوره کوي، رامنځته کول دي.

د غذایي بانکونو د جوړولو کار د ۲۰۱۷ کال په پیل کې د افغانستان د ولسي ټرون پروګرام لخوا پیل شو چې اوس یې ۱۰ د افغانستان ټولو ولایتونو ته غځېدلي ده. تر اوسه د هېواد په ۴۰۰۰ کلیو او ۱۱۴ ولسوالیو کې غذایي بانکونه په عملي توګه فعالیت کوي. د کابل ولایت د ګلدړې ولسوالۍ له ۴۵ کلیو څخه په ۴۲ هغو کې غذایي بانکونه جوړ شوي او فعال دي او تاکل شوې چې ډېر ژر به پاتې درې کلي هم د دغه بانکونو له خدمتونو برخمن شي. تر اوسه ښایي د ګلدړې ولسوالۍ شاوخوا ۶۰ سلنه وګړي د دې پروژې له خدمتونو برخمن شوي وي.

د مرستې غوښتل هر وخت اسانه کار نه وي، او دا چې بې وزلې یو پټ ګواښ دی، نو ځکه ځینې وخت د بېوزلو کورنیو، په ځانګړې ډول د هغو چې د ښځو لخوا یې سرپرستي کېږي، په نښه کول ډېر ننګونکي وي. شل کلنه حفیظه صمدي او د هغې کونډه خور ۲۲ کلنه فیروزه صمدي، چې دواړه د ده نو کلي اوسېدونکي دي، دا ډول حالت لري. دغه دواړه خویندې تر ډېرې مودې په دې نه پوهېدې چې د خپل میاشتني عاید د کمولو پر مهال له چا او کوم ځایه مرسته ترلاسه کړي. حفیظه په دې اړه وایي: "له نېکه مرغه له یو څه مودې وروسته د کلي پراختیایي شورا زمور د کورنۍ اړتیا معلومه کړه او زمور کره یې د اړتیا وړ خوراکي مواد راوړل." نومورې زیاتوي، "دا مرسته داسې وه لکه مو ته یې چې ټوله دنیا راکړې وي."

> "کله چې یوه شوم چې د **غذایي بانک د مرستو په لست کې** زما د کورنۍ نوم هم شته، ډېر زیات خوشحاله شوم، **ځکه دې بانک مورِ ته خوراکي توکي راکړل او ما پر هغو پیسو چې راسره وې خپلې ناروغې مېرمنې ته درمل واخیستل.**"
>
> –**وزیر ګل**، د کابل ولایت ګلدړې ولسوالۍ د تولات کلي اوسېدونکی

د دې پروګرام فعالیتونه به د افغانستان د ۳۴ ولایتونو په ۷۶ ولسوالیو او ۵۰۰۰ کلیو کې پلې کېږي او د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي ټرون د ملي پروژې، د مالدارۍ او بنوالۍ ملي پروژې او کوچنیو پورونو او مالي سرچینو ته د لاسرسۍ پروژو په کډون به په هېواد کې له یو شمېر پراختیايي پروګرامونو سره په همغږۍ فعالیت کوي. دې پروګرام د هغو ولایتونو، چې پخوا د افغانستان د کلیوالي صنایعو د ودې پروګرام لخوا تر پوښښ لاندې وو، په نویو کلیوالي پراختیايي شوراګانو کې عملي کار پیل کړی. د ښځو اقتصادي پیاوړتیا— د کلیوالي پراختیا پروګرام د ښځو محلي بنسټونو ته د لومړنۍ پانګې او تخنیکي مرستو برابرولو او د اقتصادي ودې د تقویې لپاره له مالي موسساتو او بازار سره د دوی د نښلولو په برخه کې مرسته کوي.

دا پروژه لاندې درې برخې لري:

لومړۍ برخه: ټولنیز انسجام او په کلیو کې د پور ورکولو او سپما د اتحادیو د جوړول. دغې برخه کې شامل فعالیتونه: (الف) د ټولنیز انسجام د سپما د کوچنیو ګروپونو د جوړولو په موخه د تخنیکي مرستو برابرول چې وروسته به دغه ګروپونه د پور ورکولو او سپما له اتحادیو او انجمنونو سره د هېواد د کلیو په کچه مدغم کېږي. په دغه ملاتړ کې د منځنیو او کوچنیو متشبثینو د ګروپونو جوړونه هم شامله ده چې د کلیوالو تولیداتو او صنایعو لپاره به د بازار سره خپلې اړیکې تقویه کوي. (ب) په وروستۍ برخه کې د ظرفیتونو د ودې په موخه او د سپما ګروپونو او د متشبثینو کروپونو د مالي اجراآتو د کیفیت لوړونې فعالیتونه هم شامل دي.

دویمه برخه: مالي سرچینو ته لاسرسۍ. په دې برخه کې: (الف) د پور ورکولو او سپما د اتحادیو او د سپما د کوچنیو په شرایطو برابر ګروپونو لپاره د اوږد مهاله مالي مرستو د تامین په موخه د لومړنۍ پانګې برابرول، (ب) د پور ترلاسه کولو خدماتو ته د کلیوالو ښځو د لاسرسي آسانتیا، چې په هغې کې د تجارتي بانکونو او بنسټونو سره د ښځینه متشبثو د مالي مشارکت د تشویق په موخه د اړیکو جوړونې د چوکاټ تقویه، د کوچنیو مالي بنسټونو او تجارتي بانکونو په مرسته د مالي خدماتو د ټولګو وده، د ښځو لخوا د رسمي پور اخیستنې پر وړاندې د خنډونو لرې کول، د مالي خدماتو د وړاندې کولو لپاره د داسې کارنده او آزمایښتي سیستمونو پلټنه چې پر معلوماتي ټکنالوژۍ سمبال وي، او د ښځو د مالي ظرفیت جوړونې د پروګرامونو پلي کول شامل دي.

دریمه برخه: د تشبثونو رامنځته کول او بازاري اړیکې. په دې برخه شامل توکي: (الف) د متشبثو ډلو او تولیدوونکو اتحادیو د ظرفیت لوړونې لپاره د تخنیکي مرستو برابرول او د دوی تبلیغاتي فعالیتونه حمایه کول، او له فردي ښځینه متشبثینو سره مرسته کول چې له بازار سره اړیکې جوړې کړي او خپل کاروبار په سمه توګه پرمخ بوزي؛ (ب) په کلیو او ولسوالیو کې په شرایطو برابرو متشبثو ډلو او تولیدوونکو اتحادیو ته د هڅوونکو مالي مشوقو برابرول. (ج) د متشبثو ډلو، تولیدوونکو اتحادیو او یا متشبثو ښځو په انفرادي توګه بازار ته د لاسرسي او د کاروبار د پراختیا او ودې په خاطر او د هغوي د ګډون د هڅولو په موخه د آسانتیاوو برابرول.

د ښځو اقتصادي پیاوړتیا— د کلیوالي پراختیا پروګرام په مرسته ټولنیزه همغږي په چټکۍ پر مخ ځي او د ۲۰۱۹ کال تر جولای پورې د کلیوالي سپما له ۴۰۰۰ زیاتې ډلې جوړې شوې وې. له دې جملې ۳۲۰۰ یې په اتو میاشتو کې رامنځته شوې دي. د سپما د نویو ډلو شمېر له هغو ډلو زیات دی چې د پروژې له پیله مخکې د ښځو لپاره جوړې شوې وې.

په ټوله کې د سپما ډلو ۷۸ غړي د معیشتي حالت څېړنې په اساس په بې وزلو او ډېرو بېوزلو خلکو کې راځي. دا څېړنه چې د ولسي ټرون پروژې لخوا ترسره شوې د ښځو د ځواکمنتیا لپاره د کلیوالي ودې پروګرام یې د مستحقو خلکو د پېژندنې لپاره کارووي. د سپما ډلو په مجموعي ډول ۱۲۵۰۰۰ ډالر سپمولې دي او خپلو غړو ته یې د ۶.۱ میلیونه افغانیو (۷۶۲۵۰ ډالرو) په ارزښت ۴۵۰۰ پورونه ورکړي دي.

د هندوکش د غرونو د لرې د مواصلاتي سرکونو پروژه

۲۵۰میلیونه ډالره وړیا مرسته

د دې پروژې موخه او هدف د هندوکش د غرونو په لرې کې د ترانسپورتي ارتباطاتو د ښه والي په برخه کې په ګډون سره د دولت له هڅو او هلوځلو څخه ملاتړ دی. دغه پروژه دغرنیو سیمو په تکلوري یې دباور وړ دتیریدو راتیریدو بهیر ته پراختیا ورکوي. او د کال په ټولو فصلونو او موسمونو کې به دهندوکش دغرونو له لرې خځه دمسافرینو او مالونو دتګ راتګ او وړلو راوړلو له پاره فرصتونه برابر کړي.

په اوس وخت کې یوازې دوه سړکونه دهندوکش دغرونو د لرې له لورو برخو څخه تیریږي، چې یو له هغو څخه دسالنګ لویه لاره ده. دغه سړک دهندوکش دتکلوري دترافیکي کنډه ګونې دلوی بار زغمل په غاړه لري او بل تکلوری یو خام دویم درجه سړک دی، چې له بغلان او بامیان څخه تیریږي . دغه پروژه دفواید عامې له وزارت سره مرسته کوي ، چې دبغلان - بامیان سړک، چې ۱۵۲کیلو مټره اوږدوالی لري، قیر کړي او همدارنګه دسالنګ لاره او تونل دواړه د (۸۷) کیلو مترو په اوږدوالي سره بیاورغوي.

د بغلان – بامیان د لویې لارې په اوږدو کې له شپږو د دوو برخو (په مشخص ډول د لومړۍ او شپږمې برخې) جوړولو عملي کار دوام لري. د ۲، ۳ او ۵ مو برخو د تدارک پروسه ډېره مخکې تللې. د څلورمې برخې د تدارک پروسه د ترانسپورت وزارت لخوا پر مخ روانه ده. د ترانسپورت وزارت د ساختماني چارو د څار څانګه د تر کار لاندې برخو د تطبیق څارنه کوي.

د سالنګ تونل د بیارغونې طرحه د پلان پر اساس پر مخ تللې ده، خو لومړنۍ موندنې ښیي چې لومړی باید د بغلان – بامیان سړک بشپړ شي او بیا د سالنګ تونل پر بیارغونه لاس پورې شي. دغه مسئله ښایي د پروژې عمومي مهالویش څه نا څه له ستونزو سره مخ کړي.

د هندوکش د مواصلاتي سرکونو پروژه، چې د هندوکش د غرونو په لرې کې ترانسپورتي لارې بیارغوي، ښه پر مخ روانه ده. پر دې کار روان دی چې موجودې غرنۍ لارې پر مطمئنو او داسې لارو واړول شي چې د کال په اوږدو کې پرې مسافر او پر مالونو بار موټري په اسانۍ تګ راتګ وکړای شي.

شکایاتو ته د رسیدنې میکانیزم په بیلابیلو پراونو کې د اجرا وړ دی.

د پروژې منځمهاله بیاکتنه د ۲۰۱۹ کال د جون په ۲۰ مه بشپړه شوه. د دې بیاکتنې د پایلو په اساس باید د پروژې په جوړښت کې ژر تر ژره بدلون رامنځته شي. ټمه ده چې دا کار د ۲۰۱۹ تر ډسمبره ترسره شي.

/ د خدماتو وړاندې کول

د افغانستان د ځمکو د اداري سیستم پروژه

د نړیوالې پراختیا ادارې ۲۵ میلیونه ډالر وړیا مرسته
د افغانستان د بیارغونې صندوق ۱۰ میلیونه ډالر وړیا مرسته

د افغانستان د ځمکو د اداري سیستم پروژه د افغانستان د ځمکو اداري سیستم په جوړولو کې مرسته کوي او په غوره شویو سیمو کې خلکو ته د ځمکو د ثبت پرمختللي خدمات وړاندې کوي.

دا پروژه په پام کې لري چې ۱) په افغانستان کې د ځمکو یو اغېزمن اداري سیستم رامنځته کړي چې د ځمکو لپاره شفاف خدمات وړاندې کړي او د ثبات او ودې لامل شي؛ ۲) د تشو (خلاوو) په ډکولو کې مرسته وکړي او د ځمکو د اداري لپاره پالیسي، او حقوقي او اداري چوکاټ رامنځته کړي؛ ۳) په افغانستان کې د ځمکو د یوه پرمختللي اداري سیستم تهداب جوړي؛ ۴) د ښارجوړونې او اراضي وزارت ظرفیت او د دې وزارت د حکومتولۍ جوړښت پیاوړي کړي، چې ورسره د اداري اغېزمنۍ او حساب ورکونې کچه لوړه شي.

دا پروژه د پالیسۍ جوړولو له لارې د ښځو پر اقتصادي ځواکمنتیا هم تمرکز کوي او ټمه ده چې له دې سره به په ښځو کې د ځمکو د مالکیت او میراث وړلو کچه، او د کورنۍ په نورو شتمنیو کې د دوی برخه لوړه شي.

د افغانستان د ځمکو د اداري سیسم پروژه د پلې کېدو په لومړۍ مرحله کې ده او د پروژې اساسي کارونه، لکه د ځمکو غیر رسمي اشغالوونکو ته د تصرف د تصدیقونو ورکړه، به په نږدې وخت کې پیل شي.

اشتغال زایی—کارموندنه

د نړیوال بانک ۱۵۰ میلیونه ډالره وړیا مرسته
د افغانستان د بیارغونې صندوق ۵۰ میلیونه ډالره وړیا مرسته

د اشتغال زایی—کارموندې پروژه د اقتصادي فرصتونو د برابرولو او پراختیا په موخه په هغه ښارونو کې فعالیت ترسره کوي چې د ډېرو کورنیو ښځایه شوو او راستنیدونکو کورنۍ توب کوي. دا پروژه به هغه چارې حمایه کړي چې ملکي اسنادو ته د راسېدوکو لاسرسی اسانوي، لنډمهاله دندې رامنځته کوي، د بازار د ودې لپاره زېربنا جوړوي، او په قواعدو کې داسې اصلاحات رامنځته کوي چې پانګوونکي وهڅوي.

دا پروژه لاندې پنځه برخې لري:

۱. په سیمییزه او ملي کچه د ښځایه شویو خلکو پرځایونه
۲. لنډمهاله کاري زمینې، اصلاحات، او د محلي حکومتولۍ د خپلواک ریاست له لارې بازار ته د لاسرسي لپاره د مناسبې زېربنا رامنځته کول
۳. په ځلورو ولایتي مرکزونو (هرات، جلال اباد، کندهار او خوست) کې ښاري پانګوني ته لومړیتوب ورکول
۴. په کابل ښار کې بازار ته د لاسرسي لپاره د مناسبې زېربنا رامنځته کول او په کابل ښارواليۍ کې اصلاحات
۵. د اقتصاد وزارت لخوا د پانګوالو د هرکلي پروګرامونه همغږي کول

د افغانستان د بشري منابعو او اداری اصلاحاتو پروژه (تغیر)

د نړیوال بانک ۲۵ میلیونه ډالره وړیا مرسته
د افغانستان د بیارغونې صندوق ۵۰ میلیونه ډالره وړیا مرسته

تغیر د افغانستان د پایلو لپاره د وړتیاوو لوړولو پروژې ځایناستې پروژه ده. دا پروژه له افغان دولت سره مرسته کوي چې په ۱۶ سکتوري وزارتونو کې پر کلیدي پوستونو د لایقو او په کارپوهو ملکي مامورینو د ګومارنې او اداري اصلاحاتو رامنځته کولو له لارې د خپلې پالیسۍ کلیدي لومړیتوبونه لاسته راوړي.

دغه پروژه د ملکي خدماتو د ټولټال ۱۵۰۰ بستونو مالي ملاتړ کوي چې وزارتونه د دې جوګه کړي چې خپل اهداف

د تغیر پروژه به د دولت له وزارتخانو سره مرسته وکړي چې پر کلیدي پوستونو د لایقو او په کارپوهو ملکي مامورینو د ګومارنې او اداري اصلاحاتو رامنځته کولو له لارې د خپلې پالیسۍ کلیدي لومړیتوبونه لاسته راوړي. دغه پروژه د ملکي خدماتو د ټولټال ۱۵۰۰ بستونو مالي ملاتړ کوي چې وزارتونه د دې جوګه کړي چې خپل اهداف لاسته راوړي او خپل لومړیتوبونه پلي کړي.

لاسته راوړي او خپل لومړیتوبونه پلي کړي. پدې ۱۵۰۰ بستونو کې ۶۰۰ له وړتیا لوړولو پروژې راپاتې دي. د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو خپلواک کمیسیون د دې پروژې د پلي کولو مسئولیت پر غاړه لري.

په کلیدي وزارتونو کې ۴۰۰ مهم او ستراتیژیک پوستونه په نښه شوی چې د تغیر پروژې په مرسته به پرې ور خلک وګومارل شي.

تغیر پروژه به له دولت سره مرسته وکړي چې د ۴۰۰۰۰۰ ملکي کارکوونکو لپاره د بشري منابعو د مدیریت یو فعال معلوماتي سیستم رامنځته کړي.

پر ښارونو د پانګوني پروګرام

۲۵ میلیون ډالره د نړیوال بانک وړیا مالي مرسته

۲۵ میلیون ډالره د افغانستان د بیا رغونې صندوق وړیا مالي مرسته

پر ښارونو د پانګوني پروګرام موخه د ښاروالیو د ظرفیت، مدیریت او زېربنا پیاوړي کولو له لارې د نهو ولایتونو په مراکزو کې د ژوندانه ثبات او کیفیت لوړول دي.

دا پروګرام به له دولت او ولایتي مراکزو سره مرسته وکړي چې د ښاروالیو ظرفیت لوړ کړي. له دې سره به ولایتي مراکز د دې وړتیا ومومي چې د عوایدو راټول زیات کړي او د کرنو پر بنسټ مالي امکاناتو ښهلولو ته یو سیستم جوړ کړي.

دا پروګرام به په ښاروالیو کې، د تخنیکي مرستې، روزنو او د تجهیزاتو او کمپیوټرې پروګرامونو چمتو کولو په مرسته، د پلانولو او مدیریت کچه هم لوړه کړي.

پر ښارونو د پانګوني پروګرام به پنځو ولایتي مرکزونو (هرات، جلال اباد، کندهار، خوست او مزار شریف) ته مالي مرستې ورکړي چې د ښاروالیو لومړنۍ زېربنا، چې سملاسي ورته اړتیا ده، ورغوي. له دې سره به د خدماتو وړاندې کول او د ژوند کیفیت ښه شي. په دې خدماتو کې کوچنۍ محلي پروژې راځي چې چاپېریالي او ټولنیزې اغېزې یې د کنټرول وړ دي.

/ ښاري پراختیا

د ښاري پراختیا د ملاتړ پروژه

د نړیوال بانک د ۴۰ میلیونه ډالرو وړیا مرسته

دا پروژه د ښاري پراختیا او کور جوړونې له وزارت سره د هېواد په کچه په اړوند ادارو کې د ښار جوړونې د پالیسیو د ظرفیت لوړونې او د پالیسۍ د یوه چوکاټ جوړولو لپاره او همدارنګه د ښاري پلان جوړونې تنظیم، په پنځو ولایتي سترو ښارونو کې د خدمتونو وړاندې کولو ظرفیت او مدیریت سره مرسته کوي. دا پنځه ښارونه د کابل، هرات، جلال آباد، خوست، کندهار او مزار شریف ښارونه دي.

په دې پروژه کې لاندې برخې شته:

لومړۍ برخه: ښاري معلومات: د ښاري معلوماتو د مدیریت د سیستم جوړول. د احصائیوي ارقامو، نقشو او جغرافیایي معلوماتو د سیستم (جي آی ایس) لپاره د ډیټابیس او ځانګړي ویب سایټ جوړولو په موخه د تخنیکي مرستو برابرول او د ارقامو را ټولولو، څو د ښاري پلان پراونه او د هغه د پایلو ارزول په غوره توګه ترسره شي.

دویمه برخه: ښاري اداري: د ادارو او وړتیاوو پراختیا. د ښاري پراختیا او کور جوړونې په وزارت او پنځو سترو ښارونو په مرکزونو کې د پلان جوړونې د بهیر اړوند د دندو او مسوولیتونو، تګلارو او وړتیاوو د ځرنګوالي ارزونه، د قوانینو، مقرراتو، پروګرامونو او کارکوونکو په برخه کې د ستونزو او کمزورتیاوو ته په پام د عملیاتي پلان جوړول. د پالیسۍ مهمو برخو په اړه، چې په کې پلان جوړونه، له ځمکې څخه د ګټې اخیستلو مدیریت، په مناسبو بیو د اوسیدلو د ځای برابرول، ښاري بیارغونه او ښاري مالي چارې؛ شاملي دي، د تشخیص او په دې اړه د سپارښتنو لپاره د ځلورو " کاري کمیتو" لپاره د مرستو برابرول.

دریمه برخه: ښاري یوځای کېدل: د ښار او ولایتونو په کچه د ښاري پلان جوړونې پیاوړتیا. د پنځو سترو ښارونو مرکزونو لپاره د ستراتیژیک پراختیایي پلانونو د پشپرولو په موخه مالي ملاتړ، چې پر بنسټ به یې منځ مهاله پراختیایي پلانونه له نورو ټولو اړوندو ادارو او کاري شریکانو سره په همغږۍ جوړ او بشپړ شي. ښاري ستراتیژیک پراختیایي پلانونه د ۱ برخې د ارقامو او شمېرو څخه په ګټې اخیستنې، جوړ او رامنځته کېږي، له دې وروسته مهمې ستونزې او پراختیایي موخې مشخص کېږي او د هغه پر بنسټ د پانګوني فعالیتونه او پلانونه جوړ او پلي کېږي. په پام کې ده، څو د پلان جوړونې د فرهنګ رامنځته کولو په موخه د ښاري پلان د برخې زده کړیالانو لپاره یو شوونیز نصاب جوړ شي.

څلورمه برخه: ښاري پانګونه: د ښاري بنسټونو د جوړولو او ډیزاین کولو لپاره د امکان شتون په موخه د ځیرنې ترسره کول. د پنځو سترو ښارونو د مرکزونو لپاره د ښاري ستراتیژیک پراختیایي پلان پر بنسټ، چې لومړیتوب لرونکي پروژه (حساب شوي او د پلي کېدو وړ پروژه) او له وړاندې مشخص شوې پروژه (د ښار ستراتیژیک پراختیایي پلان او د لیږد وړ اقتصادي پروژه لاندې مشخص شوې وي) پلي کېدلو امکان په کې وي، د ځو کلن پانګوني پلانونو جوړول. د پانګوني پلانونه همدارنګه د پلان شویو ښاري پروژو د پراختیا په موخه د خصوصي بانکونو د ملاتړ جذبولو لپاره هم ترسره کېږي، په راتلونکي کې د دې سکټور د پراختیا ځرنګوالي پر بنسټ؛ د ښار جوړونې له پروژو څخه مالي ملاتړ ترسره کېږي.

پر ښارونو د پانګوني پروګرام په مرسته به نهه ولایتي مرکزونه د ښاروالیو د ظرفیت، مدیریت او زېربنا پیاوړي کولو له لارې د ښاري زېربنا پایداري او په ښارونو کې د ژوند شرایط لوړ کړي. دا پروژه به پنځو ښارونو ته مالي منابع ورکړي چې د ښاروالۍ هغه زېربناوي چې سملاسي ورته اړتیا ده بیا ورغوي او له دې سره به د خدمتونو رسونه او د ژوند شرایط ښه شي.

د نړیوالې مالي اداري پانګونې او مشورتي خدمتونه

د نړیوالې مالي اداري مهم او کلیدي فعالیتونه زیاتره د مشورې ورکولو له لارې دپانګه اچونې دفضاء په شته والي او په ظرفیت جوړولو باندې متمرکز دي او له هغو ځانګړې پانګه اچونو سره مرسته کوي، چې د پرمختیایي اغیزې او کسب او کار پیدا کولو لوړه توانایی ولري. د نړیوالې مالي اداري اوسنۍ ستراتیژي دافغانستان له پاره د نړیوال بانک ګروپ دکډون چوکاټ له ۲۰۲۰-۲۰۱۷ ستراتیژۍ سره، چې اوس ۲۰۲۲ ته اوږده شوې، په سمون کې ده.

د پانګې اچونې کړکۍ

نړیواله مالي اداره په افغانستان کې د مالي مالي مشارکت، مخابراتو، کرنیزو محصولاتو او زیر بناوو باندې په تمرکز سره د پانګه اچونې دیو لړ خدمتونو برابرونکې ده. اوسمهال د نړیوالې مالي اداري د پانګه اچونې کړکۍ مجموعي مالي ژمنه، ۲۳۸ میلیونه ډالره دی، چې په هغې کې په روښن مخابراتي کمپنۍ که پانګه اچونه، د کوچنیو پورونو لومړنۍ بانک، د افغانستان نړیوال بانک او د افغان تولیداتو د پروسس فابریکه (ریکودا) شامل دي.

د نړیوالې مالي اداري پانګې اچونې، مالي سرچینو ته دلاس رسۍ بهیر ته، په ځانګړې ټوګه د کوچنیو پورونو په سکتور او مخابراتو کې بدلون ورکړی دی. دغه اداره خپلو هلو ځلو ته د پانګه اچونې نویو پورونو ترلاسه کولو، له اقتصادي اړوندو ادارو سره کډو هڅو او مرستو ته په افغانستان کې له خصوصي سکتور څخه دملاتړ په منظور دوام ورکوي.

د پانګې اچونې لړۍ هیلمنوونکې ده چې پکې د بریښنا، پوهنې او کرنیزې سوداګرۍ په سکتورونو کې پانګه اچونه شامله ده.

/ روانې مشورتي پروژې

مالي امکاناتو ته لاسرسی

نړیواله مالي اداره د نړیوال بانک اړوند د مالي سکتور د پیاوړتیا د برنامې په مرسته، د افغانستان بانک سره مرسته کوي، څو پر منقولو اموالو، د رهنې حقوقو د ثبت او د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم لپاره لومړنی کړښده بریښنایيز سیستم جوړ کړي.

نړیوالې مالي اداري د نړیوال بانک د مالي سکتور د پیاوړتیا پروګرام په همکارۍ سره، له د افغانستان بانک سره مرسته وکړه، تر څو د اجارې قانون او د اجارې خدماتو لپاره قانوني چوکاټ جوړ کړي. همدارنګه نړیوالې مالي اداره له د افغانستان بانک سره د جواز ورکونې ډیپارټمنټ په جوړونه او د اجارې خدماتو څخه د ځار په برخه کې مرسته وکړه، تر څو دغه دیپارټمنټ د جوازونو د تنظیم او د اجاره ورکونې شرکتونو د ځار مسئولیت پر غاړه واخلي او د اجارې د خدماتو ترسره کولو لپاره یو قانوني چوکاټ جوړ کړي. د دغې پروژې فعالیتونه د اجاره ورکونې پر مزیتونو او د کوچنیو او منځنیو تشبثاتو لپاره کوچنیو پورونو ته د لاسرسۍ په برخه کې د سهامدارانو (دولت او خصوصي سکتور) د معلوماتو د ډیریدو لپاره ظرفیت جوړونه کوي او د دغو دوارو لوریو د پوهې کچه به لوړوي.

د افغانستان د تازه مېوو صادراتو پیاوړتیا

نړیواله مالي اداره هڅه کوي، تر څو د افغانستان د بنوالې د حاصلاتو د صادراتو د ډیرښت په موخه د حاصلاتو د اغېزمنې راټولونې د ترویج په برخه کې او په کور د ننه او بهر کې د خرڅلاو بازار موندنې په برخه کې د بزګرانو او بنوالو مرسته او ملاتړ وکړي. د دغې پروژه موخه دا ده، چې تر څو د پروسس کوونکو شرکتونو سره د بزګرو او بنوالو د اړیکو جوړولو او قرار داد کولو کې د مرستې لارې د بزګرانو او بنوالو په ژوندانه کې مثبه والی راولی او همدارنګه له پروسس کوونکو شرکتونو څخه نړۍ ته د هیواد د صادراتو د پراختیا په خاطر ملاتړ کوي.

د افغانستان دممیزو د زنځیر پراختیا

د دې پروژې موخه او هدف د افغانستان د ممیزو د وړاندې کولو د زنځیرې پراختیا او د پروسس تطبیق او د غذایي مصونیت دسیستمونو مدیریت، د مالي چارو مدیریت په برخو کې د ظرفیت لوړولو په واسطه دعرضې د زنځیرې دپراختیا سبب کیږي او په هیواد کې د نورو صنایعو له پاره مثبه بیلکه او مثال جوړوي.

د حکومتولۍ د پیاوړتیا لپاره حقوقي چوکاټ

د حقوقي چوکاټ د پیاوړتیا پروژې هدف د افغانستان د بانکداري سکتور په بازار کې د نیمګړتیاوو او ناکامیو لپاره د حل د لارو چارو موندل، بلل کیږي. د هغه شمېر فعالیتونو او هڅو په وړنا کې چې پخوا په دغه سکتور کې ترسره شوي، د بانکداري سکتور په وړاندې ستونزې او د ناکامیو د لاملونه ټولګه پېژندل شوي دی، چې روښانه بېلکه یې په انفرادي توګه په بانکونو او د دغه سکتور په حقوقي او ځارنیز چوکاټ کې تر سترګو کیږي.

نړیواله مالي اداره د افغانستان له بانکونو سره د هغوی د تګلارو د هېڅ والي (په تصمیم نیونې کې هېڅ والی، د ګواښونو مدیریت، عملیاتي اغېزمنتیا، کتګه او ارزونه) او مالي سرچینو ته د لاسرسي زیاتوالی (د پانګې د بېې کموالی، د پور ورکونې د پروسې هېڅ والی او پانګوالو ته د لاسرسي زیاتوالی) په برخه کې د افغانستان له بانکونو سره د یو اندولیزه حقوقي چوکاټ د پراختیا له لارې مرسته کوي.

د افغانستان د روښنایي پروګرام

دغه پروژه د نړیوالې مالي اداري د "نړیوالې روښنایۍ" پروګرام یوه مهمه ده. د افغانستان د روښنایي پروګرام د سوداګریزو بازارونو د تحول پروګرام دی او موخه یې داده چې د افغانستان کلیوالو سیمو ته د خصوصي سکتور په مرسته د پاکې او ارزاني انرژې لاسرسۍ، د باکیفیته ملریزې انرژۍ لپاره د یوه پایدار سوداګریز بازار په رامنځته کولو او چټکولو، آسانه کړي. دغه پروګرام له کورنیو او بهرنیو خصوصي شرکتونو سره مرسته کوي چې د افغانستان په بازارونو کې د دوی پر وړاندې خنډونه لرې کړل شي، د بازار په اړه معلومات راغونډ شي، د شرکتونو ترمنځ اړیکې جوړې شي او د عصري انرژۍ د ډولونو په اړه د پېرونکو د پوهاوي کچه لوړه شي.

د ملریزه انرژۍ د تولید پروګرام

ملریزه انرژي د دولت لپاره د یوې واحدې خدماتې پروژې په توګه بلل کېږي، تر څو د هغې پر بنسټ د ملریزې خصوصي انرژۍ د تولید پروژې له رقابتي تعرفو سره مارکیټ ته ور د ننه کړي. دغه پروژه د نړیوال بانک د خدماتو ګروپ تر یوه واحد مشارکتي سقف لاندې یوه ټولګه ده، چې په هر غړي هېو کې د ملریزې انرژۍ د تولید لپاره د یوه د اعتماد وړ بازار د جوړولو په برخه کې فعالیت کوي.

د نړیوالې مالي اداري د کاروباري مشورتي ډله له افغان دولت سره مرسته کوي چې خصوصي سکتور وهڅوي، چې د عامه او خصوصي سکتور د مشارکت ماډل له مخې د ملریزې انرژۍ پر لومړۍ ۴۰ مېګا واټه بربښناکوټ جوړولو پانګونه وکړي.

د پانګه اچونې چاپېریال

دا پروګرام پدې موخه طرحه شوی چې په هېواد کې د کاروبار او پانګونې په چاپېریال کې شته ستونزې هوارې کړي. د دې پروګرام اصلي هدف په کاروباري چاپېریال کې د مثبتو بدلونونو پیاوړي کول او د سوداګریزو اسانتیاوو په رامنځته کولو کې د دولت ملاتړ دی.

دا پروګرام غواړي چې د کاروباري قواعدو کیفیت لوړ کړي، د سوداګرۍ او صادراتو اسانولو مېکانیزمونه پیاوړي کړي او داسې لارې چارې زیاتې کړي چې پانګوال پانګونې ته وهڅېږي او کاروبارونه پایداره شي، چې له دې سره به په افغانستان کې د خصوصي سکتور لګښتونه راکم شي.

نړیواله مالي اداره له دولت سره د یوه داسې کاروباري چاپېریال په ترویجولو کې مرسته کوي چې د خصوصي سکتور د ودې لپاره مساعد وي. دا کار د پانګونې د چاپېریال پروګرام د دغو فرعي پروژې په مرسته ترسره کوي: ۱) د کاروباري جوازنامو د اصلاح پروژې دوېمه مرحله؛ ۲) کاروباري چاپېریال رامنځته کولو پروژه؛ ۳) د کرنیز کاروبار د صادراتو د رقابتي ظرفیت جوړونې پروژه.

د افغانستان دبنوالې د محصولاتو د صادراتو پیاوړتیا

نړیواله مالي اداره دافغانستان د بنوالې، محصولاتو د صادراتو د پرمختیا په لارو چارو کې د بزګرانو او کروندګر د حاصلاتو دښه والي او د کورنیو او بهرنیو بازارونو کې د فرصتونو د پراختیا او پرمختیا له پاره مرسته او ملاترکول. د دې پروژې موخه او هدف د بنوالانو د اقتصاد او ژوند د سطحې ښه والی او د کرنیزو قراردادونو له لارې د میوو د پروسس له کمپنیو سره دهغوی وصل او د خپل مارکیټ د پراختیا په خاطر د پروسس کوونکو کمپنیو مرسته او ملاتړ دی.

د ملریزې انرژۍ د تولید پروګرام

ملریزه انرژي د دولت لپاره د یوې واحدې خدماتې پروژې په توګه بلل کېږي، تر څو د هغې پر بنسټ د ملریزې خصوصي انرژۍ د تولید پروژې له رقابتي تعرفو سره مارکیټ ته ور د ننه کړي. دغه پروژه د نړیوال بانک د خدماتو ګروپ تر یوه واحد مشارکتي سقف لاندې یوه ټولګه ده، چې په هر غړي هېو کې د ملریزې انرژۍ د تولید لپاره د یوه د اعتماد وړ بازار د جوړولو په برخه کې فعالیت کوي.

د نړیوالې مالي اداري د کاروباري معاملاتو د سلامشورو ډله له افغان دولت سره مرسته کوي چې خصوصي سکتور، د دولتي او خصوصي سکتور د مشارکت د ماډل په اساس وهڅوي چې د یوه ۴۰ مېګاواټه ملریز بربښناکوټ په جوړولو کې کډون وکړي.

د افغانستان د بیارغونې صندوق

د افغانستان د بیارغونې صندوق په ۲۰۰۲ میلادي کال ددې له پاره تاسیس شو،چې دافغانستان د دولت بودجې او دپانګه اچونې ملي پروژو ته یو همغږی کوونکی میکانیزم جوړ کړي. ددې صندوق دفعالیت دپیل له وخت څخه ۳۴ بنسټونو او مرسته کوونکو هیوادونو ۱۱.۴ میلیارده ډالر دافغانستان دبیارغونې له صندوق سره ژمنه کړې ده، چې په دې ترتیب دغه صندوق دافغانستان د دولت دعادي او پرمختیایي بودجې دیوې ستړې ټولوونکې سرچینې په توګه ګڼل کیږي.

مدیریت

دافغانستان دبیارغونې صندوق په خپل چوکاټ کې درې کمیټې (رهبري کمیټه، مدیریتي کمیته او اداري کمیته) لري. همدارنګه داصندوق درې کاري ګروپونه لري. دې کاري چوکاټ صندوق ته دا توان او ځواک ورکړی دی ، چې دشرایطو په بدلون سره پرمختیا یې لومړیتوبونه په ننه کول ټینګښت او اجماع رامینځته کړي. دافغانستان دبیارغونې صندوق دنړیوال بانک له خوا اداره کیږي. رهبري کمیټه، چې له نړیوال بانک، اسلامي پرمختیایي بانک،آسیایي پرمختیایي بانک، دملګرو ملتونو پرمختیایي سازمان او دمالیې وزارت څخه جوړه او تشکیل شوې ده، چې په دې منځ کې دافغانستان له پاره دملګرو ملتونو ځانګړی استازی دځارونکي او ناظرپه توګه شتون لري. دمدیرانو کمیټه په منظمه توګه په کابل کې لیدنې او کتنې کوي چې دافغانستان دپیا رغونې دصندوق مالي مسایل وڅیړي او د پروپوزلونو مالي ټمویل تائید کړي. دافغانستان دبیارغونې دصندوق دستراتیژۍ ګروپ له ټمویل کوونکو او مالیې وزارت څخه تشکیل شوی دی، چې دمیاشتې یو ځل په خپله منځوکې لیدنې کتنې کوي، څو دافغانستان دبیارغونې دصندوق کرښې ترغور او کتنې لاندې ونیسي او په ستراتیژیکو موضوعاتو بحث وکړي.

دافغانستان دبیارغونې صندوق څه ډول فعالیت کوي؟

ټمویلوونکي خپلې مرستې په هغه ځانګړي حساب، چې په امریکا متحده ایالتونو کې دنړیوال بانک په مرکزي دفتر کې دی، ورلیږي. دافغانستان دبیارغونې صندوق دمدیرانو کمیټه په خپلو غونډو کې دوراندیز شوې مالي وجهو داجراتو په اړه تصمیم نیسي. او دغه تصمیمونه دمالي وجهو په نوم یو هوکړه لیک (توافقنامې) دلاسلیک له لارې، دنړیوال بانک له خوا، چې دصندوق اداري چارې پرمخ بیایي، دافغانستان له حکومت سره عملي جنبه پیدا کوي.

دافغانستان دبیارغونې صندوق اختصاص موندلې پیسې د ځلورو ځانګړو کړکیو یانې۱) د عادي بودجې د ملاتړ کړکۍ؛ ۲) د پانګونو د ملاتړ کړکۍ؛ ۳) د مشورتي خدماتو، د پروژو پلي کولو د حمایت او تخنیکي مرستې کړکۍ؛ او ۴) له فساد سره د مبارزې او پایلو د څارنې د پلان کړکۍ. له لارې اجراء کیږي.

له عادي بودجې څخه دملاتړ کړکۍ هرکال مشخص او د ورکړې وړ لګښتونه، چې ناامنیتي چارو او فعالیتونو پورې اړه لري، اجراء کوي. خوله پانکې اچونې څخه دملاتړ کړکۍ دپرمختیایي بودجې له لارې دملي پرمختیایي پروګرامونو له پاره مالي مرستې برابروي.

د مشورتي خدماتو، د پروژو پلي کولو د حمایت او تخنیکي مرستې کړکۍ د افغان دولت د غوښتنې په ځواب کې رامنځته شوه، چې نور مستقیم مشورتي خدمات، د پروژو پلي کولو ملاتړ او تخنیکی مرسته برابره کړي. له دې سره به دا ډاډ رامنځته شي چې د افغانستان د بیارغونې صندوق پروګرامونه به په لا اغېزمنتوب پلي شي، او دولتي بنسټونه به تقویه او د ملي لومړیتوب لرونکو پروګرامونو د طرحې او پلي کولو لپاره به ظرفیت لا پیاوړي شي.

هغه کړکۍ چې له فساد سره مبارزه او د پایلو د څارنې پلان ټمویلوي شیې چې نړیوال بانک په افغانستان کې د اداري فساد پر وړاندې او د پایلو د څارنې په برخه کې د خپلو هڅو لا زیاتولو ته ژمن دی. نړیوال بانک د فساد او پایلو د څارنې په برخه کې د نورو برخو په پرتله ډېر جدي مېکانیزمونه پلي کړي دي. نړیوال بانک، چې د افغانستان د بیارغونې صندوق د مدیریت چارې پر غاړه لري، ژمن دی چې د افغانستان بیارغونې صندوق لخوا ټمویلوډونکو پروژو مالي څارنه لا پیاوړي کړي چې د درغلۍ، اداري فساد او له مالي مرستو د ناوړه استفادې کوالشونه راکم کړي او د دې صندوق پراختیایي اغېز لوړ کړي.

دټمویلوونکو مرستې

دټمویلوونکو ژمنو دافغانستان دبیارغونې دصندوق دپخوانیو او نویو ټمویلوونکو په شمول هرکال دبل کال په پرتله زیاتوالی موندلی دی. په ځوتیرو کلونو کې ددې مرستو دزیاتوالي دلیل دهغوی دودې دپیاوړتیا په اړه ترجیحي موارد وو. دافغانستان دبیارغونې صندوق دمنل شویو مقراتو پربنسټ ټمویلوونکی نه شي کولی دخپلو کلنیو ژمنو له نیمایي څخه زیاتې ژمنې ترجیحي مواردوته اختصاص کړي. دغه مقررات دا ایجابوي چې دغه صندوق دکتنې وړ وجهې په خپل واک کې ولري، چې له هغو څخه دجاري پانګو دځانګلګښتونو ورکړي او ځینې انعطاف منني دحکومت له لومړیتوبونو څخه دملاتړ په موخه له ځان سره ولري.

د عادي بودجې د ملاتړ کړکۍ

۵.۰۵۷ میلیارده ډالر وړیا مرسته

د عادي بودیجې څخه د ملاتړ کړکۍ برنامې څخه موخه د یوه همغږي کوونکي او هڅونکي میکانیزم په توګه له عادي بودجې څخه د ملاتړ کړکۍ، څو پر بنسټ یې د افغانستان حکومت وکولای شي، چې پیسې، پر ټاکلي وخت او کره توګه ورکړي. په دې پیسو کې د ملکي کارکوونکو معاشونه او مزد او همدارنګه د حکومت غیر امنیتي عملیاتي لګښتونه شامل دي.

له عادي بودجې څخه د ملاتړ کړکۍ، د افغانستان له حکومت سره د مرستې په موخه په ۲۰۰۲ کال کې د عادي بودجې د اړتیاوو پوره کولو لپاره رامنځته شوه. له عادي بودجې څخه د ملاتړ کړکۍ تر اوسه څو ځلې بیا کتل شوې ده او د وروستي ځل لپاره په ۲۰۱۸ کال کې بیا وارزول شوه. هیله منده یو، چې د لومړۍ ځل لپاره د عادي بودجې له کړکۍ څخه د نړیوال بانک ملاتړ د یو لړ بانکي ستندردونو ابزارو په واسطه ترسره شي، چې په هغې کې په په کلنۍ توګه ۳۰۰ میلیون ډالر مالي مرسته د پالیسۍ ودې او د اصلاحاتو د پلي کیدو په برخه کې، شامل دي.

تراوسه پورې دافغانستان دبیارغونې صندوق ۵ میلیارده ډالر د حکومت دعادي بودجې له لارې ورکړي دي. داخلي عواید تراوسه پورې دحکومت دلګښتونو دتامین له پاره بسوالی نه کوي. په همدې دلیل دافغانستان د بیارغونې صندوق د دولت د عادي بودجې نه دملاتړ له کړکۍ څخه، ددولت اساسي فعالیتونه دخدمتونو وړاندې کولو په ګډون، لکه دروغتیایی ساتنې، او ښوونې او روزنې څخه ملاتړ کوي. دې کارته په پاملرنه، چې ۶۰سلنه ملکي کارکوونکي ښوونکي دي، دښوونې اوروزنې وزارت په ټوله کې ۴۰ سلنه دبیارغونې دصندوق مجموعي سرچینې لګوي.دعامې روغتیا وزارت، دبهرنیو چارو ، کاراو ټولنیزو چارو او لوړو زده کړو وزارتونه هم ددې صندوق له سترو اخیستونکو څخه ګڼل کیږي.

دیادونې وړ ده، چې له عادي بودجې څخه دملاتړ کړکۍ سرچینې یو فرصت او دملي پوښښ لرونکي دي. له دې سرچینې څخه په ۳۴ولایتونو کې دملکي خدمتونو د ۶۲سلنې کارکوونکو حقوق ورکول کیږي. دحکومت دعملیاتي لګښتونو کال په کال زیاتوالی په دې معنا دی، چې له عادي بودجې څخه دملاتړ کړکۍ هم دټولې بودجې دکمښت په خاطر حساب ورکوونکی ده. له دې سره سره له عادي بودجې څخه دملاتړ کړکۍ اوس هم له ۱۶څخه تر ۲۰ سلنې پورې دحکومت غیر امنیتي عملیاتي لګښتونه ورکوي.

د افغانستان د بیارغونې صندوق څه شی دی؟

دافغانستان دبیارغونې دصندوق موخې عبارت دي له:

- **ملي بودجه داسې حالت ته رسول، چې وکولی شي دملي پرمختیا له موخو او هدفونو سره سم د بیارغونې په پروګرام کې دتوازن درامینځته کولو له پاره دیو ستر موتور په توګه عمل وکړي.**
- **دبیارغونې له مرستو څخه د استفاده کولو په برخه کې درونټیا او حساب ورکولو پراختیا.**
- **د دولت په محدود ظرفیت باندې دفشار کمول او په عین وخت کې دظرفیتونو تدریجي پیاوړتیا.**
- **په مالي چارو دپالیسۍ دطرحې په اړوند خبرو اترو کې دټمویلوونکو ترمینځ دهمغږۍ دپیاوړتیا.**

دغه صندوق دحکومت لومړیتوب لرونکي پروګرامونو، چې په هغو کې داصلاحاتو اجندا او د غیر امنیتي حکومتي فعالیتونو لګښت شامل دي، چې دافغانستان دحکومت د ستراتیژیکو موخو په لاسته راوړنو پورې اړوند دي، ملاتړ کوي.

د افغانستان په شمال کې د اصلاح شوو تخمونو د یوه فارم په بیارغولو سره د کرنیزو حاصلاتو کیفیت ښه شوی دی

- **دا فارم چې دېر کلونه یې د شمالي ولایتونو کروندګرو ته د غنمو اصلاح شوي تخمونه تولیدول په کورنیو جګړو کې ویجاړ شوی و.**
- **د افغانستان د کرنیزو عواملو تولید پروژې په مالي او تخنیکي مرسته دې فارم بېرته د باکیفیته تخمونو پر تولیدولو پیل کړی. دا تخمونه داسې کرنیز توکي تولیدوي چې له اقلیمي شرایطو سره برابر وي، دېر حاصل کوي او د ناروغیو او آفاتو پر وړاندې مقاوم وي.**
- **د کرنیزو تخمونو تولید د افغانستان د کرنیز سکتور د ودې یوه حیاتي برخه ګڼل کېږي. د دغو اصلاح شوو تخمونو په رامنځته کېدو سره تمه ده چې کروندګر دېر باکیفیته محصولات تولید کړي.**

د مزارشریف ښار لویدیځ ته د بلخ ولایت په دهدادي ولسوالۍ کې وړځ ډېره کرمه او لمرینه ده. د دې ولسوالۍ په خاصه پز دولتي فارم کې، چې ۹۷۳ جریبه مساحت لري، د کرنې، اوبولګوني او مالدارۍ وزارت لخوا د مورنیو کرنیزو تخمونو پر تولید کار روان دی.

د هېواد په کچه د اصلاح شوو تخمونو په شپږو ځېرنیزو فارمونو کې یو هم خاصه پز دی چې د هغو لوړ حاصل لرونکو کرنیزو توکو، چې د ناروغیو او افاتو پر وړاندې مقاوم دي او له اقلیمي شرایطو سره برابر دي، په تولید کې مهمه ونډه لري. مورني تخمونه د تصدیق شوو تخمونو په تولید کې کارېږي. کروندګر بیا تصدیق شوي تخمونه کري او غوره حاصلات لاسته راوړي.

که څه هم د خاصه پز کرنیز فارم له ۱۹۸۷ کال راهیسې اصلاح شوي تخمونه تولیدوي، خو په کورنیو جګړو کې یې صدمه لیدلې وه. د بلخ ولایت د کرنې، اوبولګونې او مالدارۍ ریاست د مالي او اداري برخې امر، کاتب شمس، چې د دې فارم د سرپرستۍ پرغاړه لري، وایي، "خاصه پز فارم د کورنیو جګړو پر مهال ویجاړ شوی و، خو له ۲۰۰۳ کال را پدې خوا د دې فارم وضعیت په تدریجي توګه ښه شوی دی."

کاتب د خپلو خبرو په یوه برخه کې وایي: "دغه فارم د افغانستان د کرنیزو عواملو تولید پروژې په ملاتړ، چې د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت لخوا رهبري کېږي، بیا رغول شوی او اوس یې تولیدي ظرفیت زیات شوی دی. موږ د کرنیزو تخمونو د تولید لپاره کافي اندازه کاري ځواک لرو، خو د تخنیکي او مالي منابعو له کمښت سره مخ و. موږ د افغانستان د کرنیزو عواملو تولید له پروژې منته کوو چې له موږ سره یې تخنیکي او مالي مرسته کړې. هغه زیاتوي: " دې پروژې ډېرې ښې پایلې رامنځته کړې او همدا اوس کروندګر د دغه فارم له اقتصادي ګټو برخمن کېږي."

د تخمونو پر سکتور حیاتي پانګوني

په ۲۰۱۳ کال کې د کرنیزو عواملو پروژې د مرستې له پیله د خاصه پز کرنیز فارم ډېره وده کړې. د فارم د دفتر لپاره د دوه پوړیزې ودانۍ او شپږ کیلومتره احاطوي دېوال، چې فارم له خارویو او خلکو خوندي کوي، جوړول د فارم په مثبتو بدلونونو کې راځي. خان محمد وایي، "اوس زموږ تولیدات د پایمال کېدو له خطره خوندي دي. هیله لرم چې له دې سره په راتلونکي کې زموږ تولید لوړ شي." په دې وروستیو کې د کرنیزو عواملو پروژې د فارم لپاره نوي ماشینونه هم پېرلي. ټمه ده چې دا فارم به له ۵۵ هکتاره ځمکې سړکال ۱۶۰ ټنه مورني تخمونه تولید کړي.

د افغانستان د کرنیزو عواملو د تولید پروژه له کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت سره تخنیکي او مالي مرسته کوي چې د تخمونو د تولیدي فارمونو، لکه خاصه پز، موټریت او تولیدي کچه د ظرفیت جوړونې او زېربناو د پیاوړې کولو له لارې لوړه کړي. د تخمونو سکتور وده د افغانستان د کرنیزې ودې لپاره حیاتي ارزښت لري. له بلې خوا د کرنې پر ځېرنیزو مرکزونو او فارمونو پانګونه د هېواد په ګوټ ګوټ کې زرګونو کروندګرو ته ګټه رسوي.

خاصه پز فارم لا هم له ننګونو سره مخ دي. د دې ستونزو د هوارۍ لپاره د کرنیزو عواملو د تولید پروژې ۲۸ میلیونه افغانۍ (شاوخوا ۳۸۰۰۰۰ امریکایي ډالر) ځانګړې کړې دي. دوه دېرش کلن حسام الدین رحیمي، په بلخ کې د کرنیزو عواملو د تولید پروژې د نباتي علومو کارپوه وایي چې دا پیسې به د فارم د اوبولګوني پر کانالونو، ځمکې هوارولو، دفتري لوازمو پېرلو او د خاه ګانو لپاره د لمرینو تختو پر نصبولو و لګېږي.

> موږ د کرنیزو تخمونو د تولید لپاره کافي اندازه کاري ځواک لرو، خو د تخنیکي او مالي منابعو له کمښت سره مخ و. موږ د افغانستان د کرنیزو عواملو تولید له پروژې منته کوو چې له موږ سره یې تخنیکي او مالي مرسته کړې.

–کاتب شمس، د بلخ ولایت د کرنې، اوبولګونې او مالدارۍ ریاست مالي او اداري مدیر

/ روانې پروژې

د افغانستان د کرنیزو عواملو د تولید پروژه

۶۷.۲۵ میلیونه ډالره وړیا مرسته

د ۲۰۱۹ کال د جون په ۳۰مه پای ته ورسېده

دافغانستان دکرنیز عواملو د تولید پروژې موخه د کرنیزو محصولاتو د زیاتوالي په منظور له ټکنالوژۍ څخه استفاده کول و. د کرنې سکتور د افغانستان د اقتصاد ډیر عمده او مهم رکن ګڼل کیږي، چې د دې هیواد ۶۰ سلنه کاري ځواک تشکیلوي. په دې برخه کې د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د اداري ظرفیت پیاوړتیا او د کرنیزو محصولاتو د زیاتوالي په منظور د کرنیزو عواملو د تولید مصونیت او اعتبار د زیاتوالی له پاره ډیره مهمه او ارزښتمنه وه.

په لومړي قدم کې د دې پروژې له خوا هڅې او هلې ځلې وشوې، چې د غنمو تصدیق شویو تخمونو د ارزښت د اقتصادي او تخنیکي زنځیرې اغیزمني پیاوړي کړي.

دویم دا چې دې پروژې د نباتاتو د قرنطین شبکو او په کرنه کې د کارېدونکو کیمیاوي موادو د کیفیت د کنترول لپاره ارین تصدیق شوي تسهیلات جوړ کړي، چې دا به هغه قانوني او مقرراتي چوکاټ، چې له دې پروژې سره یې د چمتووالي په مرحله کې مرسته کړې وه، لا پیاوړی کړي. درېیم دا چې دې پروژې د تقاضا پر اساس یو کاري پلان طرحه کړ او ویې ازمویه چې د تخمونو لپاره د بازار د غوښتنو په اساس د لوازمو رسونې سیسمونه رامنځته کړي. دا کار د چمتووالي په مرحله کې د ساحوي سروې ګانو د نتایجو په رڼا کې ترسره شو.

د دې مداخلو پاینښت د ظرفیت جوړونې پروګرامونو په مرسته، چې ملکي ماموړین، کروندګر او سوداګر یې وروزل، حمایه شو.

لومړۍ برخه: د غنمو اوه نوې بېلګې (په پلان کې یوازې پنځه وې) و روزل شوې او دا مورنۍ تخمونه د تکثیر لپاره پر کرنیزو قطعو کرل شوي، چې په ۲۰۱۹ کال کې به یې حاصل راټول شي. د افغانستان د کرنیزې څېړنیز انستیتوت او د تقویه شویو تخمونو تصدۍ ۶۲۱ کارکوونکو په بېلابېلو برخو کې روزنیز کورسونه تعقیب کړل، او د دوی ۳۵ هغو آن د ماسټرۍ او دوکتورا سندونه هم ترلاسه کړل.

د افغانستان د کرنیزې څېړنې انستیتیوت د ټاکل شوي هدف په توګه، د لسو څېړنیزو فارمونو د ځمکې جوړولو کار د افغانستان د کرنیزو لوازمو پروژې لخوا پیل شوی و چې د نهو هغو کار پای ته رسېدلی او د پروژې په پای کې د یوه کار نیمګړی پاتې و. د تقویه شویو تخمونو د تصدی لخوا د پنځو فارمونو له جملې څلور یې د پروژې په پای کې بشپړ شوي وو.

دوهمه برخه: پر قرنطین، افاتو او ناروغیو د راپور مسوده بشپړه شوې او اوس یې یوه تخنیکي کمیټه په غور کوري. د بیالوژیکي موثریت د ازمویني هدف د پروژې له ټاکل شوي هدف نه پورته تللی. هغه. افت وژونکي، چې د بیالوژیکي موثریت په ازمویني کې ازمویل شوي، شپږ نباتي او ۲۷ کیمیاوي دي.

د ۱۴ قرنطین مرکزونو او لابراتوارونو له جملې چې تر دې برخې لاندې پلان شوي وو، ۱۲ یې جوړ شوي او پر چوکیو، مېزونو او نورو لومړنیو وسایلو سنبال شوي دي.

د افغانستان د کرنیزو عواملو پروژه، چې د روان کال په جون کې پای ته ورسېده، د غنمو د اوو نویو ېبلګو، چې له اقلیمي شرایطو سره توافق لري او لور حاصل ورکوي، په رامنځته کولو کې برېالي وه. د افغانستان په ګوټ ګوټ کې به کروندګر د تخمونو له دې نویو اصلاح شویو ېبلګو، چې غوره حاصلات به ولري، ګټمن شي.

خو مرکزي لابراتواري کمپلکس لا تر اوسه په پرمختللیو امکاناتو نه دی سنمبال او لا تر اوسه بشپړ فعال نه دی. دولت دا مرکزونه د یو لړ اضافي منابعو او هڅو په مرسته ژر تر ژره په بشپړ ډول فعالولای شي، چې د کرنې سکتور ډېرو مهمو ننګونو ته ځواب ووایي.

هغه اسانتیاوې، پوهه او امکانات چې د افغانستان د کرنیزو عواملو پروژې لخوا برابر شوي د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت د دې جوګه کړی چې د کرنیزو توکو د مصوونیت له ۱۳۰۰ زیات تصدیقونه وویشي، په داسې حال کې چې د نوي هوایي دهلیز له لارې لوړو بازارونو ته د افغاني کرنیزو توکو صادرولو لپاره یوازې زر تصدیقونه د هدف په توګه ټاکل شوي وو.

درېیمه برخه: د کوپونونو پروګرام، چې د اوو ولایتونو په ۴۰ ولسوالیو کې ۲۷۰۰۰ کروندګرو په کې ګډون وکړ، په بریالیتوب سره و ازمویل شو. د پروژې کارکوونکو له ازمایښتي پروژې ښه زده کړه وکړه او دا تجربه یې له کرنې، اوبولګونې او مالدارۍ وزارت سره د راتلونکو پروګرامونو د پیاوړې کولو په موخه شریکه کړه. د پروژې تر بندېدو وروسته د پروژې کارکوونکو دا باوري کړه چې د کوپونونو پروګرام په اړه د دوی مهارتونه او تجربې په بشپړه توګه له کرنې، اوبولګونې او مالدارۍ وزارت سره شریکې شوې چې دا به له وزارت سره په درې تر پنځو کلونو کې نورو ولسوالیو او آن ټول هېواد ته د دې سیستم په غځولو کې مرسته وکړي.

په کرونده کې داوبو دتنظیم پروژه

۷۰ میلیونه ډالره وړیا مرسته

د دې پروژې هدف دا دی چې کرنیز تولیدي ظرفیت د پروژې تر پوښښ لاندې ساحو کې د اوبو د اغېزمنې کارونې په مرسته پیاوړی کړي.

په کرونده کې د اوبو د تنظیم پروژې د ټاکل شویو هدفونو په لاسته راوړلو او مالي مرستو په ویشلو کې ښه پرمختک کړی دی. د مالي مرستو د ویشلو کچه ۹۰ سلنې ته رسېدلې او د نړیدې ټولو مالي بستو د ورکړې ژمنې ترسره شوي دي.

تر دې مهاله، له ۶۰۰ کیلومترو زیات کانالونه (د پروژې هدف ۱۸۶ کیلومتره و)، چې ۶۴۸۰۰ هکتاره ځمکه خړوبوي، بیارغول شوي او د اوبولګونې ۶۲۱ اتحادیې (د پروژې هدف د ۵۰۰ اتحادیو جوړول وو) جوړې شوي دي. د کروندګرو د معلوماتو تلېفوني مرکز، چې د دې پروژې په مرسته جوړ شوی، د هېواد له ګوټ ګوټه له نارینه او ښځینه کروندګرو او مالدارو تلېفوني اړیکې ترلاسه کوي او دوی ته د دې مرکز د کارپوهانو لخوا لازمې مشورې ورکول کېږي.

د دې پروژې لخوا د ځمکې هوارولو خدمتونه اوس د پیسو په مقابل کې وړاندې کېږي او دغو خدمتونو ته د پروژې د پلي کېدو په ساحو کې لوړه کاروباري تقاضا رامنځته شوې. هغه ۳۶ د ځمکې هوارولو ماشینونه چې پخوا ویشل شوي اوس کروندګرو ته د پیسو په مقابل کې کار کوي، او د ځمکې هوارولو ۸۶ نور ماشینونه پېرل شوي چې په خصوصي شرکتونو به وویشل شي.

د پروژې کارکوونکي لګیا دي په ۵۱ نندارځیونو کې د اوبولګونې ډېرې اغېزمنې تکنالوژۍ ګاني نندارې ته وړاندې کوي، او د کرنې له ۱۲۲ ساحوي ښوونځیو سره مرستې ته، چې ۳۶۰۰ کروندګرو ته ګټه رسوي، دوام ورکوي.

پر دې سربېره، په کرونده کې د اوبو د تنظیم پروژې له کرنې، اوبولګونې او مالدارۍ وزارت سره په بېلابېلو برخو، لکه د اوبولګونې د یو شمېر کانالونو چې، د کرنې وزارت

او نورو مرستندویو لخوا یې مالي ملاتړ کېده، په سروې او ډیزاین کې مرسته کړې. د نورو کارونو تر څنګ، پدې مرستو کې د قش تېپې، اندخوی او حیرتان د اوبولګونې کانال، چې د افغانستان په شمال کې له فاریاب، جوزجان او بلخ ولایتونو تېرېږي، د امکانیت سروې؛ د ۶۰ کیلومتره محافظوي دېوالونو فرعي پروژې؛ په بلخ ولایت کې د اوبولګونې پنځه پروژې؛ او د پایپونو له لارې د اوبولګونې ۳۴ پروژې شاملې دي.

د منځنۍ آسیا څخه جنوبي آسیا ته د برېښنا د لېږد سیمه ییز پروګرام (CASA – CSP) -۱۰۰۰

۴۰ میلیون ډالر وړیا مرسته

د منځنۍ آسیا څخه جنوبي آسیا ته د بریښنا د لېږد د سیمه ییز ملاتړ پروګرام هغه شمېر سیمې او کلي چې په افغانستان کې د کاسا ۱۰۰۰ د برېښنا کرښې د انتقال په مسیر کې پرتې دي، تر خپل ملاتړ لاندې راولي. د دغې پروژې چوکاټ باندې تېر کال بیا کتنه وشوه او اوسمهال د افغانستان د ولسي ټرون پروګرام او د کاسا ۱۰۰۰ پروژې سره په ګډه همکارۍ د تطبیق په درشل کې ده.

د دغې پروژې تطبیق یو څه ستونزمن ده، ځکه چې د لېږد مسیر یې په بشپړه توګه نده مشخص شوی. او د برېښنا د کرښې د انتقال لپاره بېلابېلې لارې وړاندیز شوې دي. دا په داسې حال کې ده، چې له منځنۍ آسیا څخه جنوبي آسیا ته د برېښنا د لېږد سیمه ییز پروګرام یوازې هغه شمېر کیلوالي سیمې تر خپل پوښښ لاندې راولي، چې د انتقال د کرښې په ۴ کیلومتري واټن کې "د اغېزمنتیا دهلیز" ځای لري.

د اټکل له مخې به په اوو غوره شویو ولایتونو کې د برېښنا د انتقالي لاین په مسیر کې له ۴۸۱ ډېرې ټولنې (کلي) له دې پروګرامه ګټمنې شي. پرېکړه وشوه چې کار به په تایید شویو کلیو کې په نږدې وخت کې پیل شي او د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت به د دوه تر درې میاشتو په بهیر کې ټولنیز همغږوونکي وګماري چې د کلیوالي پراختیایي شوراګانو د تشکیل لپاره په غوره شویو کلیو کې ټولنیزه پروسه پیل کړي.

د ۲۰۱۹ کال تر سپتمبره د ولسوالۍ د ټولنیزو تنظیموونکو او د ولسوالۍ انجینرانو ګومارنه بشپړه شوې وه او په ۱۴۵ کلیو کې کار پیل شوی و. د برېښنا د انتقالي لاین په هر سیمه کې د پوهاوي لوړولو لپاره د اړیکو د تنظیم یوه هر اړخیزه ستراتیژی، چې موخه یې د کاسا۱۰۰۰- پروژې لپاره په دغو کلیو کې د ملاتړ ترویجول دي، جوړه شوې ده. دا ستراتیژي په افغانستان کې د کاسا۱۰۰۰- نور کاري ملګري هم په پام کې نیسي او د سیمې په کچه د اړیکو د هغې ستراتیژۍ په بشپړولو کې مرسته کوي چې همدا اوس پرې د کاسا۱۰۰۰- سکرتریت لخوا کار روان دی.

د افغانستان د برېښنا شرکت د پلان جوړونې او ظرفیت سازۍ ملاتړ پروژه

۶میلیونه ډالره وړیا مرسته

د افغانستان برېښنا شرکت د پلان جوړونې او ظرفیت سازۍ څخه د ملاتړ د پروژې موخه د پلان جوړونې په برخه کې د پانګونې ویش، تطبیق، او حفظ او مراقبت په برخو کې د نوموړي شرکت ظرفیت ته وده ورکول دي. دا پروژه لاندې دوه جزء لري:

لومړی جزء: د کارکونکو د ظرفیت لوړاوی، چې موخه یې د نویو پانګونو د ویش د سیستمونو او د پانګونو د سم حفظ او مراقبت په برخو کې د پلان جوړونې او تطبیق په برخو کې د برېښنا شرکت د ظرفیت په لوړاوي کې مرسته کول دي.

دویم جزء: په کابل کې د یو روزنیز مرکز جوړول. اوس مهال د افغانستان د برېښنا شرکت د خپلو کارکونکو د روزنې لپاره هیڅ ودانۍ نلري، چې دا پخپله د یاد شرکت د ظرفیت سازۍ د هڅو په برخه کې یوه مهمه تشه ګڼل کیږي.

دغه پروژه د بریښنا د شپږو سترو مرکزونو د عملیاتي پلانونو د تطبیق او چمتووالي یو کلنې ساتنې او مراقبت څخه د نویو کرنلارو څخه په استفاده، چې هغه د نړیوالو روشونو له مخې له سیمه ییزو شرایطو سره سمون ولري، مرسته او ملاتړ کوي.

همدارنګه نوموړی پروژه د زده کړې او زده کړې له هغه مرکزڅخه، چې هیله او توقع کیږي، د افغانستان د بریښنا شرکت د پلان جوړونې، عملیاتو، ساتنې او مراقبت د برخې په سلو کې ۹۰ کار کوونکو مهارتونه به لوړ او ښه کړي، مرسته او ملاتړ کوي.

دغې پروژې له انجینرۍ تازه فارغ شوو ښځو ته د افغانستان برېښنا شرکت کې د کار زده کړې فرصت برابر کړ. تر اوسه ۱۲ ښځینه انجینرانې د افغانستان برېښنا شرکت کې استخدامې شوې دي او هره یوه په بېلابېلو دندو بوخته دي.

له یوه مشورتي شرکت سره د کارکوونکو د ظرفیت لوړونې لپاره د ۲۰۱۹ کال په مې میاشت کې یو قرارداد لاسلیک شو، او روزنیز کار پیل شوی. د رونیز مرکز د ودانونو قرارداد هم د ۲۰۱۹ په جون کې ورکړل شو چې ودانیز فعالیتونه وار له مخې پیل شوي. د روزنیز مرکز لپاره د وسایلو پېرلو کار د داوطلبۍ د یوې ناکامې پروسې له کبله ځنډېدلی. خو د افغانستان برېښنا شرکت د وسایلو پېرلو په بدیلو لارو کار کوي.

له ۶۰۰ کیلومترو زیاتې ویالې، چې ۶۴۸۰۰ هکتاره ځمکې خرویوي، په کرونده کې د اوبو د تنظیم پروژې لخوا بیارغول شوي دي. د دې پروژې هدف د اوبو د موثرې کارونې له لارې د کرنیز تولیدي ظرفیت پیاوړی کول دي. دا پروژه په ۵۱ نندارځیونو کې کروندګرو ته د اوبو لګونې د لوړې وړتیا تکنالوژیو پر ټوولو بوخته ده. چې له دغو به د کروندګرو ۱۲۲ ټوونځي ګټه واخلي.

دلوړو زده کړو دپرمختیا پروژه

۵۵ میلیونه ډالره وړیا مرسته

د لوړو زده کړو د ودې پروژې موخه او هدف په هیواد کې اقتصادي اړتیاوو سره په اړیکه کې غوره لوړو زده کړو ته دلاس رسي داندازې زیاتوالی او دکیفیت لوړاوی دی. دنوموړې پروژې دتطبیق لاره او روش دټاکل شویو شاخصونو او ترلاسه شویو نتایجو ته په لاس رسۍ ولاړ دی.

د پروژې په لومړۍ برخه کې ټاکل شوې سرچینې او منابع د لوړو زده کړو د وزارت د لاس رسۍ ټاکل شویو موخو او هدفونو یا د شاخصونو په لاس رسۍ او حصول پورې مشروطې او مربوطې وګڼل شوې.

په دغه شاخصونوکې موخه او هدف ښه لاس رسی، دکیفیت لوړول او دپروژې دتطبیق په موده کې له پرمختیایي اړتیاوو سره غوره اړیکې شامل دي. همدارنګه دغه پروژه دلوړو زده کړو ددویم ستراتیژیک پلان په رڼا کې دلوړو زده کړو له اصلاحاتو او سمون څخه دملاتړ

موږ د کروندګرو د معلوماتو له مرکز سره اړیکه ونیوله او خپله ستونزه مو ور سره شریکه کړه. دوی موږ ته لاښوونه وکړه چې څنګه د دې ناروغۍ درملنه وکړو او خپله ستونزه حل کړو.... کله چې موږ له "۱۵۰" شمېرې سره اړیکه نیسو، مخکې له مخکې په دې ډاډه یو چې زموږ ستونزه به حلېږي.

–**بهرام شمس**، په کابل ښار کې یو ۵۲ کلن کروندګرو

نوی معلوماتی مرکز د تلېفون له لارې د کروندګرو پوښتنې ځوابوي

- د افغانستان له هر ځایه اوس کروندګر د معلوماتو له یوه مرکز سره، چې په کرونده کې د اوبو تنظیم پروژې په مرسته جوړ شوی، وړیا اړیکه نیولای او کرنیزو معلوماتو ته لاسرسی موندلای شي.
- د کروندګرو د معلوماتي مرکز کارپوهان کروندګرو ته د کرنې او مالداری د ستونزو په اړه مشوری ورکوي. د کروندګرو معلومات له دې مرکز سره مرسته کوي چې جدي ستونزې، لکه د ناروغیو خپرېدنه، وځاري.
- دا مرکز د ۲۰۱۸ کال په جون کې د وروستیو امنیتي ستونزو په ځواب کې، چې د کرنې کارپوهان یې له کبله نشي کولای کلیوالي سیمو ته سفر وکړي، پرانیستل شوی او تر اوسه یې له خدمتونو د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې زرګونه کروندګر برخمن شوي.

پدې معلوماتي مرکز کې په کرونده کې د اوبو تنظیم پروژې ۱۵ کارپوهان کار کوي. دوی کروندګرو ته د ځواب ورکولو په وخت کې په خپلو کمپیوټرونو کې معلومات لټوي ځکه د دوی کمپیوټرونه د کرنیزو مسایلو له یوه ډېټابېس سره وصل دي. دوی د همدې ډېټابېس د معلوماتو په مرسته د کروندګرو پوښتنې ځوابوي.

د کروندګرو د معلوماتو په مرکز کې د کرنې، نباتي او حیواني علومو، او اوبو لګوني کارپوهان شتون لري. د دې معلوماتي مرکز هر یو غړي د کرنې او مالداری برخو په نظري او عملي ازموینو کې بریالي شوی او سربېره پر دې یې د انلاین ډېټابېس کارونې روزنه لیدلې چې د اړیکه نیونکو پوښتنو ته سم ځوابونه وویلای شي.

د دې معلوماتي مرکز کارپوهان هره ورځ د کن شمېر موضوعاتو په اړ له ۲۵۰ څخه تر ۳۰۰ شاوخوا تلېفوني اړیکې ځوابوي. د دې مرکز یو ځوان کارپوه محب الله رضا وایي: "له ۴۰ څخه تر ۵۰ سلنه پوښتنې د نباتي ناروغیو په اړه وي او پاتې یې د اوبو لګونې، ځاروویو ناروغیو، کرنیزو طریقو او سړې ورکونې په اړه وي."

د افغانستان له ګوټ ګوټ څخه کروندګر د "۱۵۰" شمېرې له لارې د کروندګرو د معلوماتو له مرکز سره په وړیا توګه اړیکه نیولای شي. په کرونده کې د اوبو تنظیم پروژې مسوول اسحاق صاحبزاده، چې په کرنې، اوبو لګونې او مالداری وزارت کې د دې پروژې د پلي کولو چارې په غاړه لري، وایي: "موږ له ټولو کروندګرو او مالدارو غواړو چې له ۱۵۰ شمېرې سره اړیکه ونیسي او د کرنې او مالداری په برخه کې د خپلو ستونزو په اړه زموږ له کارپوهانو وپوښتي."

د کروندګرو د معلوماتو مرکز په افغانستان کې د امنیتي وضعیت د خرابېدو، چې له کبله یې د کرنې کارپوهان د کروندګرو روزلو او هغوی ته د مشورو ورکولو لپاره نور کلیوالي سیمو ته نه شي ورتلای، په ځواب کې رامنځته شو. صاحبزاده وایي، "اوس امنیتي وضعیت ښه نه دی. پخوا به موږ خپل کارپوهان د هېواد بېلابېلو کلیوالي سیمو ته لېږل چې له کروندګرو سره له نږدې وګوري او هغوی ته د کرنې نوي طریقې ور زده کړي. خو اوس چې دا کار شونی نه دی، په کرونده کې د اوبو تنظیم پروژې او د توسعې او کرنیزې پراختیا ریاست په ګډه دا معلوماتي مرکز پرانیست چې دا تشه ډکه کړي."

کروندګرو ته حیاتي مشورې

د کروندګر د معلوماتو مرکز تلېفوني لیکه له شنبې تر پنجشنبې پرانیستې وي. پر دې کار روان دی چې د دې مرکز کاري ساعتونه سهار وختي او د شپې تر ناوخته پورې وغځېږي، ځکه کروندګر معمولاً د خپلې کاري ورځې په پیل او پای کې له ستونزو سره مخامخ کېږي.

د ۲۰۱۸ کال په جون کې د کروندګرو د اړیکو مرکز له پرانیستې راهیسې دې له دې مرکز سره له ۳۴ ولایتونو له ۱۰ زرو زیاتو کروندګرو اړیکه نیولې او د هر اړیکه نیونکې نوم، کلی، ولسوالي او پوښتنه په یوه ډېټابېس کې ثبت شوي. د صاحبزاده په وینا دا معلومات ورسره مرسته کوي چې د ناروغیو او افاتو خپرېدنه وځاري او په کرونده کې د اوبو تنظیم پروژه د دې جوګه کړي چې د ودې لپاره کلیدي ساحې په نښه کړي.

دو پنځوس کلن بهرام شمس، کابل ښار ته ځېرمه د یوه ګرینهاوس چلوونکی، د کروندګرو د معلوماتي مرکز د کارپوهانو له مشورو څو ځلې ګټه پورته کړې. هغه وایي: "موږ د کروندګرو د معلوماتو له مرکز سره اړیکه ونیوله او خپله ستونزه مو ور سره شریکه کړه. دوی موږ ته لاښوونه وکړه چې څنګه د دې ناروغۍ درملنه وکړو او خپله ستونزه حل کړو.... کله چې موږ له ۱۵۰ شمېرې سره اړیکه نیسو، مخکې له مخکې په دې ډاډه یو چې زموږ ستونزه به حلېږي."

کوي، دموخې اونټایجو په ترلاسه کولو باندې تمرکز کوي

دغه پروژه د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر په میاشت کې پیل شوه، د لوړو زده کړو وزارت هڅه کوي، چې د ټاکل شویو موخو لپاره د شاخصونو څلورم پراو بشپړ کړي، چې هغه کې د لومړیتوب لرونکو تحصیلي رشتو په لومړۍ کال کې د نجونو د نوم لیکنې زیاتوالی، په څلورو پوهنتونونو کې د معلوماتي ټکنالوژۍ د مرکزونو تاسیس چې د انټرنټ په آسانتیا سمبال وي او په تحصیلي چارو کې له انټرنټ (آنلاین آسانتیاوو) څخه کټه واخیستل شي، او په شپږو پوهنتونونو کې د داخلي کیفیت د خارنې د خانګو رامنځته کول چې د نړیوالو معیارونو په رڼا کې فعالیت ولري.

په اساسي خانګو او رشتو کې شمولیت (هغه خانګې چې له اقتصادي ټولنیزې ودې سره مرسته کوي) د کتنې وړ ډول له ۶۴۲۰۰ شمیرې څخه، چې د دې پروژې په پیل کې و، تقریباً ۸۹۰۰۰ ته زیات شوی دی. کومه خانګړی پاملرنه او توجه چې د ښځینه طبقې د شمولیت په برخه کې شوې وه، هغې هم د ښځینه محصلینو په زیاتوالی سره، له ۱۱۴۰۰ تر ۱۶۹۰۰ ته د شمیر په زیاتوالي مثبتې نتیجې له ځان سره لرلې دي.

د لوړو زده کړو وزارت د انټرنیټ له لارې (انلاین) د زده کړو د لاور چارو یوې پالیسې او مقررې ته وده او پرمختیا ورکړی ده، چې دا کار د کډې اومختلطې زده کړې د تدریجي معرفي، د انټرنیټ (انلاین)لارې څخه د پوهنتون په نصاب کې زده کړې ځایول اوهمدارنګه په کریډیټونو کې دکډې او مختلطې زده کړې په رسمیت پیژندنې لامل او سبب ګرځیدلی دی. په ازمایښتي پراو کې، یو شمیر انلاین روزنیز پروګرامونه په انتخابي توګه د AfghanEX ویب پاڼې ته اپلوډ شوي او ټاکل شوي ده چې په یو شمیر دولتي پوهنتونونو کې تدریس شي. د AfghanEX ویب پاڼه د EdEx سیستم پر بنسټ جوړه شوې او موخه یې دا ده چې افغان محصلان انلاین زده کړو ته لاسرسی ومومي. د لوړو زده کړو په برخه کې کې د لاسرسي او کیفیت د پیاوړي کولو په موخه د بریښنایي زده کړو تروډج د لوړو زده کړو وزارت په کلیدي لومړیتوبونو کې راځي.

په دې وروستیو کې ۵ میلیون ډالره نوره ملاتړ کوونکې مالي مرسته د دغو پروژو د تمویل په موخه چمتو شوي، چې په ځانګړې توګه د پروژې د اغیزو د زیاتوالي، د پراختیایي اغیزمنتیا ښه والي او په لاندې برخو کې د بریالیو فعالیتونو لپاره به ولړول شي: (۱) د بهلابهلو فاکولټو لپاره د بورسونو چمتو کول (د دولتي پوهنتونونو د علمي کډرونو لپاره د ۱۵۰ بورسونو ځانګړي کول، چې په دې کې به یو په دریمه برخه یې ښځو ته اختصاص شيٍ) (۲) له دولتي پوهنتونونو سره د ستراتیژیکې پراختیا په برخه کې د پلانونو په ترتیب کې مرسته، (۳) د ښوونې او روزنې د پایلو له مخې د ښوونکي روزنه او د محصل محوره روزنو هڅونه، او (۴) په پوهنتونونو کې د ګروپي او انفرادي ځیرنو د پروژو لپاره د مالي مرستو برابرول.

د دغې پروژې د کاري مودې اوږدولو په موخه اضافي بودیجه منظوره شوې، چې د پروژې کاري موده یې د ۲۰۱۲ کال د ډسمبر له ۳۱ مې څخه د ۲۰۲۲ کال د ډسمبر تر ۳۱ مې پورې غځولې. د دغه اضافي مالي ملاتړ موخه د اضافي فعالیتونو د بشپړولو لپاره کافي وخت درلودل او د وروستیو موخو لاسته راوړل دي.

د کابل ښارواليې پراختیايي پروګرام

۱۱۰ میلیون ډالروریا مرسته

د کابل ښاروالی د دغې پروژې د تطبیق مسوولیت په غاړه لري. د دغه پروژې موخې عبارت دي له : (الف) د کابل ښار په مشخصو برخو کې د ښاروالی اساسي خدمتونو ته د استوګنو د لاسرسۍ زیاتوالی،(ب) له خدمتونو څخه د ښه ملاتړ په منظور د کابل د ښاروالی د مالی مدیریت د سیستم بیا طرح کول،(ج) بیرنیو پیښوته د رسیدنې د سیستم فعالول.

ټمه کېږي چې دغه پروژه ۲۴۰۰ هکتارو خصوصی ځمکو باندې د خدماتو د وړاندې کولو په واسطه ۷۰۰۰۰ کسانو ته ګټه ورسوي. دغه پروژه همدارنګه د یو پلان د جوړلو څخه ملاتړ وکړ ترڅو د ښاروالی د مالی مدیریت او پلان جوړولو ظرفیت لوړ او ښه خدمات خلکو ته وړاندې کړي. د دغه پروژې د پلې کولو لړۍ دوام لري چې په پایله کې به د کابل ښاروالی ظرفیت پیاوړې کړي.

تر دې مهاله نږدې ۷۳.۲۴ میلیونه ډالر لګول شوی دي. تر ۱.۳۶ میلیونو زیاتو کسان (نږدې ۷۳سلنه میرمنې او ماشومان) د ۵۱۳ کیلو متره سړک د رغونې، ۶۷۰ کیلو متره لښتیو، ۳۶ کیلو متره لوی لارې سړکونو د جوړولو څخه ګټه پورته کړې ده.

د دغې پروژې له لارې ۲.۹ میلیونو کسانو لپاره د ۲۲۳ ډالر په میاشت کې د موقتي کار زمینه برابره شوې ده. دوامداره بنسټونه به په راتلونکې کلنو کې فرعي کاری زمنینې هم برابره کړي.

مهمه لا دا چې د کابل ښاروالی د پرمختیايي پروژه په ګډونو کې د عامه لګښتونو په اړه د تصمیم نیونې په کچه د جنډر اړوند ټولنیزې ګډون یو پیاوړی بنسټ رامینځته کړی دی.

د لوړو زده کړو د ودې پروژې په مرسته د لوړو زده کړو په هغو کلیدي خانګو کې، چې په اقتصادي او ټولنیزه پراختیا کې ونده لري، د شمولیت کچه لوړه شوې ده. د ښځو پر شمولیت ټینګار د ښځو د شمولیت کچه له ۱۱۴۰۰ څخه ۱۶۹۰۰ ته لوړه کړې ده.

په کابل ښار کې د ښاري ترانسپورت د ښه کولو پروژه

۹۰.۵ میلیون ډالرهوریا مرسته

د دې پروژې موخه د کابل ښار په ټاکلو مسیرونو کې د سړکونو د کیفیت ښه کول او د ترافیکي ښهروبار راکمول دي. دغه پروژه د سړکونو پر زېرېنا او په خانګړو برخو کې کابل ښارواليې ته د تخنیکي مرستو پر برابرولو تمرکز کوي. د کابل ښار د سړکونو پر زېرېنا پانګونه به د کابل ښار بهلابهلې نقطې سره ونښلوي. ټمه کېږي، چې کابل ښارواليې ته د تخنیکي او مسلکي مرستو په برابرولو سره به د کابل ښاروالي د وخت په تېرېدو په یوه داسې اجرایوي ارګان

په کابل ښار کې د ښاري ترانسپورت ښه کولو پروژې لخوا د سړکونو جوړولو هدف په غوره شويو برخو کې د سړکونو د وضعیت او ترافیکو د جریان ښه کول دي. د سړکونو قیر کول، د پیاده روونو جوړول او د چټلو اوبو ویستل، د نورو هغو تر څنګ، د خلکو او محلي کاروبارونو لپاره د دې ودانیزې پروژې ګټې دي. یو محلي اوسېدونکی وایي، "ښه سړک زمونږ د روغتیا لپاره یو نعمت دی."

بدل شي چې په نړیوالو ستندردونو برابر وي. کابل ښاروالي د تدارکاتو او مالي مدیریت په شمول د دې پروژې د پرمخ وړلو مسوولیت لري.

د پروژې اهداف به پر دغو شاخصونو اندازه کېږي: (الف) د ترافیکو په ظرفیت کې ښه والی چې په عادي وخت کې د موټر په وسطي سرعت اندازه کېږي: (ب) په ښاري سیمو کې (د ۵۰۰ مترو په واټن) په هر موسم کې پرانستو سړکونو ته لاسرسی ؛ او (ج) د کابل ښار د لویو سړکونو شبکې د عادي حالت فیصدي.

د پروژې د پلې کېدو بهیر ښه روان دی او د ودانیزو کارونو قراردادونه امضاء شوي دي. تر اوسه، د نهو ساختماني پروژو، چې په ټوله کې ۳۲ کیلومتره سړک دی، قراردادونه بشپړ شوی او سړکونه د ترافیکو پر مخ پرانیستل شوي دي. د پاتو څلورو عامه پروژو قراردادونه د روان کال په لومړیو کې پیل شوي او تمه ده چې ټول قراردادونه د ۲۰۱۹ کال تر دسمبره پورې بشپړ شي.

د نغلو د اوبو بریښنا بند د بیارغونې پروژه

۸۳ میلیونه ډالره وړیا مرسته

د نغلو د اوبو برېښنا کوټ د بیارغونې پروژې هدف د نغلو بند لا خوندیتوب، ثبات او د برېښناکوټ د تولیدي وړتیا لوړول دي. نغلو برېښناکوټ افغانستان ته ستراتیژیک ارزښت لري، ځکه دغه برېښناکوټ د کابل د برېښنا له نیمایي زیاته اړتیا پوره کوي.

د دغې پروژې عملي کار د ۲۰۱۶ کال په جنورۍ میاشت کې پیل شو. د ۲۰۱۸ کال په نومبر کې، د لومړي او دریم توربین تر رغېدلو وروسته، د نغلو برېښناکوټ په اعظمي ظرفیت (۱۰۰ مېګاواټه) تولید پیل کړ. دوهم توربین هم اساسي ترمیماتو ته اړتیا لري ځکه چې ۴۰۰۰۰ ساعتو کې یې تر اوسه کاري وړتیا نه ده کتل شوې. د دې ځانګې د ترمیماتو د داوطلبۍ سند مسوده چمتو شوې او د ۲۰۱۹ کال په اخري ربعه کې به اعلان شي.

د نغلو برېښناکوټ د کارکوونکو لپاره د روزنې، د پنځو کلونو فعالیت لپاره د اضافي پرزو پېرلو او د برېښناکوت د حفظ او مراقبت تدارکاتي لایحې به په نړۍ راتلونکي کې اعلان شي.

د بند پر لا خوندیتوب هم کار روان دی. په بند کې تر اوبو لاندې د بند د اوبو ویستلو په معبر کې پمپونه کېنول شوې چې د اړتیا په وخت کې د اوبو فشار راکم کړي. دوو نورو پمپونو ته اړتیا ده چې اوبه په بشپړه توګه د بند له دواړو دالانونو وباسي. دا پمپونه به د ۲۰۱۹ کال په دوېمه ربعه کې خریداري او نصب شي.

د نغلو بند باټۍ میتریکه ځېرنه به د افغانستان برېښنا شرکت د سروې کوونکو لخوا او د انرژۍ او اوبو وزارت/ د ملګرو ملتونو د غذا او کرنې ادارې د ډلې په ملاتړ تر سره شي.

د افغانستان برېښنا شرکت د بازار تر ځېرنې او له ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې ادارې سره تر مشورې وروسته یو مناسب انعکاس سنج په نښه کړی. د دې وسیلې د پېرلو پروسه به د ۲۰۱۹ کال تر نومبره بشپړه شي، او د باټۍ متریک سروې پایلې به د ۲۰۱۹ کال تر دسمبره معلومې شي.

د یوه مشورتي شرکت، چې تر بند مصوونیتي او هایدرو مېخانیکي پلټنه وکړي، کاري لایحه بشپړه شوې او د داوطلبۍ پروسه یې د ۲۰۱۹ کال په مارچ کې اعلان شوې. د هغو شرکتونو اسناد تر ارزونې لاندې دي چې چې د دې کار ترسره کولو کې یې لېوالتیا ښوولې.

ټمه ده چې د یوه مشورتي شرکت لخوا د نغلو بند د چاپېریالي او ټولنیز اغېزمنتوب د ارزونې لپاره د تدارکاتو قرارداد د ۲۰۱۹ کال په اکتوبر کې لاسلیک شي. دا چې د رسوباتو د سم مدیریت لپاره د چاپېریالي او ټولنیز اغېزمنتوب د ارزونې نتایج به وروسته ترلاسه شي، د افغانستان برېښنا شرکت به تر هغې وړاندې د رسوباتو د ارزونې لپاره یوه منځمهالي ارزونه ترسره کړي او د چاپېریالي ارزونې یو سطحي راپور به چمتو کړي. د رسوباتو د منځمهالي ارزونې پایلې به د ۲۰۱۹ کال تر اکتوبر پورې لاسته راشي. د رسوباتو د ارزونې او له ځانګړو برخو د ناچاوده موادو په کډون د رسوباتو ویستلو د داوطلبۍ اسناد به د دې نتایجو په اساس بشپړ شي.

د نغلو برېښنا کوټ د بیارغونې پروژه د محلي خلکو لپاره د ګټو شریکولو یو پروګرام هم لري، چې پکې شاوخوا کلیو ته د برېښنا رسول راځي. د سروې د ۲۰ مېګاواټه سب سټېشن جوړولو کار د ۲۰۱۹ کال په اپریل کې بشپړ شو، چې پر مټ یې د سروې کلیو ته برېښنا وغځېده. د افغانستان برېښنا شرکت کارکوونکو لخوا په سروې ولسوالۍ کې ۱۸ کلیو ته د برېښنا رسولو کار جریان لري او تمه ده چې د ۲۰۱۹ کال تر اکتوبره بشپړ شي. په تکاب ولسوالۍ کې کلي سروې شوي او د برېښنا رسولو سیستم د ډیزاین په مرحله کې دی.

په دې پروژه کې د کلیوالو لپاره مسلکي زده کړې هم شاملې وې. د نغلو بند د شاوخوا کلیو له اوسېدونکو سره د سلا مشورو په بهیر کې پرېکړه وشوه چې د مسلکي زده کړو پر ځای به دوی ته د بنوالۍ او مالدارۍ د ملي پروژې خدمات ور وغځول شي. د دې پروګرام په لومړي پراو کې، چې د ۲۰۱۹ کال په جنوري کې پیل شو، د سروې په ۱۳ کلیو کې به د چرګانو فارمونه جوړ او فارم لرونکیو ته به د چرګانو د پاللو په برخه کې روزنه ورکړل شي.

سر ېره پر دې دا پروژه د کجکي بند د غځولو پروژې ملاتړ هم کوي. د پروژې د مدیریت ډلې د ګومارنې پروسه په انرژۍ او اوبو وزارت کې روانه ده. د چاپېریال ملي کارپوه مقرر شوی او د ملي ټولنیزو کارپوهانو او دوو نړیوالو چاپېریالي سلاکارانو د ګومارنې پروسه روانه ده.

د یوه مشورتي شرکت کاري لایحه ترتیب او اعلان ته سپارل شوې. دا شرکت به چاپېریالي او ټولنیزه ارزونه او د ځېرنې او شننې پروګرام مطالعات ترسره کړي.

د مالیې وزارت د یوې رسمی غوښتنې له مخې د دې پروژې په جوړښت کې تغیر راوستل شو، چې د درونتې برېښنا کوټ بیارغونه هم پکې شامله شي. په درونتې برېښناکوټ کې به د درې برخې له سره ورغول شي او یوه اداري ودانۍ او یو زېرمتون به هم جوړ شي. د دې پروژې د داوطلبۍ اسناد بشپړ شوي او د ټولنیزو او چاپېریالي اغېزو اسناد یې ترتیب او د نړیوال بانک لخوا تصفیه شویدي. د درونتې برېښناکوټ د ډېزاین، تجهیزاتو رسولو، نصب او قرارداد تدارکاتي پروسه د ۲۰۱۹ کال په جولای کې اعلان شوه. د داوطلبۍ د اسنادو سپارلو اخري نېټه د ۲۰۱۹ د اګست ۲۸مه وه.

تر هغې وروسته چې په کندهار کې د کشمشو تولیدوونکو پر یوه عصري سیستم د خپلو انګورو پر وچولو لاس پورې کړ، د دوی په کلني عاید کې ډېر زیاتوالی راغلی. د انګورو وچولو دا نوې خوښي، چې د بنوالۍ او مالدارۍ د ملي پروګرام په مرسته جوړې شوې، ضایعات راکموي او د انګورو د محلي وچونکو خونو په پرتله د لوړ کیفیت لرونکو کشمشو په تولیدولو کې مرسته کوي. یو راضي تولیدوونکی وایي، "هیله لرو چې زموږ د کشمشو تولید نور هم لوړ شي."

د بنوالۍ او مالدارۍ ملي پروژه

۱۹۰ میلیونه ډالره وړیا مرسته

د افغانستان دولت له ملي بودیجې څخه ۲۸.۲ میلیونه ډالره

د بنوالۍ او مالدارۍ د ملي پروژې هدف، د بزګرانواو بنوالو له لوري د کرنیزو محصولاتو د زیاتوالي لپاره د اغېزمنې تولیدي تګلارې ترویج او له پرمختللې تکنالوژۍ څخه استفاده او په ورته وخت کې د بزګر- محوره کرنیزو خدماتو څخه د ګټې اخیستنې په موخه له مالدارۍ سکتور څخه ملاتړ او د پانکه اچونې د تشویق لپاره د آسانتیاوو برابرول بلل کېږي.

دغه پروژه درې برخې لري: الف) دبنوالۍ محصولات ، ب) دمالدارۍ تولیدات او حیواني روغتیا، ج) دپروګرام دتطبیق مدیریت او تخنیکي ملاتړ دی. دیادونې وړ ده، چې دغه فعالیتونه په ۱۲۰ ولسوالیو کې ، چې دمخه دهیواد له ۲۳ ولایتونو څخه انتخاب شوي، تطبیق شوي دي. دزیاتې او مهمې اړتیا په نتیجه کې دبنوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې دخدمتونو د دوام له پاره دې پروژې ته پیاوړی کوونکی مالي مرسته منظوره شوې، ترڅو چې دملي پلان په تطبیق سره خپل پروګرامونه د ۳۱ ولایتونو ۲۵۰ ولسوالیو ته پراخه کړي.

د دغې پروژې د تطبیق له پاره په لومړیو کې ۱۰۰ میلیون ډالره مالي مرسته ځانګړې شوې وه، اما په ولایتونو کې د بنوالۍ او مالداري خدمتونو د پراختیا لپاره د تقاضا د کچې په لوړېدلو سره، د دې پروژې له پاره د ۹۰ میلیون ډالرو په ارزښت د تقویتی او اضافي مالي مرستې ژمنه هم وشوه، څو په دې توګه زیاتو ولایتونو د دغې پروژې د فعالیتونو لمن پراخه شي او زیات شمېر نور بزګران هم د پروژې له خدماتو څخه برخمن شي.

دغه پروژه اوس مهال د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې، څه باندې ۲۹۱ ولسوالۍ تر خپل پوښښ لاندې راوستې او هلته ېې د مالداري او بنوالي خدماتو لمن پراخه کړې ده. همدا اوس څه باندې ۵۷۰۰۰۰ بزګران، چې ۲۴۲۰۰۰ تنه ېې ښځینه بزګراني دي، د دغې پروژې له خدماتو څخه برخمني شوي دي.

تر اوسه پورې، د بنوالي او مالداري ملي پروژه توانیدلې، په ۳۴ ولایتونو کې پر نږدې ۳۲۵۲۰ هکتاره ځمکه کې د پستې او میوه جاتو د باغونو د جوړولو مالي ملاتړ وکړي. سربېره پر دې، یادې پروژې په څه باندې ۳۲۰۰۰ هکتاره ځمکه کې شته باغونه بیا رغولې او ۱۴۳۰۰۰ کورنۍ زرغون وړوکي بنونه، جوړ کړي دي.

په عین حال کې دبنوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې د اوبو ۱۹۰۰ کوچنیو زیرمو جوړولو کار تمویل کړی دی، چې په نتیجه کې ېې بزګران کولی شي په بارانې موسمونو کې خپل دارتیا وړ اوبه هلته زیرمه او بیا وروسته داقلیم دبدلون او ارتیا په صورت کې له دغو زیرمو څخه د خپلو ځمکو دخړوبولو له پاره ګټه واخلي. ددغو زیرمو دجوړولو کار دسیمې پرمختیا شوراګانو په ګډون ترسره شوی دی.

دبازار موندنې دپیاوړتیا له پاره دزده کړې پروګرامونو یو شمیر بزګران، چې پکې ښځې او نارینه شامل دي، دحاصلاتو راټولولو او له راټولوځخه وروسته تدیږونو په هکله په اړوندو مسایلو وپوهول شول. همدارنګه دبزګرانو له پاره اساسي او ضروري وسایل (لکه : شاخ پریکوونکي، زینه، دوسایل بکس) دحاصلاتو راټولولو په منظور برابرشوي دي.

بازارونو ته د کرنیزو محصولاتو د را ټولولو او انتقال د تګلارو د شه والي او د بازار موندنې د پیاوړتیا په موخه، زیات شمېر بزګرانو ته چې پکې ښځې هم شاملې وي، مشخص روزنیز پروګرامونه د حاصلاتو د غوره را ټولولو او د را ټولولو ځخه وروسته پالنې او ساتنې لپاره، جوړ شول. همدا رنګه د بزګرانو لپاره بېلابېل ډول اساسي تجهیزات او د ارتیا وړ وسایل لکه: شاخ پرې کوونکی، زینه او د وسایل بکس) د حاصلاتو د را ټولولو په موخه برابر شوي دي.

زیات شمېر بزګران تشویق شوي دي، تر څو د تولیدوونکو د بازارموندنې ډلو په جوړولو له یو بل سره همکاري وکړي. تر اوسه ۷۰ د تولیدوونکو د بازارموندنې ډلې رامنځته شوي چې په هره ډله کې له ۳۰۰ تر ۴۰۰ بزګران غړیتوب لري. دغه جوړښت بزګرانو سره مرسته کوي، څو له باندنیو مرسته کوونکو سرچینو ځخه په اعظمي توګه ګټه پورته کړي او خپل محصولات په آسانتیا سره بازارونو ته انتقال کړي.

په مجموعي ډول دممیزو دوچولو له پاره ۱۶۰۰ ځانګړې خونې جوړې شوي دي، چې لکښت يې دخلکو دوندې اخیستنې له لارې پوره شوی دی. دممیزو دغه خونې دانګورو دضایع کیدو مخه نیسي او بیا وروسته دممیزو دکیفیت دښه والي سبب کیږي.

دمالدارۍ په برخه کې ددې پروژې فعالیت دچرګانو فارمونو په پیاوړتیا، حیواني روغتیا او پراختیايي خدمتونو باندې تمرکز لري. ددې ترڅنګ دساحو دمالدارۍ فعالیتونه، لکه: دکبانو دفارمونو ښه والی او لبنیاتو تولیدات هم ترپوښښ لاندې راولي.

د بروسیلوزس د کنټرول ملي پروګرام د پلي کولول په پایله کې، ۲.۵ میلیونه غواګانې او ۱۳.۵ میلیونه میږې او وزې د هېواد په ۳۶۰ ولسوالیو کې واکسین شوې دي. د پروژې د پایلو له دوام ځخه د اطمینان د ترلاسه کولو لپاره، د دغې پروژې د چارو مسوولیت د وخت په تېریدو سره د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت د حیواني روغتیا ریاست ته سپارل کېږي.

تر اوسه پورې له ۲۰۵۳۶۰ تنو څخه زیاتو بزګرانو (چې له دې جملې څخه ۱۳۶۰۸۸ تنه بزګراني ښځې او ۶۹۲۷۲ تنه نارینه بزګران دي) ترملاتړ لاندې نیولی دي، چې دا شمیر په ګروپونو تنظیم شوي دي. په دې ګروپونو کې دچرګانو دتولید فارم لرونکی هم شامل دي، چې دمالدارۍ او حیواني روغتیا له خدمتونو ګټه اخلي. همدارنګه دغه پروژه ، نورو ساحو ته دخدمتونو دپراخولو له لارې دروغتیايي او حفظ الصحه فعالیتونو دښه والي له پاره دکرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت له اړوندو ریاستونو سره همکاري کوي.

د بنوالۍ او مالدارۍ د ملي پروژې فعالیتونه د

د ولسي ټرون د لومړي پراو له تطبیق څخه ټمه کیږي، چې لاندې پایلې ترلاسه شي:

- د نغلو د ۵۰ میګاواټه داوبو بریښنا رغول ، چې اوس فعاله نه ده. دغه کار به دلومړي واحد دبیارغونې او د دریم واحد له کتنې او څېړنې وروسته ترسره شي.
- ترپنځو کالو پورې دبریښنا بند ساتنه او ځارنه او دعادي فعالیتونو ښه والی.
- دبریښنا بند دساتنې، ځارنې او ورځنه کار اخیستنې له پاره دکارکوونکو دظرفیت لوړول.
- د بریښنا له شبکې سره د دې پروژې شاوخوا استوګنو نښلولو او دوی ته د بنوالۍ او مالدارۍ پروژې د روزنیزو خدمتونو (چرګوړو پاللو، کوچنیو کروندو او باغونو جوړولو خدمتونه) برابرول.
- د نغلو اوبو بریښنا بند دبیارغونې پروژې دمصؤنیت او امنیتي اقداماتو ښه والی.
- د درونټې د اوبو برېښنا بیا رغونه د خپل بشپړ تولیدي ظرفیت په اندازه.

د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا د ملي پروګرام له لارې په ښځې د افغانستان په ګوټ ګوټ کې د لوست، کارویاري مدیریت او کاري مهارتونو په برخو کې روزنې ترلاسه کې، او مالي خدمتونو او بازارونو ته به لاسرسی ومومي، چې له دې سره به ښځې له ټولنیز او اقتصادي پلوه ځواکمنې شي.

لګښتونو د شریکولو په اساس او بنسټ دی او داسې هیله اوتوقع کیږي، چې د افغان بزګرانو مشارکت د ۲۸،۲ میلیونه ډالرو په اندازه وي، چې د خدمتونو او ترلاسه شویو موادو (اصلاح شوي تخمونو، سره ، وسایل او نور...) بیه یا قیمت تشکیلوي.

د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا ملي پروګرام

۵ میلیونه ډالره وړیا مرسته

د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا ملي پروګرام موخه اوهدف د اقتصادي سرچینو او منابعو ته دلاس رسۍ له لارې د ښځو خپلواکۍ، استقلالیت او روغتیا د ادارو ښه والی دی.

د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا ملي پروګرام د کار او ټولنیزو چارو په وزارت کې د پروژې د یو همغږي (هماهنګ) کوونکي دفتر له خوا رهبري کیږي. دغه دفتر لاندې شپږو سرتاسر رکنونو کې دښځو د اقتصادي ځواکمنتیا د ملي پروګرام د فعالیتونو د څارنې مسوولیت په غاړه لري: (۱) په جنسیت پورې اړوندو او مربوطو احصائیو موجود زیاتوالی (۲) د ښځو د حضور په وړاندې د حقوقي موانعو او خنډونو حذفول (۳) دلیک لوست زده کړې (سواد آموزي) د سوداګرۍ مدیریت او حرفوي مهارتونو زده کړې او تعلیمات (۴) مالي چارو ته د لاس رسۍ زیاتوالی (۵) د کرنیز تولید عواملو ته لاس رسي، د ترویج او بازارونو خدمتونه (۶) خلاقو او نوښتګرو اقتصادي بازارونو ته لاس رسی.

دغه درې کلنه وړیا مرسته په درې برخو کې د پروژې د طرحې او چمتو کولو له پاره ده : (۱) د پروګرام همغږي او مدیریت (۲) په سکتورې وزارتونو کې، چې د ښځو د اقتصادي ودې فعالتیونه ترسره کوي د تخنیکي خدمتونو برابرول او د ظرفیتونو لوړول، داروندو تحلیلي کارونو ترسره کول او (۳) د ښځو د اقتصادي فعالیتونو او نوښتونو او خلافیت څخه د ملاتړ په منظور د بودجې رامینځته کول او په کار اچول.

سره له دې چې د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا ملي پروګرام په پیل کې لږ سست و، د دې پروګرام د مرستې لپاره د پروژې د چمتووالي په مالي ملاتړ کې د پام وړ زیاتوالی راغلی. د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا ملي پروګرام سکرتریت ښه فعال دی او ټول کلیدي پوستونه یې ډک شوي دي. دېرې وزارتونو د ښځو د ځواکمنتیا د ملي لومړیتوب پروګرام په کاري پلانونو او اهدافو موافقه د پروګرام لپاره د ځارنې او پایلو چوکاټ جوړ شوی خو لا تر اوسه د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا ملي پروګرام د اجرایوي کمېټې لخوا نه دی منظور شوی. اجرایي کمېته او تخنیکي کاري ډلې منظمې ناستې کوي.

د هېواد په کچه د پروګرامونو د ارزونې، چې د ۲۰۱۹ کال په فبروري کې تر سره شوه، د سپارښتنې او د افغان دولت د غوښتنې له مخې به د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا ملي پروګرام چارې له کار او ټولنیزو چارو وزارت څخه مالیې وزارت ته انتقال شي.

د چارو د انتقال منطق درې دلایل لري: ۱) افغان دولت، نړیوال بانک او نور پراختیایي ملګري غواړي دا باوري کړی چې د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا ملي پروګرام د هېواد په پراختیایي اجندا کې د یوې اصلي برخې په توګه پاتې شي، او په دې موخه باید دا د مالیې وزارت په اصلي بودیجه کې مدغم شي؛ ۲) دا پروګرام به د مالیې وزارت تر چتر لاندې په هغو ځایونو کې، چې په وزارتونو کې د بودیجې جوړولو په پروسو کې د نتایجو پر بنسټ پلانونې ته اداري ارتیا موجوده وي، ستړي اجرایوي اغېزې ولري؛ ۳) په مالیې وزارت کې د ملي لومړیتوب لرونکو پروژو د همغږۍ ریاست (چې د مالي چارو د ملاتړ پروژې لخوا ټمویلېږي) تاسیس شوی دی، چې د پروژې د همغږۍ دفتر به پکې ځای پر ځای شي. دې ریاست د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا ملي پروګرام په پیل کې شتون نه لره. ټمه ده چې دا انتقال به د ۲۰۱۹ کال د اکتوبر تر پایه بشپړ شي.

یادښت: په دې سند کې ټول ډالرې ارقام او شمیرې له امریکایي ډالرو سره برابر دي.

د نړیوالې پرمختیا اداره (*IDA*)، دنړیوال بانک ګروپ دوړیا مرستو او بې ګټې پورونو دبرابرولو برخه ده.

په افغانستان کې د نړیوال بانک ګروپ

عبدالروف ضیاء

تلیفون: ۰۹۳۷۰۰۱۳۳۳۲۸+

INFOAFGHANISTAN@WORLDBANK.ORG

۲۳۸ نمبر کور، ۱۵ سړک، وزیر محمد اکبر خان، کابل، افغانستان

www.worldbank.org.af

http://facebook.com/WorldBankAfghanistan

http://twitter.com/WorldBankSAsia

انځورونه، د رومي مشورتي خدماتو مرکز/نړیوال بانک/۱۳۹۶

نړیوال بانک، وری ۱۳۹۸